خوري او له بېوزلوسره خيانت وکړي . يوحکيم داسې وايي : له هغه چا څخه ووېرېږه چې ستا په مقابل کې د هغه مرستندوی الله پاک وي . موږ ته تاريخ د پخوانيو قومونو ژوندی بېلګي ساتلي چې د ظالمانوپايلي څه رنګه وې ؟

عامربن الطفيل رسول الله (ﷺ) ته د مرګ لاره جوړووي، رسول الله (ﷺ) ورته خيرا کوي، نوالله تعالیٰ هغه د ستوني په دانه اخته کوي، له درد څخه چغې وهي اوپه هماغه ساعت مړکيږي ."اربد بن قيس"پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) ځوروي اود هغه مبارك د وژلوهڅه کوي، پيغمبر(ﷺ) ورته خيرا کوي، نو الله تعالیٰ هغه او اوښ يې دواړه په تندر باندې سوځوي . حجّاج بن يوسف ثوشپېې مخکې له دې چې سعيد بن جبير(رحمه الله) په شهادت ورسوي، نوسعيد ورته خيرا کوي : ای الله ! ته خو يې له ما څخه وروسته په بل هيڅ چا برلاسی نه کړې، نوحجّاج په لاس کې په يو ناسوراخته شو چې بيا يې په ټول ځان کې خپورشو، دهماغه درد له امله به يې د غوايي په شان رمبارې وهلې او په پای کې له افسوس نه په ډک حالت کې مړشو . سفيان الثوري (رحمه الله) له ابوجعفرالمنصور څخه په حرم کې پټ شو، ابوجعفر ورپسې د مکې حرم ته ورروان شو، سفيان ثوري پورته شو د کعبې پوښ يې ونيوه اوالله (ﷻ) ته لاس په دعاء شو، چې ابوجعفر بيت الله ته دننه نه کړې، همداسې وشول، ابوجعفرمخکې له دې چې مکې ته داخل شي د ميمون کوهي سره نژدې مړشو .

احمد بن ابي داود چې معتزلي قاضي و د امام احمد بن حنبل ځورونه کې يې ګډون کاوه، بيا ورته امام احمد خيرا وکړې، چې په پايله کې هغه د ګوزڼ په ناروغی اخته شو، هغه وايي : زما نيم بدن داسې دی چې کله پرې يو مچ کښېني، نو زه وايم چې راباندې قيامت شو او نيم بدن مې داسې دی که هغه په قيچيګانو پرې هم شي، نوهيڅ پرې نه پوهيږم . امام احمد بن حنبل "ابن الزّيات" ته چې وزير و خيرا کوي، پرهغه باندې الله تعالیٰ يوشخص برلاسی کوي، ابن الزّيات د اور بټۍ ته وراچوي او پر سر ورته مېخونه وهي . د جمال عبد الناصر په زندان کې حمزة البسيوني مسلمانان سخت زوروي، او په يوه دردوونکې کلمه کې مسلمانانوته داسې وايي : ستاسوالله چېرته دی چې په اوسپنو کې يې کېږدم ؟ الله (ﷻ) د ظالمانو له ويناوو څخه ډېرلوړ دی، نو الله (ﷻ) د دغه ظالم موټرچې خپله په کې ناست و او له قاهرې څخه اسکندريې ته روان و له يوې بار وړونکې لارۍ سره چې اوسپنه يې بارکړې وه ټکرکړ، د اوسپنې يو سيخ دده په ککره کې ننوته او له کولموڅخه يې ووته، کله چې خلکو ورڅخه د سيخ راويستلو کوښښ وکړ، نو پرته له دې چې دا سيخ ټوټه ټوټه کړي بله چاره نه وه .

﴿ فرعون او لښکريې په ځمکه کې په ناحقه لويي وکړه اوهغوی گومان کاوه، چې موږ ته به بېرته نه راځي ﴾. القصص۲۸:۳۹

﴿عاديانو وويل، څوك له موږ څخه ډېر قوي دی، الله وايي: اياهغوی نه گوري هغه الله چې دوی يې پيدا کړي، له دوی څخه ډېر زيات زورور دی﴾.فصّلت ۴۱:۱۵

همدا راز "صلاح نص" چې د جمال عبدالناصر له قومانداناانو څخه و ډېرتېري اوفسادونه يې کړي وو، په پای کې هغه له لسوځخه په زياتو داسې ناروغيو اخته شو، چې دهمدغو ناروغيو له امله څوکاله وکړېده، تر پايه يې هېڅ درمل پيدا نه شو، په پای کې د خپلوهغو بادارانو په زندان کې په سپک حالت کې مړشو، چاته يې چې خدمت کاوه. ﴿ فرعونيان هغه څوك وو، چې په سيموکې يې سرکشي وکړه او په همدې ځمکه کې يې ډېرفسادجوړکړ، نو الله تعالی پرهغوی باندې دردناك عذاب راښکته کړ﴾. الفجر ۸۹ : ۱۰-۱۳

***

## د مظلوم خبرا

ابراهيم التيمي وايی : پرما باندې چې څوك ظلم کوي زه پرې رحم کوم . له نېك سړي څخه څه نغد مال غلا شوی و، نو په ژړا شو، فضيل بن عياض ورڅخه وپوښتل ولې ژاړې ؟ هغه وويل په ياد مې شول چې له دغه غله سره به الله تعالی ما د قيامت په ورځ يوځای کوي، نو په غله مې رحم راغی او ومې ژړل. چا د يوعالم سړي غيبت وکړ، نوهغه عالم ورته خورما ورکړه او ويې ويل دا ځکه چې ده له ما سره ښېگڼه کړې ده . ( يعنې زما غيبت يې کړی نواخرت کې به خپلې نېکی راکوي ) . زباړن .

***

## ما وويل دروازه کې زه يم

په نيويارك کې د ملگروملتونوپه دفترکې پريوه لوحه باندې د نړېوال شاعرسعدي شيرازي يوه ښکلې شعري ټوټه ليکل شوې وه او په انگليسي هم ژباړل شوې وه ، وروړلی اوميني ته په کې بلنه شوې وه : ماته مې دوست هغه مهال چې زه يې د ليدو په نيت کورته ورغلم ،په دروازه کې وويل:څوك يې؟ ما ورته وويل، زه يم، هغه راته وويل : تا د مينې پېژندگلوي ناسمه وکړه، ځکه

چې تا د ځان او زموږ په منځ کې توپیروکړ. یو کال وروسته بیا ورغلم د روازه مې په ورو ورو وټکوله، هغه راته وویل : ته څوك يې ؟ ما وویل ته وګوره دلته په دروازه کې له تاپرته بل هېڅوك نشته )، هدف يې دا وچې زه ته او ته زه یم ) هغه راته وویل : اوس دې د مینی اومحبت پېژندنه سمه وکړه، مینه دې وپېژنده، نو راننوځه ای هغه څوکه چې - ویل دې - زه یم.

هربنده ته دیوه داسې ګټور ورورشتون ضروري دی چې ورسره مینه کوي، ورسره په راحت کې وي، ورته خوشحاله شي او له هغه سره په خوشحالۍ او خفګان کې شریك وي . ﴿ موسی (علیه السلام) له الله تعالٰی څخه غواړي چې ای الله ماته زما له کورنۍ څخه یو مرستیال وټاکه چې هغه زما ورور هارون دی، زما ملا پرې کلکه کړه، له ما سره يې په پیغمبرۍ کې شریك کړه، په دې خاطرچې ستاډېره ستاینه او یادونه وکړو﴾. طٰه ۲۰:۲۵-۳۴

شاعر وایی : پرته له دې چې ته دغمیزې پرمهال خپلوانوته د زړه خفګان وڅیرې بله چاره نشته، ترڅوهغه درسره مرسته وکړي یا تسلي درکړي او یا درسره ودردېږي .

﴿ ځینی مومنان د ځینو نورو دوستان دي ﴾. التّوبه۹:۷۱

﴿ لکه چې دوی کلك شوی دیوال وي ﴾. الصّف۶۱: ۴

﴿ د مسلمانانو زړونه يې یو له بل سره ونښلول﴾. الانفال۸:۶۳

﴿ بېشکه مؤمنان پخپلو کې ورونه دي﴾.
الحجرات۱۰:۴۹

***

## بې ملګري چاره نشته

د نېکمرغۍ یولامل دا دی چې ته داسې یو ملګری ولرې، چې دهغه ملتیا تاته ګټه درورسوي اوملګرتیا يې تا نېکمرغه کړي . الله (ﷻ) په قدسي حدیث کې وایي : (( زما د لویوالي په بیانولوکې دوستان چېرته دي چې نن يې زه ترخپل سوري لاندې کړم، نن داسې ورځ ده چې زما له سوري پرته بل سوری نشته)) .

(( بل هغه دوه کسان به دالله تعالٰی د عرش تر سیوري لاندې وي، چې

هغوی په خپل منځ کې د الله تعالیٰ له پاره دوستي کوي، په همدې مينه سره يوځای او په همدې لاره کې سره بېل شي )) .

***

## امن يوه عقلي اوشرعي غوښتنه ده !

﴿هغه کسانوله پاره چې خپل ايمان يې له شرک څخه پاک ساتلی وي د هغوي له پاره امن دی او همدغه کسان لارموندونکي دي﴾ . الانعام۶: ۸۲

﴿ الله هغه ذات دی چې دوی يې له لوږې ژغورلي او له وېرې څخه يې ډاډمن کړي دي﴾. قريش ۱۰۶: ۴

﴿ ايا موږ دوی ته (حرم) د امن ټاټوبی نه دی ګرځولی﴾. القصص۲۸:۵۷

﴿ هرڅوک چې حرم شريف ته ننوځي په امن کې به وي ﴾. آل عمران۳: ۹۷

﴿ بيا يې ډاډمن ځای ته ورسوه ﴾. التّوبه ۹:۶

نبوي وېناده : (( څوک چې د شپې په خپل کورکې ډاډه ويده شو، په ځان روغ و او د هماغې ورځې خواړه ورسره وو، نو داسې ده لکه چې دنيا ورته ټوله ورکړل شوې ده )) .

د زړه امن : ايمان او د هغه ټينګېدل د حق په پېژندلواو پريقين باندې له ډکېدو څخه عبارت دی .

د کورامن : له انحراف ـ کږې لارې ـ څخه ځان ساتل او له بدو کارونو څخه لرې والی، په ارامتيا باندې ډکوالی او له الٰـهي لارښوونو سره سم هدايت ترلاسه کول دي .

د اُمت امن : په محبت سره دهغوی راټولېدل اوپه عدل اوشريعت باندې ودرېدل دي، خو وېره د امن دښمنه ده . ﴿ موسیٰ له مصرڅخه په داسې حال کې د باندې ووته، چې وېرېده او د د ښمن ترڅار لاندې هم و﴾ . القصص ۲۸ :۲۱

﴿ که تاسو مؤمنان ياست، نو له هغوی څخه مه وېرېږئ او له ما څخه ووېرېږئ ﴾. آل عمران ۳: ۱۷۵

ډارن انسان ډاډمن نه وي، همدا راز د ملحد ـ له رب نه منکر ـ له پاره هم امن نشته او ناروغ انسان ژوند نه لري . شاعروايي: بېشکه ژوند خو روغتیا او قناعت دی او که دا دواړه شیان له ژوندڅخه ولاړل، نو ژوند له منځه تللی دی . قسم دی چې دنیا څومره بده ده، که یو اړخ یې جوړ، نوبل یې وران شي، کله چې مال راشي بدن ناروغه شي او کله چې بدن جوړشي غمیزې راشي او که حالت ښه اوکارجوړشي، نو بیا مرګ راشي .

عربي شاعر" اعشیٰ" غوښتل چې مسلمان شي، نو له نجد څخه د رسول الله (ﷺ) د لیدو له پاره راروان و، چې په خپله شعري قصیده کې یې د (ﷺ) ستاینه کوله، په لار کې ابوسفیان ورته مخې ته ورغی هغه ته یې سل اوښان د دې له پاره ورکړل چې دا خپل سفر پرېږدي او خپل ځای ته بېرته وګرځي، شاعر"اعشیٰ" ورسره خبره ومنله، خوکله چې پریوه اوښ سپورشو چې بېرته خپل کورته وګرځي، نو اوښ په خېزونو شو اوهغه یې راوغورځوه، ورمېږ یې تاو شو او په بې دینۍ کې مړ شو، خوهغه قصیده یې چې د محمد (صلی الله علیه وسلم) په صفت کې ویلې وه ډېره ښایسته وه چې په لاندې ډول ده .

کله ځواني، کله بوډا توب، کله نېستي او کله شتمني وي، د الله په خاطر دا وخت لا څرنګه بدلیږي؟ !! که تا (د آخرت) د سفرله پاره د پرهېزګارۍ په څېرتوښه له ځان سره وانخیسته اوله مرګ څخه وروسته له هغه چا سره مخامخ شوې چې هغه دا توښه درلوده، نو ـ هغه مهال به ـ ته پښېمانه شې چې ولې ته هم د هغه په څېرنه یې، او ولې تا هم دهغه څه له پاره ځان نه وه تیارکړی، د کوم له پاره چې هغه بل کس تیاری نیولی و .

***

## له منځه تلونکي ویاړونه

د ریښتیني نېمکرغۍ له اړتیاوڅخه یوه دا ده چې نېکمرغي باید تل او بشپړه وي . په کارده چې دغه نېکمرغي په دنیا او آخرت، پټ اوښکاره، نن اوسبا ټولو کې پرته وي او د نېکمرغۍ بشپړتیا په دې کې ده چې په بدمرغۍ او خړ مزاج ورانه نه شي . د عراق پادشاه نعمان بن منذر یوه ورځ د یوې ونې لاندې د وخت تېرۍ له پاره کښېناست، شراب یې څښل، بیا یې "عدي بن زید"چې یوحکیم و ځان ته د دې له پاره راوغوښت چې نصیحت ورته وکړي، نوهغه ورته داسې وویل : ای پادشاه صاحبه ! ته پوهېږې چې دا ونه څه وایي؟

پادشاه وویل څه وايي؟ عدي وويل، ونه وايي : دېرداسې کاروانونه زما چاپېره پنډ شوي، چې شراب به يې له خوړو اوبو سره يوځای څښل ،بيا زمانې پرهغوی لوبې او ناکوبې وکړې، زمانه په همدغه ډول يوشان او بل شان کېږي . د دې خبرې له اورېدو سره سم نعمان شراب څښل پرېښودل، ځکه چې پرې بد ولګېدل، همداسې په خراب حالت کې و چې بيا مړشو . د ايران پادشاه د فارسي دولت دوه نيم زريزه کليزه لمانځله اوغوښتل يې چې خپل واک ته لا پراختيا ورکړي . په پای کې هغه له خپلې پاچاهي ماڼيو او دنيا څخه شړل کيږي او په داسې حالت کې مري، چې خلك يې له خپل کوره وباسي او له داسې محروميت او بدې پايلې سره مخ کيږي چې څوك پرې ژړا هم نه کوي . ﴿ يا الله چاته چې ستا خوښه شي واکمني ورپه برخه کوی، اوچاته چې دې خوښه شی واکمني ترېنه اخلی ﴾. آل عمران۳: ۲۶

﴿ دېرباغونه، چېنې، کښتونه، ښايسته مقامونه اوهغه نعمتونه چې دوی په کې مزې کولې ترېنه پاتې شول﴾ . الدّخان ۴۴:۲۵-۲۷

"شاوشيکو" د روم ولسمشرچې دوه ويشت کاله يې واکمني وکړه، اويا زره يې يواځې ځانګړي ځان ساتونکي وو، بيا يې ملت ورپسې راپاڅېده، راګېريې کړ او له فوځ سره يې ټوټې ټوټې کړ . ﴿ د الله له ذات پرته هېڅ يوې ډلې ورسره مرسته نه شوه کولای اوپه خپله يې هم ځان نه شوخلاصولای﴾. القصص۲۸:۸۱ (هغه ولاړ، په دنيا اوآخرت کې زيانمن شو) .

د فلبين ولسمشر "مارکوس" رياست او مال راټول کړ، خوخپل قام يې په ډول ډول سپکاوي اخته کړ، خو الله تعالٰی هغه ته هم ببلابېل عذابونه او بدمرغۍ ورپه برخه کړې، په پای کې له خپلې واکمنۍ، کورنۍ او ټاټوبي څخه داسې وشړل شو، چې د پناه ځای يې هم نه درلود، په بدبختۍ سره مړشو، تردې پورې چې خپل ملت يې ورته په فلبين کې د خښېدلو اجازه هم ورنه کړه .

﴿ آيا الله د هغوی چل سپک ورک نه کړ﴾.الفيل ۱۰۵:۲ ﴿ الله هغه د آخرت اوهم ددنيا په عذاب ونيوه ﴾.النّازعات۷۹:۲ ﴿ موږ هريو په خپله ګناه ونيوه ﴾. العنکبوت ۲۹:۴۰

***

## نېکمرغه ژوند په ښېګڼوکې نغښتی دی

کوم انسان چې نېکمرغي، سوکالي او هوساینه غواړي، نو ښو کارونو ته دې مخه کړي، بلکې د ښایسته خویونو او ښوکارونو په لور دې بیړه وکړي . رسول الله (ﷺ) وایي : ((هغه کارچې تاته ګټور وي پرهغه ټینګارکوه او له الله پاک څخه مرسته غواړه )). یوصحابي په جنت کې له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره ملګرتیا غواړي، نو(ﷺ) ورته وویل : (( له ماسره د یوځای اوسېدو له پاره په ډېرو سجدو کولو زما مدد وکړه (زما لاره ټینګه کړه)، ځکه داسې یوه سجده نشته چې ته یې الله ته وکړې، مګرپه هره سجده درته الله تعالٰی یوه درجه - پوړۍ - لوړوي .بل صحابي ورته وایي چې د خیرراتولوونکي دروازه کومه ده؟ ځواب کې ورته وایي (( ستا ژبه دې هرمهال د الله (ﷻ) په ذکر لمده وي . یعنې الله (ﷻ) همېشه یادوه . دربیم صحابي ورڅخه پوښتنه کوي، دهغه ځواب کې وایي : (( چاته کنځلې مه کوه، مه څوك په خپل لاس وهه اوکه تاته چاهغه څه په کنځلوکې دریاد کړل چې په تا کې موجود وي، نوته ورته کنځلې مه کوه آن که ته یې دهغه په ځان کې ګورې, اوهېڅکله د نېکۍ کار بې ارښته مه ګڼه آن که د اوبو غوښتونکي په لوښي کې ته له خپلې بوقۍ څخه اوبه هم ورواچوې )). بېشکه چې خیربیرې او ځغاستې ته اړتیا لري . لاندې دوه حدیثونه اشاره کوي :

١ : (( د فتنوله راتلوڅخه مخکې له مخکې نېك عملونه وکړئ)).

٢ : (( پنځه شیان مخکې له پنځو شیانوڅخه غنیمت وګڼه )).

﴿ د خپل رب د بخښنې او دهغه د جنت د ترلاسه کولو له پاره یو له بل څخه مخته شئ او وځغلئ﴾. آل عمران٣: ١٣٣

﴿ بېشکه چې هغوی په ښېګڼوکې تلوارکوونکي خلك وو ﴾. الانبیاء٢١: ٩٠

﴿ اومخکیني خو لومړني دي ﴾ . الواقعه٥٦: ١٠

خیرپه کارکې بې پروا مه اوسه . شاعر وایی : انسان ته د زړه ټکانونه داسې وایي چې بېشکه ژوند څودقیقي اوڅوثانیې دی . ﴿ دجنت ګټلوله پاره دې سیالي کوونکي باید سیالي وکړي﴾. المطففین٨٣: ٢٦

کله چې عمربن الخطاب (رضي الله عنه) په توره ووهل شو او وینو یې داره وهلې، په دغه وخت کې یې یوځوان ولید چې پرتوګ یې په ځمکه څښېده، نو عمر(رضي الله عنه) ورته وویل: ای وراره ! پرتوګ دې پورته کړه، بېشکه دا

کارستا د رب په وړاندې د ډېرې تقوا نښه اوستا د لباس له پاره پاکي ده . د مرګ په وخت کې هم عمر(رضي الله عنه) دنېکۍ په کارامرکوي . ﴿ که څوك غواړي چې د نېکۍ کارکې مخکې شي، نو وړاندې دې شي او که څوك غواړي چې وروسته شي نو ورسته دې شي ﴾. المدّثر۷۴:۳۷

نېکمرغي خو نه په ډېرخوب او نه دخير له کارونو څخه په لرېوالي لاس ته راځي . ﴿ خوالله پاك جهاد ته دهغوی تګ بد وګڼل، نوځکه يې سست اوځای پر ځای کړل او ورته وويل شول چې له ناستوکسانوسره کښېنئ﴾. التّوبه ۹:۴۶

د ټيټ همتو او پرېوتو نفسونو دخاوندانومنطق دا وايي چې : ﴿ جهاد ته په ګرمۍ کې مه ځئ ﴾ . التوبه ۹:۸۱ ﴿ منافقينو به ويل که دا مجاهدين له موږ سره پاتې وی، نو نه به مړه شوي او نه به وژل شوي وای ﴾. آل عمران۳:۱۶۸

حال دا چې بنده د قرآن په رڼاکې له ښوکارونوڅخه په شاتګ کې منع شوی دی . ﴿ پرتاسو څه شوي، چې کله درته د الله په لارکې د وتلوخبره وشي تاسو د ناستی له پاره زور کوئ ﴾. التّوبه۹: ۳۸

﴿ ببشکه چې له تاسوڅخه ځينې خلك جهاد ته په تګ کې سستي کوي﴾ النّسآء۴:۷۲

﴿ خوهغه د ځمکې په لور زور وکړ ﴾. الاعراف۷:۱۷۵

﴿ آيا زه له دې نه هم کم يم چې ددغه کارغه په شان شم﴾. المآئده۵:۳۱

﴿ دا ځکه چې دوی د دنيا ژوند پرآخرت باندې غوره وګڼه ﴾.النّحل۱۶:۱۰۷

﴿ په خپل منځ کې شخړه مه کوئ، چې ناکامه کيږئ﴾. الانفال۸:۴۶

﴿ منافقان چې کله لمانځه ته پاڅيږي نوسست جګيږي﴾ . النّسآء۴:۱۴۲

(( ای الله ! زه له تمبلۍ څخه پرتا پنا غواړم)) . الحديث

(( زيرک انسان هغه دی چې خپل نفس ته څه پور ورکړي، له مرګ نه وروسته د ځان له پاره کار وکړي او ناتوانه انسان هغه دی چې د خپل نفس په غوښتنو پسې روان شي او له الله تعالٰی څخه ډول ډول هيلې اوارزوګانې کوي )).

***

## تلپاتې ژوند اونعمتونه دنیا کې نشته،آخرت کې دي

ایا ته غواړې چې ځوان، شتمن، روغ او د تل له پاره ژوندې اوسې ؟ که داسې غواړې نو په دنیا کې نه بلکې په آخرت کې شته، الله تعالی د دنیا په ژوند بدبختي او فنا کېدل مقررکړي او په بېځایه وخت تېرې، مستی او غولوونکي سامان باندې یې نومولي ده . یوشاعرد خپلې ځوانی د جوش پرمهال ډېرنېستمن اومفلس و، د ه به درهم غوښتل خوهغه یې نه شو موندلی، ښځه یې غوښته خو په لاس نه ورتله، خو کله چې زوړ او سر یې سپین شو، هډوکي یې نرم شول، نو له هر لوري څخه ورته مال راغی، د ښځې کولو خبره یې اسانه او د کورڅښتن هم شو، بیایې په آه او افسوس سره دا ناسم حالت په شعر کې داسې بیان کړ: هغه څه چې ما یې په شل کلنی کې ارمان درلود وروسته له هغې مې تر لاسه کړل، چې زه له اویا کلنی څخه واوښتم، شاوخوا مې ښکلې ترکی پېغلې تاوېږي راتاوېږي، دوی داسې دي ګواکې د "یبرین" سیمې په غونډیوچې هوسۍ ناستې وي، هغوی راته وویل، چې ټوله شپه ستا زړېږوي موږ بې خوبه کوي، څه تکلیف دی چې ته ورڅخه فریاد کوې ؟ ما وویل اتیا کلنی په زړېږوکړی یم .

﴿ ایا تاسوته مې دومره ژوند درکړی نه و،چې چا په کې پند اخیستی وای، په داسې حال کې چې تاسوته - له اوره - وېرونکی هم راغلی و نو چا پند واخیسته﴾. فاطر۳۷:۳۵ ﴿هغوي داسې ګومان کاوه چې موږ ته به بېرته نه راستنیږي﴾. القصص۳۹:۲۸ ﴿ د دنیا ژوند پرته له وخت تېرې او لوبوڅخه بل څه نه دی ﴾.العنکبوت ۶۴:۲۹

د دنیا د ژوند مثال داسې دی لکه یو مسافر- لاروی- چې د یوې ونې سیوري لاندې کښېني اوبیا ترې روان شي .

***

## د الٰـهي قانون دښـمنان

ما د ملحدانو- د الله له ذات نه منکر- او د هغوکسانو چې د الٰـهي قانون مخنیوي کوي شعري اونثري کتابونه ولوستل او دهغوی- بېلارو- بې معنا خبرې مې ولوستی، د هغوی خبرې په ځمکه کې له الٰـهي قانون یا تګلارې سره دښمني وه، د دوی کمزورې خبرې مې لوستلي دي، چې په زشت او ببر ډول په کې دحق په بنسټونواو الهې لارښوونوتېری څرګندېده او د خبرو داسې سپکه ډېری مې هم

ومونډله، چې دوی پرې خپلې خولې خوځولې وې او د دوی داسې بې ادبي او بې حیایي مې هم په کې ومونډله، چې انسان پرې شرمیږي، چې هغه ولیکي او هغه وینا او ترانې نورو ته ورنقل کړي . نو پوه شوم چې کوم انسان بې بنسټه او له رسالت څخه بې پروا وي، نو هغه بیاپه څلورو پښو روان وي خو د انسان پوستکی وربانديې وي او د سړي په شکل کې ځناور دی . ﴿ آیا ته دا ګومان کوې چې دهغوی ـ بې دینه ـ خلکو ډېره برخه اوري او یا پوهیږي؟ نه ! هغوی د څارویو په شان دي، بلکې له هغوی نه هم ډېر بېلاري دي﴾. الفرقان۲۵:۴۴

په داسې حال کې چې کتاب مې لوسته له ځانه مې وپوښتل، دا خلك به څرنګه خوښي او نېکمرغي ومومي حال دا چې دوی له هغه الله نه مخ ګرځولی د چا په لاس کې چې خوشحالي ده اوچاته یې چې خوښه وي ورکوي یې؟ څرنګه به دوی نېکمرغه شي، په داسې حال کې چې خپلې اړیکې یې له الله (ﷻ) سره شکولې او د خپلوناروغو ځانونو او د الله تعالی د پراخ رحمت ترمنځ یې دروازې تړلې دي څرنګه به نېکمرغه شي په داسې حال کې چې الله (ﷻ) یې په قهرکړی دی؟ څرنګه به دوی خوښ شي په داسې حال کې چې له الله سره یې جګړه روانه ده ؟

نو دې پایلې ته ورسېدم، چې که دا خلك توبه ګار نه شي، دوی به د جهنم له عذاب څخه وړاندې په دنیا کې هم په عذاب اخته کیږي چې دا به د آخرت د عذاب پیلامه وي، یعنې د بدبختی، ناقراری، زړه تنګی، د پرېوتلو اوناکامۍ عذاب. ﴿ څوك چې زما له ذکر ـ قرآن ـ څخه مخ واړوي، نو د هغه له پاره به دنیا کې تنګ ژوند وي ﴾ . طٰه۲۰:۱۲۴

د دوی دا بدمرغي تردې کچې رسېدلې ده، اکثره یې دا ښه ګڼي چې دا نړۍ نوره ختمه شي، ژوند پای ته ورسیږي، دنیا دې ونړیږي اوخپل ژوند له لاسه ورکړي . دېخوانیو او اوسنیوملحدینو ترمنځ ګډه نقطه او ورته والی له الله تعالٰی سره بې ادبي، له اصولو او عقیدی سره ناسم چلند، په راکړه ورکړه کې د بېعقلۍ تکلاره غوره کول، له پایلوڅخه غفلت، په خبرو، لیکنو او کارونو کې بې پروایي ده .

﴿ ایا د هغه مسجد د بنسټ ډېره چې د تقوا او الٰهي رضامندۍ په موخه اېښودل شوې وي، هغه به غوره وي که هغه مسجد چې بنسټ یې د دوزخ د کندې پرغاړه اېښودل شوی وي اوبیا وروسته له هماغې لارې دوزخ ته ولوېږي؟ بېشکه چې الله تېري کوونکي قوم ته لاربنوونه نه کوي﴾. التّوبه ۹:۱۰۹

د دغوملحدينو له پاره چې له غمونو او اندېښنو څخه بچ شي پرته له توبې ويستلواو سمې لارې ته له راګرځېدلو بله لاره نشته، که نه نوهرومرو به ځانوژنه غوره کوي اودا تريخ ژوند به ختموي. ﴿ورته ووايه له قهره مړه شئ﴾. آل عمران۳:۱۱۹

﴿خپل ځانونه ووژنئ،همدا کارتاسوته د خپل رب په وړاندې غوره دی﴾.البقره۲:۵۴

***

## د دنيا حقيقت

د نېکمرغۍ تله په الٰهي کتاب کې شته او معيارد ټولوشيانوهماغومره ده، چې په قرآن کريم کې بيان شوی دی . ﴿ که دا- خطر- نه وی، چې ټول خلك به له اسلام نه کفر ته په اوښتلوکې يو لورته روان شي، نوموږ به د هغوکسانوله پاره چې په رحمان ذات باندې کافران شوي دي د کورونو چتونه اوهغه زينې چې بامونو ته پرې خيژي له سپينو زرو او د کورونو دروازې، تکيه تختونه او د ورځني ژوند نورشيان به ټول له سپينو زرو څخه ګرځولي وی او دا ټول شيان د دنيايي ژوندون له ګټې څخه پرته نور څه نه دي، خوستا له رب سره يوازې آخرت د پرهېزګارانو له پاره دی﴾. الزّخرف۴۳:۳۳

دا ژوند، دا يې د ماڼيو، قصرونو، سرو او سپينو زرو او منصبونو حقيقت. د دنيا سپکوالی له دې څخه هم ښکاري چې دېروخت کافرته يو دم پرېمانه ورکول کيږي او مؤمن ترې بې برخې پاتې کيږي، د دې له پاره چې خلکو ته د دنيا ارزښت څرګند شي ." عتبه بن غزوان " نامتو صحابي په تعجب سره د جمعې ورځې په خطبه کې خلکو ته وايي : زما د ژوند ښې شپېې او ورځې هماغه وې، چې د بشريت له سردار رسول الله (ﷺ) سره مې په ولږه تېرولې، د ونو پاڼې به مې خوړلې او د الله تعالٰی په لار کې به مې جهاد کاوه، هغه صحابي بيا درسول الله (ﷺ) څخه په بېلتون کې د يوې سيمې د اميراو حاکم په توګه بې ارزښته ژوند تېروي . زه چې ګورم نو بدمرغه خلك له دنيا څخه نه ستومانه کيږي، سره له دې چې دوی به په کې بربنډ او وږي هم وي، زما په فکر دا دنيا که انسان خوشحالوي، خو په حقيقت کې دا د اوږي هغه وربځ ده چې ډېر ژر له منځه ځي .

"سعدابن ابي وقاص" ته وګوره ! کله چې له پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) سره و، نو د ونو پاڼې به يې خوړلې، د مرڅاروي وچه څرمن به يې په اورسره کړه بيا به يې د وږو په شان مېده مېده، په اوبو کې به يې جوش او بيابه

يې خوړله، خو کله چې پيغمبر (ﷺ) وفات شوهغه د کوفې امير وټاکل شو، او دنيا ورته راغله، خو له نبي (ﷺ) څخه وروسته به د دنياڅه خوند او د ماڼيوبه يې څه ارزښت وي . ﴿ آخرت ستا له پاره له دنيا څخه غوره دی ﴾. الضّحی ۹۳:۴

نوپه دې کارکې يوڅه شته اوپه مسئله کې يو رازپروت دی او هغه راز د دنيا سپکوالی دی . ﴿ ايا دوی گومان کوي چې موږ ورسره د مال او اولاد لوربينه کړې، موږ ورته په ښېګڼوکې بيړه په برخه کړې؟ نه داسې نه ده، بلکې دوی نه پوهيږي﴾. المؤمنون۲۳:۵۵ـ۵۶

پيغمبر(ﷺ) وايي : (( په الله قسم چې زه په تاسو باندې له فقرڅخه نه وېريږم )).

يوه ورځ عمر(رضي الله عنه) د پيغمبر(ﷺ) کورته ولاړ، گوري چې (ﷺ) په پزکي پروت او د پزکي نښې يې په مبارك بدن ځرگندې دي، په کور کې يې پرته له ځوړندو اوربشوڅخه بل څه نشته، نود عمر(رضي الله عنه) له سترگو څخه اوښکې وبهېدې، په حقيقت کې داسې حالت دېراغېزناک وي نبي (صلی الله عليه وسلم) چې د بشريت لارښود دی هغه دې په داسې حال کې وي ؟

﴿ کافران وايي، دا څه رنګه پيغمبردی چې خوراک کوي او په بازار کې گرځي راگرځي﴾. الفرقان۲۵:۷

عمر(رضي الله عنه) ورته وايي: ای د الله پيغمبره! ته د"کِسریٰ او قيصر" په حال ښه پوهيږې، پيغمبر(ﷺ) ورته وويل: ((ای د خطاب زويه! ايا ته شک لرې؟ته په دې خوښ نه يې چې آخرت دې زموږ او دنيا دې د هغوی وي)).

دا يوځرگند سمون او برابر وېش دی، که څوك خوښ وي خوښ دې شي اوکه څوك ناخوښه وي خفه دې شي . که څوك نېکمرغي په درهم، دينار، ماڼۍ او موټر کې گوري، نويواځې د هماغو په لټون کې دې بوخت شي او د هماغوله پاره دې کارکوي، قسم پرهغه ذات چې له هغه پرته بل څوک د عبادت وړ نشته، چې دا ډول خلك به سعادت ـ نېکمرغي ـ ونه مومي .

﴿ څوك چې يواځې همدا دنيا او د هغې ښکلا غواړي، موږ به پرته له څه کمښته دهغوی د کړنو بدل همدلته ورکړو، خو ددغو خلکو له پاره په آخرت کې له اور پرته نورهېڅ نشته، د ژوند تولې کړنې يې بېځايه اوهلې ځلې يې خوشې تللي دي ﴾. هود۱۱:۱۵-۱۶

شاعر وايی: په دنيا دې سلام وي زه دآخرت په لور درومم، ځکه چې دا دنيا د ښوخلکو له پاره د استوګنې او پاتې کېدو ځای نه دی .

***

## د نېکمرغۍ کيليګانې

کله چې تا الله تعالٰی په رېښتياسره وپېژنده، هغه دې په پاکۍ سره وستايه، دهغه عبادت دې وکړ، او الله دې يواځې وګڼه، نوکه په دغه حال کې ته په يوه جونګړه کې هم استوګنه کوې، نوټول خير، نېکبختي او راحت ستا دی، خو د بېلاريتوب په حال کې که ته په ښکلومانيو، پراخو کورونو کې اوسېږې او له تا سره ټول هغه شيان وي، چې ته يې غواړې، نو پوه شه چې ستا پايله ترخه او ريښتينې تباهي ده، ځکه چې تا د سعادت کونجي نه ده پيداکړې .

﴿ موږ قارون ته دومره خزانې ورکړې وې، چې يواځې کليګانې يې په يوه زورور او توانا ټولي درندې وې﴾. القصص ۲۸:۷۶

***

## لنډه دمه

﴿ الله پاک له مؤمنانوڅخه ددنيا اوآخرت شرايساروي﴾. الحج۲۲:۳۸

هغوکسانوته چې مؤمنان دي دا د الله تعالٰی خبرتيا، ژمنه او زېری دی، چې الله تعالٰی له هغوی څخه د هرډول زيان مخه نيسي اود هرکافر اوشيطان له شراو د خپلونفسونوله شرونوڅخه يې د ايمان په واسطه خوندي ساتي، له ناوړو اعمالوڅخه يې ژغوري او د سختۍ په وخت کې الله تعالٰی پر دوی ډېره اساني راولي اوهرمؤمن ته د دفاع او شرف برخه د هغه د ايمان په کچه ورکول کيږي، نو که ايمان يې قوي وي د الله (ﷻ) دفاع اوساتنه ورته هم ډېره وي، اوکه ايمان کمزوری وي نوساتنه يې هم په کمزوري حالت کې وي . د ايمان له مېووڅخه يوه دا ده چې بنده ته د غميزو پرمهال زغم ورکوي او ستونزې يې اسانوي : ﴿ دچا چې پرالله تعالٰی يقين پوخ شي، الله پاك دهغه زړه ته لارښوونه کوي﴾. التّغابن ۶۴:۱۱

داهغه بنده دی چې کله وکړیږي اوغمیزه ورپېښه شي، نو باورلري چې د الله له اړخه ورته همدا په برخلیک کې لیکل شوي وو، څه چې ورته ټاکل شوي وي ورڅخه خلاصېدی نه شي او که ورته ټاکل شوې نه وي، نو ورته نه رسیږي، پرپرېکړه باندې خوښ اوپه دردمن برخلیک کې ځان الله(ﷻ) ته سپاري، کړوونکې غمیزې پرې اسانه شي، ځکه چې د الله له اړخه ورته لیکل شوي وي او په غمیزه کې یې صبر، ثواب ته رسوي .

***

## هغوی څرنګه ژوند کاوه

راځه چې له سترو اوغورو اصحابوڅخه د یوه مبارك صحابي د ژوند یوې ورځې ته ځیرشوهغه د پیغمبر(علیه الصلاة والسّلام) د لور او د ځیګرتوټې سره د علي (رضي الله عنه) ژوندون دی .

یوه ورځ علي اومېرمن یې فاطمه(رضي الله عنهما) سهار وختي، دواړه د خوراك په لټه کې شول، خوپه کورکي یې هېڅ ونه موندل، نوحضرت علي (رضي الله عنه) خپله شړی د سختې یخنۍ له امله له ځانه تاوه کړه او د مدینې څنډو ته د رزق پلټنې پسې ولاړ، دم مهال وریادیږي چې د یوه یهودي باغ شته، باغ ته د تنګې دروازې له لارې ځان ورننباسي، یهودي ورته غږ کوي ای کوچیه راشه د اوبو ډولچه راجګوه !! په هره ډولچه به یوه خورما درکوم، مطلب یې دا و چې دهغه له اوبو سره مرسته وکړي، د ورځې زیاته برخه یې ورسره کاروکړ، تردې چې لاسونه مبارك او نور بدن یې تناکې شول، بیا ورته هغه یهودي د ډولچو په شمېرخورما ورکړه، نو علي(رضي الله عنه) لومړی محمد (صلی الله علیه وسلم) ته ورغی څه خورما یې ورکړه، او پاتې برخه بیا فاطمه (رضي الله عنها) ټوله ورځ لږه لږه خوړله . دا دهغوی ژوند و، خوپه هغه حالت کې هم هغوی دا احساس درلود چې سعادت، خوښۍ، روښنایۍ او سوکالۍ د هغوی کورډك کړی دی . دهغوی زړونه پرهغوحقیقي بنسټونو او سپېڅلواخلاقوچې پیغمبر(ﷺ) پرې رالیږل شوی و ژوندي وو . هغوی لوړمثالونه وو، هغوی د زړه په کارونوبوخت او په سپېڅلي روحانیت یې حق او باطل لیده، په حق یې عمل کوه او له باطل څخه یې ځان ژغوره، هغوی د یوه شي په قیمت د یوه کارپه اصل او د موضوع په راز پوهېدل . د قارون نېکمرغي څه شوه ؟ دهامان خوښي، مزې اوچړچې څه شوې؟ قارون خو په ځمکه کې ډوب شو اوهامان د تل له پاره په لعنت ککړ شو . ﴿ د ژوند مثال د باران په څېر دی، چې بزګر ته د کښت شینوالی په زړه پورې

شي، بیا وچ شي او زیړبښکاري، په پای کې بیا بوس شي﴾. الحدید۵۷: ۲۰

سعادت خو د بلال ، سلمان او عمّار (رضي الله عنهم) دی، ځکه چې بلال د حق اذان کړی دی، سلمان په ریښتیا وروروليي وکړه، اوعمّارخپله ژمنه پوره کړه. ﴿ هغوی هغه څوک دي چې موږ یې نېکې کړنې قبلوو، له بدیو څخه یې تېرېږو او د جنت په یارانو اوخاوندانو کې به شامل وي، دا هغه ریښتینې ژمنه ده چې له دوی سره به کېدله﴾. الاحقاف ۴۶: ۱۶

***

## د صبر په اړه د پوهانو ویناوې

له " انوشیروان " څخه رانقل شوي چې وایي : په دنیا کې ټولې ستونزې په دوه برخو وېشل کیږي، یو ډول داسې دي چې هغه چل ول لري، نو د دغو ستونزو درمل ژورفکردی . بل ډول هغه دي، چې چل نه لري، نو د هغو درمل نفس په صبر روږدي کول دي. ځینې پوهان وایي د هغه کار حل چې بل چل نه لری صبردی . دا هم ویل شوي څوک چې د صبرملګری شي، نو الـهي مرسته د هغه ملګرې شي، او عام متل دی، چې : صبرد خلاصون کونجي ده، چا چې صبر وکړ نوهغه زورور شي، د صبر مېوه بریالیتوب دی . کله چې ازمېښت سخت شي، نو اساني راځي . پخوا به داسې ویل کېدل، چې د خوشحالۍ له ځای څخه د زیان وېره کوه، له کوم ځای څخه چې ایسارشوې له هماغه ځایه د ګټې هیله کوه، ژوند د مرګ په هیلو کې لټوه، ځکه چې ډېرځله اوږد ژوند د فنا کېدو په غوښتنه کې وي او ډېر ځله د پاتې کېدو لېوالتیا د ورکېدولامل شي، ډېروخت امن د وېرې له ځای څخه مخ ته راځي . عربان وایي : کله کله په شرکې خیر وي .

" اصمعي" ویلي، د دې معنا دا ده چې یو شر له بل څخه اسانه وي . ابوعبیده د دې معنا داسې کوي: که کله تاته یومصیبت درورسیږي، نو پوه شه چې له دې څخه لوی مصیبت هم دررسېدلای شو، نو له دې امله به دا مصیبت درباندې اسانه شي . ځینو پوهانو ویلي چې د کارونو پایلې پټې وي، ډېرځله په خوښو شیانو کې ناخوښ او په ناخوښو کې خوښ شیان پراته وي . ډېری وختونه له یوه نعمت څخه برخمن کس ته همدا نعمت ناروغي جوړه شي او ډېری وختونه یوه غمیزه ورته درمل شي . پخوا به دا هم ویل کېدل، چې ډېرځله خیر په شر او ګټه په تاوان کې وي . "وداعة السّهمي" وایي، چې په شرباندې

صبرکول، ان که تا ځوروي هم، خو دا هم شوني ده چې دا به تاته د خوشحالۍ لامل وګرځي او له ځړ لاندې صفا شودې وي اوکله چې نا اميدي راشي، نوالله تعالىٰ خوشحالي راولي .

﴿ ان تردې چې پيغمبران د دعوت په لارکې ستړي شواو دوی په دې باوري شول، چې د قوم له خوا دروغجن وګڼل شول، نوسمدلاسه ورته زموږ مرسته ورسېده﴾. يوسف۱۲:۱۱۰﴿بېشکه چې الله تعالىٰ له صبرکوونکو سره دی﴾.البقره۲:۱۵۳ ﴿ بېشکه خبره داده چې صبرکوونکـوته به خپله بدله او اجر بې حسابه پوره ورکول کيږي ﴾ الزّمر۳۹:۱۰

ځيني ليکوالان ليکي : لکه څرنګه چې الله (ﷻ) خوښي له هغې لارې نه راوړي، چې له هغې لارې نه د بدو شيانود راتلو اټکل کيږي، همدارنګه کله چې د نا اميدۍ وخت راورسيږي، نو الله تعالىٰ اساني راولي، خوکله چې حيلې او بهانې ورکې شي بيا نو د الله تعالىٰ نصرت ـ مرسته ـ رارسيږي، نو بايد چې پر الله (ﷻ) باندې پوره باور وشي، بل لورته هېڅ پاملرنه ونه شي، پرهغه ذات بشپړ توکل وشي اوهېڅوك بايد له الله تعالىٰ څخه ناهيلی نه شي، اساني هرومرو رارسيږي، له هرې سختۍ سره اساني ملګرې وي او له لږې سختۍ نه وروسته غټه خوشحالي راځي .

شاعر وايي : ښايي ستا ددغو مشکلاتوپايلې به ډېرې ښې وي، ځکه چې ډېر ځله بدنونه د رنځونو په واسطه جوړيږي ."اسحاق العابد" وايي : ډېری وختونه الله تعالىٰ يو انسان په غميزه د دې له پاره ازمايي، چې په بدل کې يې له لوی هلاکت څخه وژغوري، نو بيا ورته هغه غميزه په لوی نعمت بدله شي . دا هم ويل شوي، چاچې مصيبت وزغمه او په ستونزه کې د الله تعالىٰ په تدبيرراضي شو، نوهغه ته به يې هرومرو ګټه ښکاره او د ستونزې په پټه ګټه به پوه شي . ځينو نصرانيانو له ځينو پيغمبرانو څخه رانقل کړي چې وايي، کړاوونه يا ستونزې د الله تعالىٰ له اړخه انسان ته روزنه اوادب ښوونه ده او ادب خو دوام نه کوي، نو خوشحالي دې وي هغه چاته چې د الله تعالىٰ په دې روزنه او ادب ښوونه پوره صبروکړي، د کړاوونو پرمهال قدم ټينګ کړي، نو دغه انسان ته په کار دي، چې د برلاسۍ اوبرياليتوب تاج پرسرکړي، هغه تاج چې الله (جل جلاله) يې له خپلو دوستانواو دين منونکوسره ژمنه کړې ده .

اسحاق(رحمه الله) وايي : كه كله تاته د ستونزو يا كړواونو غشى درورسېده او يا له فتنوسره مخ شوې، نو له بې صبرۍ څخه ځان وژغوره، ځكه چې د نجات اوخلاصون لاره ډېره ستونزمنه وي . "بزرجمهر" وايي, په صبرسره له غميزو څخه دخلاصون انتظار او طمعه دخوشحالى په څېرپايله لري .

***

## پر الله باندې ښه ګومان لرل

په قدسي حديث كې الله (ﷻ) وايي : (( زه دخپل بنده له ګومان سره يم، پر ما چې څه رنګه ګومان كوي ودې كړي )) . دځينوليكوالو وينا ده، چې هيله د صبرختـه ده اوصبرد انسان له پاره ډېرښه مرستندوى دى، همدا راز د ښې هيلې ماده او لامل يې پر الله تعالىٰ ښه ګومان كول دي، نو له الله تعالىٰ څخه ناميدي هېڅ چاته روا نه ده ( زموږ بشري عادت دا دى چې) موږ د سخيانو درنښت منو، وينوچې هغوى هغه څوک نازوي څوك چې پرې ښه ګومان كوي اوڅوک چې پرې بدګومانه وي،هغوى ته كوم ارزښت نه وركوي، نوڅرنګه له ټولوسخيانوڅخه ډېرسخي او وركوونكى ذات چې الله(ﷻ) دى خپل هغه بنده ګان به بې برخې كړي، چې پرې نېک ګومان لري، د بنده طمعه اوهيله اود ستونزوپه وخت كې د الله پاک څنګ نيول اود هغه په دركې رغړېدل د الله تعالىٰ ډېرخوښېږي اوبېشكه چې هېڅ انسان ته كومه خوښي او بريالیتوب نه په برخه کيږي، خو كله چې له هرڅه څخه ناهيلى شي، كړاوونه يې پاى ته ورسيږي اوچلونه يې ټول خلاص شي، بيا نو له ټولو دروازو اوچارو څخه ناميده كېدل د دې لامل شي، چې دا انسان يواځې او يواځې الله (ﷻ) ته د اميد سترګې وغړوي او په دې پوه شي چې له الله تعالىٰ پرته نورهيڅوک څه نه شي كولاى .

﴿ بېشكه له الله پرته چې كوم كسان تاسو رابلئ هغوى هم ستاسوپه څېر بنده ګان دي، د بل په واك كې دي، كه تاسو رېښتينې ياست نوتاسوخپل هغه خدآيان راوبلئ چې ستاسوغوښتنې ومني ﴾. الاعراف ۷:۱۹۴

***

## صابر انسان ښه پايله لري

عبدالله بن مسعود (رضى الله عنه) وايى : خوشحالي اوخلاصون د الله

تعالیٰ په رضا کې نغښتي دي، غم اوخفګان په شك او ناخوښۍ کې پراته دي . دا به يې هم ويل، چې ترټولو ښايسته پايلې د صبرکوونکودي . "ابان بن تغلب" وايي، ما له يوه کوچې څخه واورېدل چې ويل يې، د خلکوله ښو ادابو څخه دا هم ګڼل کيږي، چې کله پرې سخته راشي له صبرڅخه کار اخلي اوخپل ځان ته داسې د اميدونو لارپرانيزي، چې ډېر ژر به ستونزه هواره او د صبر له امله به خلاصون په خپلوسترګو وګوري، نو هرکله چې انسان پرالله تعالیٰ باندې باور او نېك ګومان وکړي، الله (ﷻ) به يې ډېر ژرحاجت پوره، له غميزې څخه به يې خلاص او غوښتنه به يې ترسره کړي، اوپه همدې مهال کې به د دين، ناموس اومېړانې څښتن هم وي . " اصمعي" له يوه کوچې څخه نقل کوي، چې د خير په ځای کې له شرڅخه ځان وژغوره او د خير هيله د مصيبت له ځای څخه کوه، ځکه چې ډېرځلی ژوند د مرګ په غوښتنه کې پيدا کيږي او ډېر وارې د ژوند په غوښتنه کې مرګ پروت وي، لکه څرنګه چې ډېری وختونه ډاډ د وېرې له ځای څخه راځي . شاعر وايي : کله چې د الله تعالیٰ مهربانۍ ستاڅارنه کوله، نوبيا بې غمه ويده شه، ځکه چې پس له هغه نه ټولوپېښوکې خيردی . "قطري بن فجاءة" وايي : دجنګ په ورځ دې هيڅوك د مرګ له وېرې د پاتې کېدو شوق نه کوي، ځکه ما مې خپل ځان وليده، چې کله به راڅخه غشي ښي خوا اوکله مخامخ لګېدل، تر دې چې په خپلووينو مې د خپل اس زين اوقيضه سره کړل، بيا له جګړې څخه بېرته داسې راوګرځېدم چې هغوی مې زيانمن کړل او ماته يې هېڅ تاوان راونه رسوه، په داسې حال کې چې پوهه او مېړانه مې د ځوانانو په څېرهماغسې غښتلې پاتې وه .

ځينوپوهانوويلي، چې يوه انسان په غميزه کې په دوه خويونو ځانته تسل ورکوي . لومړی: په هغو شيانوخوښيږي، چې ورسره لا پاتې دي . دوهم : کوم څه چې ورته پېښ شوي دي له هغه څخه د خلاصون هيله لرل . خو جاهل په غميزه کې دوه شيانوته کړيږي : لومړی : پېښ شوی مصيبت لوی ګڼل . دوهم : د دغه کړاو په څېر نوروکړاوونو ته سترګې غړول . دا هم ويل شوي چې غميزې د الله (ﷻ) له اړخه مخلوق ته ادب ښوونه ده او د الله تعالیٰ له خوا ادب ښوونه زړونه، غوږونه او سترګې پرانيزي . "حسن بن سهل" د ازمېښتونو ګټې په لاندې ډول بيانوي: له ازمېښت سره ګناهونه پاکيږي، انسان له غفلت څخه ويښوي، د صبرله لارې بنده ته ثواب ورپه برخه کيږي، د الله (ﷻ) نعمتونوته يې پام کيږي، د مصيبت په بدل کې يې ښه ثواب غوښتلوته رابولي او د الله تعالیٰ په پرېکړو کې خيرپروت دی . خوندور مرګ هغه دی چې د خوندور ژوند له پاره يې غوښتنه کيږي .

﴿هغوکسانوچې خپلووړونو ته وویل، که دوی زموږخبره منلې وای، نو وژل شوي به نه وی، ورته ووایه چې که تاسو رېښتیني یاست له خپل ځان څخه د مرګ مخه ونیسئ﴾ آل عمران ۳:۱۶۸

***

## دغمیزو په اسانولوکې ځوخبرې

ځینوهوښیاروسوداګرو ویلي، چې کله روحونه روغ رمټ راوګرځي، نو بیا د مالونو د زیان غم ډېر وړوکی وي . عربان وایي : کله چې لوی څاروی روغ پاتې وي، نو وړوکی پسه پروا نه کوي . د دوی له خبروڅخه یوه دا هم ده، چې هېڅکله دې ځمکه له خپلې ابادۍ څخه ناهیلي کېږي نه، ان که وخت ورسره بې وفايي هم وکړي . عام متل دي : په کومه ویاله کی چې یوځل اوبه بهېدلې وي، نو هرومرو به په کې بیا هم اوبه بهیږي . "ثاسطوس" وایي : د دین او دعقل دڅښتنانو رتبې یو تربله ترهغې پورې نه ځرګندیږي، ترڅو دوی خپله ښېګڼه د نعمت او طاقت په وخت کې ځرګنده نه کړي او د سختۍ او ازمېښت پرمهال له صبرنه کار وا نه خلي .

***

## لنډه دمه

﴿ که تاسو دردېږئ، نو کافران هم ستاسو په شان دردېږي، خو تاسو له الله پاك څخه د هغه څه هیله لرئ، چې هغوی یې نه لري﴾. النّسآء ۴:۱۰۴

په همدغه ډول چې په رېښتینومسلمانانوباندې پېښې، اندېښنې او ازمېښتونه راشي، نوهغوی له ډېرصبر، ټینګ قدم اوسړې سینې څخه کار اخلي او په دومره اندازه د الله تعالٰی حقونه پرځای کوي، چې له دوی پرته نورکمزوري خلك یې په لسمه برخه هم نه شي پرځای کولی، چې همدا کارېې په پوخ ایمان او یقین دلالت کوي . "معقل بن یسار"(رضي الله عنه) له رسول الله (ﷺ) څخه روایت کوي چې : (( ستاسو رب چې د برکت او لوړشان خاوند دی وایي،چې ای د ادم زویه! ته زماعبادت ته ځان وزګارکړه، نو زړه به دې موړ اودواړه لاسونه به دې په روزۍ ډك کړم، ای انسانه! ته له ماڅخه مه لرې کېږه، که نه نو زړه به دې په فقر او دواړه لاسونه به دې پرکاربوخت کړم )).

الله تعالٰی ته پام کول، پناوړل، په پرېکړه یې خوښېدل، په زړه کې یې محبت ننویستل، د هغه یادول او پېژندل یې ببړنی ثواب او جنت یې داسې ژوند دی، چې د پادشاهانو ژوند ورته هېڅکله نه شي رسېدلی .

***

## په لږ مال یاخراب حالت مه خفه کېږه، ستا ارزښت بل شی دی

علي (رضي الله عنه ) وایي : د هر انسان قیمت دهغه په ښېګڼه کې دی . نو دعالم ارزښت د هغه علم دی، هغه که ډېر وي او که لږ، د شاعرقیمت د هغه شعردی که هغه قوي وي او که کمزوری، د هرکسب ګر او اختراع کوونکي قیمت د خلکوپه نظریواځې د هغه ځانګړی مهارت دی او بس، نوبنده باید زیار وباسي چې خپل قیمت لوړکړي اوخپل نرخ په نېك عمل، پوهې، مهارت سخا، حفظ، علمي څرګندونې، څېړنې، صبر، پلټنې، پوښتنې او د ګټې ترلاسه کولو، دعقل په روښانولواو تېزولوسره خپلې هیلې په روح کې وخوځوي اونفس ته درنښت ورکړي، چې ارزښتناك اوقیمتي شي .

***

## مه خفه کېږه ! دکتابونو له لارې ذهني شتمنۍ ته وده ورکولی شې

د کتابونولوستل ذهن پرانیزي، انسان ته پندونه ورکوي، د لوستونکي پوهې ته ښه وده ورکوي، ژبه یې تېزوي اود فکرکولوملکه اوقدرت یې پیاوړی کوي، همدا لوستل دي چې حقیقتونه رابرسېره کوي، ګومانونه له منځه وړي، انسان ته تسل ورکوي، د فکرله پاره په کې دعاګانې او د شپې صحبت کوونکي ته په کې ښې خبرې اترې شته، فکرمن ته په کې خوند شته، د شپې ګرځېدونکي له پاره کتاب ډیوه ده او معلومات چې هرڅومره تکرار اوچاڼ شي په هماغه کچه یې پایله ښه وي، د راټولولو وخت یې نژدې کیږي، ښه مېوه ورکوي،هروخت د خوړلو له پاره تیاره وي، خو د کتابونو نه لوستل ژبه ګونګوي، فکر اومزاج خرابوي، عقل سستوي، طبیعت وژني، پوهه مړاوې کوي، فکر وچوي، داسې کوم کتاب به نه وي، چې په هغه کې به یوه ډېره ګټه یا مثال، ښه خبره، قېصه یا خاطره او یا کومه مثالي خبره پرته نه وي. د لوستلوګټې شمېرل اسان کارنه دی، نو زه په الله تعالٰی باندې دهمتونو له مرګ او د هوډ له ورکېدو او د روح له سوړوالي څخه پناه غواړم، ځکه چې دا تر ټولوسترې غمیزې دي.

## مه خفه کېږه! الٰهي نړۍ کې د حيرانونکومخلوقاتوقېصې ولوله

که غواړې له حيرانوونکوحقيقتونوڅخه خبراوپرغمونو اواندېښنو بر لاسی شې، نوپه دنيا کې د الله تعالٰی نا اشنا جوړښتونه وګوره، ځکه چې نفس له نا اشنا او حيرانوونکو خبرو سره مينه لري . په بخاري اومسلم شريف دواړو کې جابربن عبدالله (رضي الله عنه) روايت کوي، موږ پيغمبر (ﷺ) ولېږلو، چې د قريشو يوه قافله ولجه کړو، زموږمشر يې "ابوعبيده" وټاکه، موږ په دې سفر کې د خوراك له پاره له يوې بوجۍ خورما پرته نورڅه نه درلودل او"ابوعبيده" به ترې موږ ته يوه يوه دانه راکوله . روايت کوونکي له جابر(رضي الله عنه) څخه پوښتنه کوي، چې تاسو بيا څه کول ؟ هغه وويل موږ به خورما داسې رودله لکه ماشوم چې د مور تی رو‌ي، بيابه موپرې له پاسه اوبه څښلې، دا به ټوله ورځ ترماښامه پورې زموږ له پاره بس وه، اوکله به دومره مجبورشو، چې په خپلو امساګانوبه مود ونو پاڼې راځنډلي او له لمدولوڅخه وروسته به مو خوړلې . جابر(رضي الله عنه) وايي يو ځل د سمندرپرغاړه روان وو، ګوروچې دشګو د يوې سترې اوږدی اوپلنی ډېرۍ په څېر يوشی ښکاري، چې ورغلو،ګورو چې هغه يوکب و، چې "عنبر" ورته ويل کيږي، جابر(رضي الله عنه) وايي، ابوعبيده (رضي الله عنه) وويل دا خو مرداره ده، بيا يې وويل، نه بلکې موږ خو د الله د پيغمبر استازي يو، د الله تعالٰی په لار- جهاد- کې راوتلي يو او بېشکه تاسوخو اړ شوي ياست، نو تاسو دا وخورئ.جابر(رضي الله عنه) وايي موږ درې سوه کسان وو اوهلته مو يوه مياشت تېره کړه، چې هغه ماهی به موږ خوړلو، داسې حالت ته ورسېدو، چې موږ چاغ شو. جابر(رضي الله عنه) وايي ښه مې ياديږي چې موږبه د دغه ماهي دننه له سترګوڅخه په لپولپوغوړي راخيستل، په سترو سترو مشکونوکې به مو اچول او د غوايي په اندازه به مووږڅخه دغوښو ټوټې راغوڅولې، بياابوعبيده (رضي الله عنه)له موږڅخه ديارلس نفره بېل کړل او هغوی يې د ماهي د کوپړۍ په منځ کې ودرول، د هغه يوه پوښتۍ يې را واخيسته اوهغه يې ودروله، بيا يې يوغټ اوښ را ونيوه کجاوه يې پرې کېښوده او په موږ کې ترټولو اوږد يوسړی يې پرې سپورکړ، بياهغه سپورنفر ورڅخه لاندې تېرشو. جابر(رضي الله عنه) وايي،بيا مو له هغه ماهي څخه څه غوښه له ځان سره هم راواخيسته،مدينې ته ورسېدو،نو رسول الله(ﷺ)ته موقېصه وکړه،رسول(ﷺ) وويل: ((هغه رزق و چې تاسو ته الله(ﷻ) راوويسته،ايا تاسو سره د هغې غوښې څه برخه شته چې موږ ته يې هم راکړئ؟ جابر(رضي الله عنه) وايي موږ رسول الله (ﷺ) ته لږه ولېږله اوهغه يې وخوړله )).

## الله هغه ذات دی چې دهرشي جوړښت يې سم کړ، بيايې ورته لار وښوده

تخم چې په ځمکه کې وکرل شي، نو ترهغه مهاله نه زرغونيږي ترڅو ځمکه يوه قراره او نرۍ لړزه ونه کړي، چې يواځې د "رختر" ماشين له لارې دا خوځښت څرګندېدای شي، کله چې پرې اسماني اوبه راښکته شي بيا دا تخم په ورو ورو ټوکيږي او وروسته بيا زرغونيږي .﴿ الله هغه ذات دی چې د هرشي جوړښت يې برابر او بيا يې ورته لارښوونه وکړه﴾. طٰه۲۰:۵۰

ابو داوود (رحمه الله) په خپل کتاب "السنن" کې د کښت او زراعت د زکات په باب کې ويلي، چې ماپه مصر کې يوه دانه "تره" په ولېشتو کړه، ديارلس ولېشتي وختله، او يوترنج مې هم وليد چې هغه دوه ځايه شوی و او د اوښ په دوه انډيو بار و . ﴿ الله هغه ذات دی چې هر شي ته يې دهغه جوړښت ورکړ او بيا يې ورته ښوونه وکړه﴾ . طٰه۲۰:۵۰

پوهاند"زغلول النجار" چې د فلکياتوبرخې څېړونکی دی په خپل يوه علمي سيمنيار کې وايي : ځينی ستوري شته چې له زرګونوکلونوڅخه راپه دې خوا دځمکې په لور راروان دي، چې حرکت يې د نورپه څېرچټک دی، خو لا تر اوسه هم ځمکې ته نه دي رارسېدلي اوځايونه يې تش پاتې دي .

﴿ نو .... زما دې قسم وي د ستورو په ځايونو﴾ . الواقعه۵۶:۷۵

د "جريدة الاخبار الجديدة " نومې ورځپاڼې په (۳۹۷) ګڼه کې چې پر ۱۹۵۳/۹/۲۷م تاريخ خپره شوې وه په دويم مخ کې داسې ليکل شوي وو: نن سهار د "اونـا" په نوم يودانه ماهي چې په ناروې کې موندل شوی و پاريس ته را وړل شو، په داسې حال کې چې په لسګونوسپرو او پلو پوليسو يې بدرګه کوله او په يوې غټې لارۍ پسې چې لس دانې نورې د لارۍ شکرۍ نښتې وې په کې بارکړی و، هغه ماهي (۸۰۰) کيلو ګرامه دروند و او د يوې مياشتې له پاره به په پاريس کې ننداره ته وړاندې کيږي، په يو ځل به لسګونه کسان کولای شي د دغه ماهي ګېډې ته چې د برېښنا په وسيله به روښانه شوی وي ننوځي، د دغه نندارتون چارواکي او د ښارپوليس لاپه دې اړه نه دي سلا شوي، چې هغه کب به چېرته کېښودل شي، دوی وېريږی که نوموړی کب د ننداره له پاره د ځمکنې اورګاډي په تم ځای کې کېږدي، نو دا وېره شته چې پاټلی به ونړوي . د کب عمر له اتلسو- ۱۸- مياشتو څخه ډېرنه دی، اوږدوالی يې دېرش متره دی، چې د

تېرکال په سېپټمبرمیاشت کې په ناروې کې ښکار شوی و اود دې له پاره د اورګاډي یوه ځانګړې ډبه جوړه شوه، چې د اورګاډي له لارې په ګرده اروپا کې وګرځول شي، خو د اورګاډي هغه صندوقچه د کب لاندې دانه وانه شوه، ورسته ورته د موټر یوه اوږده ترېله جوړشوه، چې دېرش متره اوږدوالی یې درلود .

مېږی دخپل ځان له پاره د ژمي خوراك د اوړي په موسم کې ټولوي، ځکه چې مېږي په ژمي کې نه راوځي، مېږی چې وګوري کومه دانه شنه کېدوته نژدې شوې، نوهغه دوه پرکه کړي، چې د شنه کېدومخه یې ونیسي . مار چې کله دښته کې خواړه پیدا نه کړي نو، د لرګي په څېرنښغ ودرېږي، مرغه چې پرې له پاسه کښېني نو مار يي راونیسي او ويې خوري . ﴿ الله هغه ذات دی چې د هرشي جوړښت یې برابر اوبیا یې ورته لارښوونه وکړه ﴾. طٰه۲۰:۵۰

عبدالرزاق الصنعاني وایي : له معمربن راشد البصري څخه مې واورېدل چې په یمن کې مې د انګورو یوه خوشه ولیده، چې د قچري دیوه اندې په اندازه وه.

﴿ په اوبوسره د خورما هغه لوړې ونې مو زرغونې کړې، چې وږي یې لاندې باندې دي﴾. ق ۵۰ :۱۰

﴿ موږ د خوند په لحاظ ځینې مېوې پرځینونورو غوره کوو﴾. الرّعد۱۳:۴

او نباتات ځانګړي دفاعي قوت لري، چې ځیني یې بیا قوي خنډوکي یا اغزي لري . ﴿ الله هغه ذات دی چې د هرشي جوړښت یې برابر او بیا یې ورته لارښوونه وکړه ﴾. طٰه ۲۰ :۵۰

مصری لیکوال کمال الدین "ادفوي" په خپل کتاب "الطالع السعید الجامع نجباء انباءالصعید" کې وایي، یوه خوشه انګورمې ولیدل چې وزن یې اته رطله وو. ( یو رطل ٤٥٢ ګرامه دی ). ژباړن . او یوه دانه انګور زموږ په وطن "ادفو" کې وتلل شوه چې وزن يي لس درهمه و . ﴿ الله هغه ذات دی چې د هرشي جوړښت یې برابر او بیا یې ورته لارښوونه وکړه ﴾. طٰه ۲۰ :۵۰

فلك پوهان وایي : لکه څرنګه چې پوکنۍ پرسېږي، همدغه ډول نړۍ هم ورځ په ورځ پراخېږي. الله پاك وایي ﴿ اسمان موږ په خپلولاسونوجوړکړی او موږ ښه پراخي راوړونکي یو ﴾. الذاریات ۵۱:۴۱

علماوو د دې خبرې یادونه کړې، چې د نړۍ وچه برخه مخ په کمېدواو سمندرونه پراخېږي : ﴿ ایا دغه خلك نه ګوري، چې موږ ځمکې ته راځواو د ځمکې څنډې راټنګوو ﴾. الرعد ۴۱:۱۳

د فیصل نومې مجلې په ٦٢ مه ګڼه ١١٢ مخ کې چې پر ١٤٠٢هجري کال خپره شوې وه، د یوه بند ګولپي - کرم - عکس کښل شوی و، چې وزن یې ٢٢ کیلو ګرامه او قُطر- ګردوالی- یې یو مېتر و . د یوه وچ پیاز عکس هم په کې رسم شوی و، چې وزن ٢،٣ کیلو ګرامه او قُطر یې ٣٠ سانتي متره لیکل شوی و . په همدغه مجله کې دا هم راغلي چې یو رومي - سوربانجان - موندل شوی چې قُطر- ګرد چاپېره- ساحه یې شپېته-١٦- سانتی متره وه . ﴿ الله هغه ذات دی چې د هرشي جوړښت یې برابر او بیا یې ورته لارښوونه وکړه ﴾. طٰه ٥٠:٢٠

دا غیرعادي شیان دي چې د مکسیکو د زراعتي ځمکو" ګوزیه کارمن" په سیمه کې چې د کښت او زراعت په پاملرنه کې اوږدې تجربې لري زرغون شوي دي . په مکسیکوکې ددغې سیمې زراعت لومړی مقام ګټلی دی .

***

## یــا الله ، یــا الله !

الٰهي ویناوې : ﴿ ورته ووایه ای پیغمبره چې الله پاك مو له دې او له هرې سختۍ څخه خلاصوي﴾. الانعام ۶۴:۶

﴿ ایا الله د خپل بنده له پاره کافي نه دی ﴾. الزّمر۳۹:۳۶ ﴿ ووایه ای پیغمبره !څوك به تاسو دځمکې اوسمندرله تیاروڅخه وژغوري﴾. الانعام ۶:۶۳ ﴿ موږغوارو له هغو خلکوسره چې په ځمکه کې کمزوري شوي دي ښېګڼه وکړو﴾. القصص۲۸:۵

د ادم (علیه السلام) په هکله وایي : ﴿ بیا رب هغه غوره کړ، توبه یې ورته قبوله او لار ښوونه یې ورته وکړه﴾. طٰه ١٢٢:٢٠

د نوح (علیه السلام) په هکله وایي : ﴿ هغه او دهغه کورنۍ مو له لویوکړاوونو څخه خلاص کړل ﴾. الصّآفات ۷۶:۳۷

د ابراهیم (علیه السلام) په هکله وایي : ﴿ موږ اورته وویل، اوره په ابراهیم سوړ او سلامت شه ﴾. الانبیآء ۶۹:۲۱

**د يعقوب (عليه السلام) حال داسې بيانوي : ﴿ نژدې ده چې الله به ماته ټول ځامن بېرته روالي ﴾. يوسف ۱۲:۸۳**

**د يوسف (عليه السلام) حال بيانوي : ﴿ له ماسره يې ښيګڼه وکړه چې زه يې له زندان څخه را وويستم اوتاسو يې له بېديا څخه راوستئ ﴾. يوسف ۱۲:۱۰۰**

**د داوود (عليه السلام) په اړه وايي : ﴿ هغه تېروتنه مو ورته وبخښله، بېشکه هغه زموږ په وړاندې د لوړې پوړۍ خاوند اوښه ځای ته ورتلونکی دی﴾. ص۳۸:۲۵**

**د ايوب (عليه السلام) په اړه وايي: ﴿ کوم کړاو چې ورباندې وهغه مو ورڅخه لرې کړ﴾. الانبيآء ۲۱:۸۴**

**د يونس(عليه السلام) حال داسې بيانوي :﴿هغه موږله غمه وژغوره﴾. الانبيآء۲۱:۸۸**

**د موسی (عليه السلام) په اړه وايي : ﴿ موږ له غمه خلاص کړې﴾. طٰه۲۰:۴۰**

**او د محمد (ﷺ) په اړه وايي : ﴿ که تاسو د الله د رسول ملاتړ ونه کړئ، نو الله پاك يې مرسته کړې ده ﴾. التوبه ۹:۴۰**

**﴿ ايا ته يتيم نه وې، بيا الله ځای درکړ، او ته يونابلده سړی وې، لار يې درو ښوده، بېوزله او ناتوانه وې شتمن يې کړې ﴾. الضّحیٰ۹۳:۶-۸**

*******

## ﴿ كُلَّ يومٍ هُوَ فِي شَأْنٍ﴾

## هر وخت الله د کارونوپه تدبيرکې دی

**ځينومفسرينو ويلي چې : ګناه بخښي، تکليف لرې کوي، ځينې وګړي پورته اوځينې نورښکته کوي .**

**شاعر وايي : ای ستونزې! سخته شه ـ پروا نه کوي- ته به هم اخر اسانه شې، ځکه چې ستا شپې د سباون خبر ورکړی دی .**

**ستونزې د وربځو په څېر دي څه وخت وروسته له منځه ځي ﴿ له الله**

پرته دستونزو لرې کوونکی نشته﴾ النّجم۵۳:۵۸

***

## مه خفه کېږه، ځکه چې ورځې اوړي راوړي

محمد بن حنفیه (رحمه الله) د ابن الزبیر له خواپه مکه کې د"عارم" په زندان کې بندي شو،" کثیرعزة " په خپل شعرکې هغه داسې یاد کړ: نه د دنیا رونق ـ ښکلا- خپلوښتنانوته پاتې کېږي اونه یې کړاوونه تلپاتې دي، بلکې دا اوهغه ټول یوه ټاکلې موده لري چې هرومروپای ته رسېږي اوهغه څه چې زه ورسره مخ شوی یم، هغه به هسې دخوب لیدل پاتې شي .

له دی پېښی څخه مې څو پېړۍ وروسته مې تاریخ ته یو نظروکړ، ومې لیدل چې ابن الزبیر، ابن الحنفیه او دعارم زندان ټول هسې د خوب لیدل و، چې تېرشول . ﴿ آیا ته دهغوی کومه نښه وینې او یایې ګونګوسی اورې﴾. مریم۱۹:۹۸

ظالم، مظلوم، بندي او بندي کوونکی ټول مړه شول . عربی متل دی : په خلکو کې چې څومره زورور پهلوان وي، نوهغه به هم یوه ورځ په ځمکه څملول کېږي) .

***

﴿ هَذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ ﴾

دا دوه هغه جګړه کوونکي دي چې دخپل رب په اړه یې جګړه کوله .

(( هرومرو به حقونه خپلوخاوندانو ته ورسپارل کېږي ان دا چې د بې ښکره پسه غچ به له ښکرورڅخه اخیستل کېږي )) . یوزاهد شاعر وایي : ای مغرورانسانه ته خو دقیامت ورځ خپلې مخې ته ودروه ! په داسې حال کې چې اسمان به په لړزه کې وي، اسمان بې ګناه دی، خو د دې ورځې له هیبت څخه وېرېږي، نودهغه چابه څه حال وي، چې پرهغه زیات وخت تېرشوی وي او ګناهونه یې کړي وي ؟.

***

## مه خفه کېږه چې دښمن دې خوشحالیږي

ببښکه چې ستاپه خفګان دښمن خوشحالیږي، نوله همدې امله دشریعت له بنسټونوڅخه یواصل دا دی چې دښمنان یې باید اندښمن اوخرپاتې وي. ﴿ او تاسوپه خپل زوراوبدني روزنه باندې د الله پاک اوخپل دښمنان وویروئ﴾ الانفال۸:۶۰.

کله چې" ابو دجانه " د اُحد په غزا کې د دښمنانو د خفه کولوپه خاطرد صفونوپه منځ کې له ویاړه ډک تګ راتګ کاوه، نو پیغمبر(ﷺ) ورته وویل چې : (( بېشکه پرته له دې ځای ـ غزاـ څخه دا رنګه قدم وهل الله (ﷻ) نه خوښوي ))
.

پیغمبر(ﷺ) به خپلو ملګروته ویل، چې (( د بیت الله شاوخوا په شګوکې غېږې ونیسئ، ترڅومشرکانوته خپل زور وښایئ)) . "ابودهبل" په شعرکې وایي : ښایي هغه مصیبت چې موږ په کې شپه تېره کړه زموږ له پاره د خلاصون سبب شي، دښمنان به خفه شي او دوست به خوشحاله، ځکه چې هغه د ځیګرخاوند دی، نو له دې حالت څخه به هرومرو سوزي . ﴿ د بري په ورځ به مؤمنان ډېرخوښ شي ﴾. الرّوم۴:۲۹

که د حق اونېکواخلاقو دښمنان زموږ په خوښۍ، نېکمرغۍ او سوکالۍ خبر شي، نو ژردی چې له خفګانه به ټوټه ټوټه شي : ﴿ نو ته ورته ووایه چې په خپل قهرکې مړه شئ ﴾. آل عمران ۳:۱۱۹

﴿ کله چې له تاسوته ښېګڼه دررسیږي، دوی پرې خفه کیږي﴾. آل عمران ۳:۱۲۰

﴿ د دین دښمنان هغه کار ښه خوښوي، چې تاسو یې بد ګڼئ ﴾. آل عمران۳:۱۱۸

شاعر وایي : ډېرځله هغه کس چې ما یې زړه په کینه پوخ کړی دی، ما ته داسې شرغواړي، چې هغه ورسره نه منل کیږي . بل شاعر وایي :د دښمنانوپه مقابل کې زما صبرد دې له پاره دی، چې ورته وښییم چې د وخت ناخوالې ما نه شي لاندې کولای .(( یا الله پرما نه دښمن او نه حسد کوونکی خوشحاله کړې، یا الله موږ پرتا باندې د دښمن د خوشحالۍ څخه پناه غواړو،یعنې پرموږ یې سخه پخه نه شي )). شاعر وایي : د دښمن له سخې پخېدوڅخه پرته ټول کړاوونه پرځوان باندې اسانه تېریږي . پخوانیومسلمانانوبه د پېښنو پرمهال په نیمه خوله خندل، صبربه یې کاوه او ځانونه به یې ښه تکړه ښودل، ترڅو

دښمنان نا اميده کړي او د کينه کښنوپه زړونو کی لا غصه ډېره کړي . ﴿ د الله په لارکې چې کومې ستونزې ورته رسېدلې وې، دهغوی له امله مؤمنان بې زړه، سست، کمزوري اوسرتيټي نه شول﴾. التّوبه۹:۱۲۰

***

## نېك او بد فال

الله (ﷻ) وايي : ﴿ هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی، موږ يې ايمان لا پسې ډېروو اوهغوی پرې خوښېږي، او دهغو کسانوپه زړونو کې چې د نفاق - دوه مخی- ناروغي شته، نود پليتی له پاسه نوره پليتي هم ورزياته شي اود کفرپه حالت کې مړه شي﴾ . التّوبه ۹ :۱۲۴- ۱۲۵

ډېر داسې نېک خلک وي چې هغوی په سختيو اوستونزمنوکارونوباندې نېك فاله وي اوهغه کار د ځان له پاره خيرګڼي . ﴿ کېدای شي چې تاسو يو شی بد ګڼئ، خوهغه به ستاسو له پاره خيروي اوکېدای شي چې يو شی به خوښوئ، خو هغه به تاسو ته شر وي﴾. البقره ۲:۲۱۶

ابوالدّرداء (رضی الله عنه) وايي: درې شيان دي چې زما خوښ او نور خلك يې بد ګڼي، غريبي، ناروغي اومرګ زه خوښووم، ځکه چې په نېستی کې عاجزي وي، ناروغی کې ګناهونه رژېږي او مرګ له الله تعالیٰ سره د لېدو لاره ده . خوبل څوک فقر- نېستي- غندي او وايي چې سپي هم فقيـران بد ګڼي . شاعروايي: سپی چې کله کوم نېستمن ووينی، نو ورپسې په منډو شي اوخپلې داړې ورپسې را وباسي .

ځينې نور بيا تبې ته د شعرپه ژبه هرکلی کوي او وايي: د ګناهونو رژونکې - تبې- په ډېره بيره زما ديدن وکړ، نوما ورته وويل، د الله له پاره چې ژر راڅخه مه ځه! خو "متنبي" بيا داسې وايي : ما پرې خپل ډېرمال ولګوه، کولمې مې پرې له منځه لاړې، خوبيا يې هغه پرېښوده او زما په هډوکو کې يې ځای ونيوه . او يوسف (عليه السلام) داسې وايي : ﴿ ماته زندان له هغه څه نه چې دوی يې بلنه راکوي ډېرغوره دی﴾. يوسف ۱۲:۳۳

" علي بن جُهم " د زندان په اړه وايي : دوی راته وويل، چې بندي شوی يې، ما وويل بند ماته هېڅ زيان نه رسوي، کومه توره ده چې هغه په تيکي کې نه پټېږي !؟ خو "علي بن محمد الکاتب" بيا وايي، دوی وويل : ته بندي

شوی يې، ما وويل دا خويوسخت مصيبت دی چې څارونکي وخت پرما نازل کړی دی . ډېرخلك شته چې مرگ خوښ گڼي اوهرکلی يې کوي . معاذ(رضي الله عنه) وايي: مرگ ته ښه راغلاست، هغه دوست دی چې په ولږه کی راغلی، خوبريالی شوهغه څوك چې د خپل تېرعمر په نيمگړتياوو باندې پښېمانه شو . او"حصين بن حمام"په همدې اړه وايي: زه دجنگ په ورځ له ډگرڅخه ددې له پاره وروسته شوم، چې ژوند مې خوښ و، خوبيا ما دخپل نفس له پاره پرته له دې چې د جنگ ډگرته وړاندې شم بل ښه ژوند ونه مونده . بل شخص وايي : که مرگ کله هم راپېښېږي نو رادې شي. خو نوروخلکوبد گڼلی اوترېنه تښتي، يهود ډېر زيات ژوند ته لېواله دي، نو الله تعالٰی ورته وايي : ﴿ ورته ووايه ای پيغمبره ! له کوم مرگ څخه چې تاسو تښتئ، له هغه سره به هرومرومخامخېږئ ﴾. الجمعه ۶۲: ۸

بل شاعر وايي : له دې ژوند نه مې وروسته بل ژوند نه دی په کار او نه له دې سر نه وروسته بل سر . خو د درندو اونېکو خلکوپه اند بيا د الله تعالٰی په لارکې شهادت ترټولو غوره اوخوږه هيله ده، الله (ﷻ) وايي : ﴿له مؤمنانوڅخه ځينو خپل نذرپوره اوځينې يې سترگې په لاردي﴾. الاحزاب۳۳:۲۳

"ابن رواحه" وايی : زه له خپل رحيم رب څخه د مغفرت غوښتنه کوم او ورڅخه د داسې گوزارغوښتنه لرم ،چې هغه وېرونکی وي او له ما څخه خيری او ځږ لرې کړي . "ابن الطّرماح" وايي: ای الله ته ماته زمامرگ په داسې حال کې مه راوله، چې زه په مزو او چړچو کې يم، د مجاهدينوپه يوه داسې ټولگي کې مې شهيد کړې، چې هغوی په يوه لرې زمکه کې د وېرې په حالت کې شهيدانېږي . خو ځينی بيا قتل بد گڼي اوورڅخه تښتي، يوله هغوی څخه وايي : دوی وايي ای جميله جهاد وکړه !! ما ورته وويل، زه له ښځوپرته بل کوم جهاد غواړم !؟

يوکوچی وايي: لوړه کوم چې زما په بستره کې مرگ بد راځي، نوپه بندرونو اود جنگ په ډگرونوکې به يې څرنگه خوښ کړم. ﴿ای پيغمبره ورته ووايه که تاسورېښتيني ياست،نودخپل مرگ مخه به مونيولې وای﴾.آل عمران۳:۱۶۸

﴿ای پيغمبره ورته ووايه که تاسوپه کورونو کې هم وای، نو دچا له پاره چې وژل ليکل شوي وي، هغه به خامخا د وژلو ځای ته ورو‌ته﴾. آل عمران ۳:۱۵۴

بېشکه چې پېښې ټولې يوشان پېښې وي، خونفسونه بېلابېل دي .

***

## ای انسانه مه خفه کیږه

ای انسانه! ته چې له ژوند څخه نورستړی شوی یې، ژوند دې بد ګڼلی، ورځې دربانديې تنګې او ترخې شوې دي، خوهلته یوه لویه فتحه، ښکاره بری او له سختیووروسته خلاصون شته. هلته ستامخې اوشاته یوه پټه مهرباني، روښانه هیله، ښکلی راتلونکی وخت او رېښتینې ژمنه شته. ﴿ د الله وعده ـ ژمنه ـ ده اوالله هېڅکله خپله ژمنه نه ماتوي﴾ الرّوم۳۰:۶

بېشکه چې ستا دستونزې اوغمیزې له پاره د خلاصون او لرې کولو لار شته اوبېشکه چې هلته مینه، ښکلې وږمې، سیوري اوخوشحالی شته. ﴿ ثنا ده هغه رب لره چې له موږ څخه یې غم لرې کړ﴾. فاطر۳۵:۳۴

ای انسانه ! هغه وخت رارسېدلی، چې د شك درملنه په یقین سره وکړې، د خپل وجدان بېلاریتوب په حق سره سم کړې، فکري کوږوالی په دین، تردد- وړاندې وروسته کېدل- اود شك لاره دې په الـهي لارښوونه روښانه کړې . تاته هغه وخت رارسېدلی، چې ته له ځان څخه دشپې تورې تیارې د روڼ سباون په رڼا ختمې او د ناهیلی تریخوالی دې د خوښۍ په خوږوالي او د فتنو تکې تورې تیارې د اسلام په معجزانه نورسره پای ته ورسوې .

ای خلکو! ستاسو د وچې صحراء تر شا یوه ډادمنه ځمکه ده، چې روزي ورته هروخت له هرارخه را روانه وي، او ستاسو د سخت اوستونزمن غره له پاسه هغه جنت دی، چې ډېرشرنده باران پرې ورېږي او که تېزباران پرې ونه شي، نو د زېري او د نېکو هیلوشبنم باران خو پرې ورېږي . ای هغه څوکه چې د بې خوبۍ په ناروغۍ اخته یې او د شپې چغې وهې، چې ای اوږدې شپې !! ته نه سبا کیږې ؟ د ګهیځ زېری دروا‌خله : ﴿ ایا سهار نږدې نه دی﴾. هود ۱۱:۸۱

داسې سهارچې له رڼا اوخوشحالۍ نه دې زړه ډکوي، ای هغه څوکه چې غمونودې عقل وړی دی، لږپه قرارشه، تاته له غیبي کناروڅخه خلاصون راروان دی او له ثابتوتګلاروڅخه درته پراخي درپه برخه ده.

ای هغه څوکه چې خپلې سترګې دې له اوښکو ډکې کړې دي، اوښکې دې بندې کړه اودسترګو کسې دې په ارام کړه، په قرارشه! بېشکه چې د کائناتو د خالق له خوا تاته دمینې پیغام اوځانګړې پاملرنه او نظرشته، نو ای بنده ډاډمن اوسه، د الله پرېکړې او ټاکنې پای ته رسېدلي دي، خوشحاله شه چې الـهي لُطف

درته په برخه شوی، دستونزې تنده ختمه شوې، رګونه په اوبوخړوبه شول او له هغه ذات په وړاندې اجرثابت شو چې هېڅ زيار ورسره نه ورک کيږي . ډاډه شه ! ستا ورکړه درکړه اواړيکې له هغه چا سره دي، چې هغه پرخپل کاربرلاسی، پر خپلو بنده ګانومهربان، رحيم اوپه خپل تدبيرکې د ډېرښه حکمت څښتن دی . ډاډه اوسه ! ځکه چې پايلې ډېرې ښې اوپه زړه پورې اوخاتمه ښکلې ده، له نېستۍ څخه وروسته شتمني، له تندې وروسته خړوبېدل، له ببلتون وروسته يوتون، له غوځېدلو وروسته نښلېدل اوله بې خوبۍ وروسته خوب شته . ﴿ کېدای شي الله پاك وروسته له هغې لارې کومه بله لاره غوره کړي ﴾.الطّلاق ۶۵:۱

شاعر وايي، چې د دوی اورپه داسې حال کې چې د شپې تيارې ښې راتورې شوې، څاروان ستومانه شو، لاربنود هم حيران او پرېشان و وپرقېده، نو زه هم په دې اړه په داسې حال کې فکرمن شوم چې خيال مې د بېلتون له امله خړپړ، سترګې مې سترې او زړه مې هم ستومانه و، مينه مې هم دغه ځانګړې مينه وه، موږ د هغه ساتونکي اوکارجوړوونکي ذات په اړه چې د مشکلاتوپه وخت کې ورته هيله کيږي پوښتنه وکړه، چې اياهغه ته د ورتګ کومه لارشته؟ نو موږهغه ومونده چې د ټولو ټولواك سخي اوسترذات دی . ای هغوخلکوچې په ځمکه کې د ولړې، تنګلاسی، درد، ناروغۍ او نېستۍ ژوند تېروۍ، تاسوته زېری دی، چې ژر به ماړه، نېکمرغه، خوشحاله او د صحت خاوندان شئ.﴿ قسم دی په شپه چې کله توره تياره شي، اوقسم په سهارچې کله روڼ شي ﴾.المدثر ۷۴:۳۳-۳۴

شاعر وايي : شپه به هرومرو رڼا کيږي، د بند کړی به هرومروماتيږي اوڅوك چې غرونو ته له ختلوڅخه وېرېده، نود تل له پاره به د کندو په منځ کې اوسيږي .

بنده ته ښايي، چې په خپل رب باندی ښه ګومان وکړي، له الله (ﷻ) څخه د خيراومهربانۍ اميد وکړي، ځکه دچا د امرلفظ چې (کُن) شه، وي، نوبيا خوهغه ذات لازيات لايق وي، چې په ژمنو يې باور وشي، ځکه چې له هغه ذات پرته بل هېڅوك داسې نشته، چې چاته څه ګټه ورسوي، يا يې له زيان څخه وژغوري، همدا ذات دی چې پرهرساکښ باندې مهربان اوپه هرکارکې يې حکمت دی، هر وخت اسانی اوخلاصون راولي، همدا رب دی، چې له تورې شپې څخه وروسته روڼ سبا راولي، له قحطۍ او وچکالۍ څخه وروسته د رحمت باران وروي، د شکرپه خاطرانسان ته ورکړه کوي، ازمېښت راولي ترڅو صبرکوونکي په ګوته کړي . پېرزوينه کوي ترڅوستاينه واوري، غميزې اوستونزې منځته راوړي ترڅو خلک ورته په عاجزۍ دعاء وکړي، نوپرهمدغه بنسټ انسان ته په کاردي،

چې له دغه رب سره خپلې اړیکې ټینګې کړي، محبت او دوستي ورسره کلکه کړي اوله الله نه په باربارفضل وغواړي : ﴿ د الله فضل وغواړئ﴾. النّسآء ۴:۳۲

﴿ له خپل رب څخه په زارۍ او پټه توګه غوښتنه وکړئ ﴾. الاعراف۷ :۵۵

شاعر وايي : که ستا دا خوښه نه وي، چې زه دې هغه څه ترلاسه کړم، چې زه يې ستا د ورغوي له سخاڅخه هيله من يم، نوبياخوبه تا ماته دغوښتنې او دعاء ښوونه نه وه کړې ( مراد يې الله پاک دی).

"علاء الحضرمي" له ځینواصحابوکراموسره په یوه ډاګ کې ايسارشو، د ځښلواوبه ورسره ختمې او مرګ ته نژدې شول، نو"علاء" خپل رب ته چې ډېر نژدې دی غږ وکړ، اوربډونکي اوقبلوونکي الله څخه يې داسې غوښتنه وکړه چې: ای اوچت، ستر، حکيم او ډېرپوه ذاته! نو په هماغه شپبه د رحمت باران ووربده، هغوی ځانونه اوخپل څاروي په اوبوماړه کړل، اودسونه يې وکړل او ځانونه يې پربمینځل . ﴿الله هغه ذات دی چې دخلکو له نا اميدۍ نه وروسته باران وروي، خپل رحمت خوروي اوهغه کارجوړوونکی ستايل شوی ذات دی﴾. الشورئ ۲۸:۴۲

***

## لنډه دمه

له الله تعالىٰ سره مينه، هغه په رېښتیاپېژندل، همېشه يې يادول، ورسره قرارېدل او ډاډه کېدل، په محبت، وېره، هيله، توکل، معامله ـ راکړه ورکړه ـ غمونو، موخو، هوډونو او ارادو کې يې ځانګړی اوحاکم ګڼل داسې يو دنيايي جنت اوهغه نعمت دی چې، هېڅ بل نعمت ورته نه شي رسېدلای . د الله پاک سره دا د مينه والو د سترګوسوړوالی اود الله پېژندونکو ژوند دی . يواځې له الله سره د زړه تړل، په ذکر يې خوله خوځول اوورباندې قناعت کول هغه لارې چارې دي، چې غمونه اواندېښنې له منځه وړي، سينه پراخوي، ښايسته اوپاکيزه ژوندمنځته راوړي، خود پورتني حال خلاف که دچا زړه له الله تعالىٰ پرته په بل چا پورې تړل شوی و، الله(ﷻ) يې هېراو په ورکړه يې قانع نه و، نوبيا له هغه انسان څخه بل د تنګې سينې او زيات غم ځښتن نشته، چې په دې اړه تجربه ترټولو ښه دليل دی.

***

## له نورو غمځپلوڅخه پند واخله

﴿ موږ ستاسوپه چاپېريال کې ډېرکلي تباه کړل ﴾ . الاحقاف۴۶ : ۲۷

د هغوخلکوله ډلوڅخه چې په ژوند کې له ډېربد، تلپاتي اوتباه کوونکي سر نوشت سره مخ شوي دي، يوه هم د برمکيانوکورنۍ وه، هغه داسې کورنۍ وه، چې د ډېرونعمتونو، پرېمانۍ اوسخاوت څښتنان وو، بيا پرې ناڅاپه داسې ستره غميزه راغله، چې د نورو له پاره پند، عبرت اوبېلګه وګرځېده . "هارون الرشيد" چې د هغوی له نژدې دوستانوڅخه و، پرهغوی يې د مازديګراوماښام ترمنځ يرغل وکړ، هغوی په خپلومزوکې غافله او د خوند په برستن کې ګرم پراته وو، د اضافه خرڅۍ اوښکلي ژوند په باغ کې ارام وو، د الله تعالیٰ پرېکړه پرې د ورځې په يو ساعت کې وشوه، هغوی ته ترټولونه د نژدې انسان په لاس داسې تاوان ورسېده، چې کورونه اوماڼۍ يې ورته ويجاړې او ونړولې، ابروګانې يې ورته ورژولې، وينځې اومريان يې ورڅخه په زور راوستل وينې يې ورته وبهولې، د هلاکت کندوته يې وروغورځول، په غميزه يې ورته د دوستانو زړونه زخمي کړل اوپه غم يې دهغوی دماشومانوسترګې سرې کړې . لا اله الاّالله ! له هغوی څخه څومره نعمتونه واخيستل شول . ﴿ پند واخلئ ای دعقل او بصيرت خاوندانو﴾. الحشر ۲:۵۹

تاسو وګورئ له مصيبت څخه يوه شپه وړاندې به يې ورېښم اغوستل او په هغې کې به رغړېدل، د هيلوپه ګيلاسونوڅرېدل. آه ! څومره سخت غم اوڅومره غمناکه پېښه وه. شاعر وايي : داهم يوسترمصيبت و، خو له دې څخه بل غټ غم هم شته، چې په همدغه ډول وختونه اوهېوادونه برباديږي.هغوی د وخت له ناخوالوڅخه ډاډمن، له پېښوڅخه بچ او له ورځونه بې خبره وو.﴿ تاسو بياهم دهغوخلکوپه ځايونوکې اوسېدئ، چې په خپلوځانونويې تېری کړی و او دا هم درته په ډاګه شوې وه، چې موږپرهغوی څه وکړل ؟ اوتاسوته مې ښې بېلګې وړاندې کړې﴾ ابراهيم ۴۵:۱۴

د دوی په سرونود بل چا ستربېرغونه ورپېدل اوله هرې خوانه يې عسکر راتاو شوي وو. شاعر وايي: ګواکې چې د"حجون" څخه تر"صفا" پورې هېڅ دوست اواشنا نه و اونه په "مکه" کې کوم داسې دوست و چې دشپې مرکه ورسره وشي.

هغوی په مزو کې بې پروا ځرېدل او د زمانې په يو وخت کې يې ډاډه

مزې کولې، په سراب ـ د شګو یا د ګرمۍ پرپېرقا- يې د اوبوګومان وکړ، پرسوب يې چاغي بلله، دنيا يې تلپاتې ګڼله اوپناه کېدل يې پاتې کېدل بلل، داسې يې انګېرلي وو، امانت اوهغه شيان چې د کارولولپاره له چاڅخه اخيستل شوي وي خپل څښتن ته بېرته نه سپارل کيږي او نه يې څه تاوان ورکول کيږي. ﴿هغوی داسې انګېرل چې موږته بېرته نه راګرځي﴾. القصص۲۸: ۳۹

يوشاعروايي: د وخت ناخوالې بېلابېل رنګونه لري، وخت خوښۍ او خواشيني دواړه لري، دا دنيا هېڅ چاته نه پاتې کيږي اونه د تل لپاره په يوشان وي.

ګهيځ په خوښۍ پاڅېدل، خوماښام بيا قبرونوته ورسېدل. په يوه شپه کې وربانديې هارون الرشيد په قهرشواو وژونکې توره يې ورته پرسرونوکېښوده، جعفربن يحيی برمکي يې وواژه، بيايې په اورکې ګوزارکړ، پلار يې يحيی بن خالد او ورور يې فضل بن يحيی دواړه په زندان کې بنديان کړل، مالونه اوشتمنۍ يې ورڅخه ټولې ونيولې، د برمکيانو په اړه شاعرانو ډېرې مرثيې ويلي دي، لاندينۍ مرثيه "رقاشي" ويلې اوځيني وايي چې ابو نواس ويلې ده : اوس نوموړي او زموږد سورلۍ څاروي هم ارام شول، د سخاوت د څښتنانو ورکړې اود اخيستونکواخيستل هم پای ته ورسېدل، نوته اوښانوته ووايه، چې تاسو نورپه شپوکې له سترو دښتو او لوړو او ژورو مزلونوڅخه د تل لپاره خلاص شوئ، اومرګي ته ووايه، چې په "جعفر" خو برلاسی شوې، خو وروسته له دې به په "مسود" برلاسی نه شې، د "فضل" له مرګ څخه وروسته تحفو او ورکړو ته ووايه، چې تاسوهم ودرېږئ، کړاوونوته ووايه چې تاسوهره ورځ تازه شئ، ځکه ستاسوپه مخ کې چې کومه برمکۍ تېره توره وه هغه د بلې هاشمي تېرې تورې په لاس له منځه ولاړه .

په داسې حالت کې چې "جعفر" د مرګ په کټ پروت و، "رقاش" ورته وکتل بيايې داسې وويل : پرالله تعالی قسم دی که دچغلګرو او بدخواووخلکو وېره او يا دخليفه د جاسوسانو بېداري نه وای، نوموږبه هرومروستا د کټ ترشااوخوا طواف کړی وی اوداسې به موښکل کړی وای، لکه حاجيان چې"حجراسود" ښکلوي، ځکه ما خو له تاڅخه دمخه ای د يحيی زويه! داسې غوڅوونکې توره ونه ليده، چې هغه بله غوڅووونکې توره پسه اوکندوکړې وي. وروسته دې په مزو، ټولې نړۍ او د برمکيانوپه دولت باندې سلام وي. کله چې هارون الرشيد خبرشو، نو"رقاش" يې راوغوښت ورته يې وويل تاته هرکا"جعفر"څومره مال درکوه؟ رقاش وويل، زر ديناره، نوهارون الرشيد ورته دوه زره ديناره وټاکل.

"زبیربن بکار" د خپل تره" مصعب الزبیري" په اړه داسې وايي : کله چې هارون الرشید جعفر وواژه، نویوه ښځه پرخره سپره وه، په فصیحه ژبه یې داسې ویل: ای جعفره! قسم پرالله چې که ته نن ورځ یوه نـښه او یادګار پاتې شوې، نو پخوا هم ته په سخاوت کې اوچت مقام ته رسېدلی وې، بیا یې دا شعرزمزمه کړ، چې مې د تورې مخه د جعفر پرلور ولیده او د خلیفه مخبر د یحیی په اړه غږ وکړ، یعنې د رانسکورېدو پربکړه یې وشوه، نو ما په دنیا وژړل او دې پایلې ته ورسېدم، چې دا ځوان - جعفر- هرومرو یوه ورځ له دنیا ځخه تلونکی دی . دا دنیا ډول ډول کارونه کوي، که یوکس د نعمتونوڅښتن کړي، نوبل په کړاوونو اخته کړي، که یو ډېرلوړې پوړۍ ته ورسوي، نوهغه بل بیا ترټولوټیټې درجې ته راښکته کړي .

کله چې "ابوجعفرمنصور" محمد بن عبدالله بن حسن وواژه، نو د هغه سر یې د هغه پلار"عبد الله بن حسن" ته چې په زندان کې و د خادم په لاس ولیږه، کله چې خادم دهغه د زوی سر وروړ اومخکې یې ورته کېښود، نوعبدالله وویل ،الله دې درباندې ورحمیږي ای د قاسم پلاره! ته هغه څوك وې چې ژمنه به دې نه ماتوله، له خپلوانوسره به تا اړیکې جوړولې او د الله تعالیٰ له عذاب او د آخرت له حساب ځخه به وېرېدې، نودا شعریې زمزمه کړ: هغه یو داسې ځوان و، چې د تورې په واسطه یې خپل ځان له ذلت ځخه ساته او له بدوکارونوځخه به یې ځان ژغوره . بیا یې"ربیع" ته چې دخلیفه منصور ځانګړی خادم و وکتل او ورته یې وویل خپل دوست ابوجعفر ته دې ووایه، چې زموږ د خراب حالت اوستا دخوندونو له پړاو ځخه هم څه موده تېره شوه، زموږ او ستاسود مخامخېدو ځای به د الله تعالیٰ په وړاندې وي . بیا په دې اړه "عباس بن احنف" یوشعر ووایه او ځینې لا وايي، چې دا د "عماره بن عقیل" وینا ده : اوس که ته زما اوخپل حال ته یوځلې په داسې لید، چې د نفسي غوښتنې پربنسټ ولاړنه وي د حق په سترګه وګورې، نو د دغه نظر په پایله کې به هرومرو دې ته ورسیږو، هره ورځ چې زماپه خواشینوونکي او ستاپه ښکلي ژوند تېریږي هغه ټولې شمېرل کیږي، لکه د عربانوپه وینا : (قـولٍ علی قـولٍ) د خبرې له پاسه بله خبره شته .

اوس هارون الرشید چېرته اوبرمکي چېرته؟ قاتل چېرته اومقتول چېرته؟ آمرڅه شو اومامورڅه شو؟ چېرته دی هغه څوك چې ووژل شو او په داروځړول شو؟ ټول ختم شول، ژردی چې عادل ذات الله پاک به دوی ټول په هغه ورځ راټول کړي، چې هېڅ شك په کې نشته، هلته ظلم اوحق خوړل نشته. ﴿ موسی وویل : د تېرو زمانوپوهه زما له رب سره لیکل شوې ده ، له الله ځخه نه

کوم شی ورکيږي او نه ورڅخه هېرېږي﴾. طٰه۲۰:۵۲

﴿ د آخرت په ورځ به ټول خلك د رب العالمين په مخ کې ودرېږي﴾. المطففين۸۳:۶

﴿ تاسوبه الله ته وړاندې کړای شئ اوهېڅ کاربه مونه پټېږي﴾. الحآقّه ۶۹ :۱۸

"يحيی بن خالد برمکي" ته وويل شول تاچې داعذاب او کړاو وليد ايا پوهېږې چې سبب يې څه و؟ هغه ځواب ورکړ ښايي د مظلوم هغه خبرا وي، چې د شپې په تياره کې الله تعالیٰ ته پورته شوې وې اوموږ به ورڅخه خبرنه وو. "عبدالله بن معاويه بن جعفر" ته غميزه پېښه شوه، نو په زندان کې يې دا شعرزمزمه کړ : موږ له دنياڅخه ووتلو، حال داچې موږ يې د اوسېدونکوله جملې څخه وو، خو اوس موږ په کې نه د مړو له ډلې شمېرل کيږو او نه له ژوندوڅخه، کله چې زندانچي زندان ته دخپل کوم کارلپاره راننوځي، نوموږحيران شواوله ځان سره ووايو دا خوله دنياڅخه راغلی، موږ په خوبونوليدو زيات خوشحاليدوځکه چې کله سهارشي نوزموږډېرې خبرې د خوبونوپه اړه وي، که دا فالونه خوښوونکي وي، نو راتګ يې ډېر ورو وي، خوکه بد وي بيا په بيړه سره رادرومي . د شعرپه وروستنی کړۍ کې بد فالي اونېک فالي يادې شوې دې، چې د "جاحظ " په " کتاب البغال " کې يې د شاعر دوه بيتونوته زما پام راوګرځوه چې وايی : که د کلي پيغام راوړونکی له بدخبرسره زموږخواته راروان وي، نوډېرپه بيړه رارسيږي، که د شرکومه خبره ورسره وي، نوهغه په يوه شپه اوورځ کې رارسوي،خوکه د خيرخبر ورسره وي،بيايې په څلوروشپواو ورځو کې رارسوي.

د فارس پادشاه خپل يوحکيم بندي کړ،بياهغه حکيم پادشاه ته يو ليك وليږه ، داسې يې په کې ليکلي وو: پرمابانديې که هرساعت تېرېږي،نوماخلاصون او تاعذاب ته نژدې کوي، زه د ازادۍ لار څارم، خو له تاسره د الله له خوا په تنګ او بند حال وعده شوې ده .

کله چې د اندلس پادشاه "ابن عباد" دومره مست شوچې له سمې لارې په کږه روان شو، په کورکې يې وينځې، پېغلې، ډولونه، ربابونه او سازونه زيات شول، په همدغه مهال پرې سختي راغله، د روم له خواپرې يرغل وشو، نو له "ابن تاشفين"څخه يې چې د "المغرب" پادشاه و مرسته وغوښته، "ابن تاشفين" له سمندرڅخه راتېرشو، اوله "ابن عباد" سره يې مرسته وکړه، ابن عباد ورته مېلمستيا وکړه، په خپلوباغونوکې يې وګرځاوه، ښه درنښت يې

وکړ،خو"ابن تاشفين" د زمري په شان د ښارد وتلو او را ننوتلو لارې څارلې، ځکه چې دهغه په زړه کې څه خبره وه، درې ورځې وروسته "ابن تاشفين" د خپل لښکر په مرسته د "ابن عباد" پرکمزورې دولت باندې يرغل وکړ، پادشاهي يې ترې ونيوله، مانۍ يې ورڅخه واخيستې اوپه باغونوکې يې خرابي وکړه، بيايې "ابن عباد" خپل ښار "اغمات" ته د بندي په توګه يوړو . ﴿ دا ورځې مونږ د خلکوپه منځ کې اړووو را اړوو ﴾. آل عمران ۳:۱۴۰

"ابن تاشفين" واک په خپل لاس کې واخيست او دعوه يې وکړه چې دی د اندلس د خلکوپه بلنه راغلی دی، چې څه وخت تېرشو نو د "ابن عباد" لورګانې په داسې حال کې د خپل پلار ليدلوته ورغلې، چې پښې لوڅې، د ژړا او لوږې په حال کې خېرې پېرې وې، نوکله يې چې خپلې لورګانې په دروازه کې په دې دردونکې حال کې وليدې، ويې وويل: پخوا تا په اخترونوکې خوشحالي کوله، خو اوس دربانديې اخترغم شو، چې په "اغمات"کې بندي پروت يې، ته دې خپلې لورګانې په زړوجاموکې ګورې، چې وږې دي، دوی دې خلکوته جامې اوبدي او د خورما د بځرکي په اندازه هېڅ هم نه لري، ستا سلام ته دعاجزۍ په حال کې داسې رابنکاره شوي، چې د دوی سترګې دردېدلې اوځوربدلې دي، په ختوکې داسې پښې لوڅې ګرځي، ګواکې دوی پخواهېڅ په مشك اوکافورو کې نه وې ګرځېدلې .

بيا شاعر"ابن لبابه" ابن عباد ته زندان ته ورننوزي او ورته وايي، ته د سوکالۍ او امن کشمالی بوی کړه، پرکوم باندې چې ما مشك اوعنبرشيندلي اوکه حقيقت درڅخه ورک وي، نوپه کنايه کې ووايه چې ته د نعمتونوڅښتن وې، ځکه پرتا خو پېرزوشوې وه ،پرتا باران وژړل او باد دربانديې خپل ګريوان څيرې کړ، په داسې حال کې چې برېښنا د خيرخبرتيا ورکوله هم ستانوم ته حيرانه وه . دا يوه ښکلې قصيده وه چې امام الذهبي هم رانقل کړې اوهغه يې ستايلې ده .

امام ترمذي د"عطاء"په روايت له عائشه(رضی الله عنها)څخه رانقلوي چې هغه بي بي يوه ورځ د خپل وروړعبدالله د قبر څنګ ته، چې په مکه کې ښخ و تېرېدله، نوپرقبريې څه شېبه ودرېده، سلام يې پرې واچوه او بيا يې وويل : ای عبدالله! زما او ستا مثال هاغسې دی، لکه څرنګه چې "متمم" ويلي دي : ډېرکم وخت موږ د "جذيمه" قوم د دوه ملګروغوندې وو، داسې به ويل کېدل، چې دا دواړه ملګري به هېڅکله بېل نه شي، موږ په خپلوکې ډېرښه ژوند تېرکړی دی، حال دا چې له موږڅخه مخکې د "کسرۍ" او" تُبّع" قومونوته هم مرګ وررسېدلی و، کله چې موږ سره بېل شو، نو د ډېرې مينې له امله داسې برېښېده

لکه زه او مالك يوه شپه هم يوځای نه يو ويده شوي او نه مويوه شپه يوځای تېره کړې ده، عايشه (رضي الله عنها) په ژړا شوه، اوبيا د خپل ورور له قبرڅخه روانه شوه .

عمر(رضي الله عنه) به "متمم بن نويره" ته ويل : ای متممه ! پرالله قسم دا زما ستر ارمان دی، چې کاشکی زه شاعر وای او د خپل ورور"زيد" په حق کې مې شعرويلی وای، قسم پرالله، هروخت چې د نجد له اړخه د سهار باد رالوځي ماته ترې د "زيد" بوی راځي . ای متممه! بېشکه چې زيد له ما څخه مخکې مسلمان، مخکې مهاجر اومخکې شهيد شوی دی، بيا عمر(رضي الله عنه) په ژړا شو .

متمم په خپل شعر کې وايي : يودوست مې زه هغه مهال چې د قبرونو ترڅنګ به مې ژړل داسې ملامتولم، چې ولې مې له سترګو څخه اوښکې بهيږي او راته يې وويل، ايا ته چې هر قبرګورې دهغه چا له پاره ژاړې چې قبريې د "لوئ" او"دکادك" په منځ کې پروت دی ؟. ماورته وويل، بېشکه يوغم بل غم راپاڅوي، نو ته ماپرېږده، دا هريو قبر د مالك قبردی . د "بنوالاحم" کورنۍ چې پر اندلس - اوسنۍ اسپانيه - يې ټولواکي کوله د دښمنانوله خوا سخته وځپل شوه، نوشاعر"ابن عبدون"هغوی ته دغمرازۍ له پاره ورغی او دهغوی د غميزې په اړه يې خپله خواشيني داسې څرګنده کړه، وخت دومره ناخوالې منځته راوړې، چې کله کله خو د يوه شي د له منځه وړلو څخه وروسته دهغه شي نښې هم ختموي، نوپه تشوشکلونو اوانځورونو ژړا په کار نه ده، زه ستا له نصيحت څخه سرنه غړوم،اوتا بيا بيا د زمري د پنجواو داړوترمنځ له خوب څخه ايساروم ﴿کله چې زموږعذاب راغی د هغوی سيمه موپربل مخ واړوله﴾.هود ۱۱:۸۲

﴿بېشکه چې د دې ژوند مثال د هغه باران په شان دی، چې له اسمانه مو راورولی دی، نو د باران د اوبوپه واسطه نباتات ګډوډ شي، چې بيا ورڅخه انسانان او څاروي خوراک کوي، ترهغې پورې چې ځمکه ښکلې اوښه ښايسته- شنه- شي اود دې ځمکوخاوندان ګومان وکړي، چې بېشکه د دوی له توان څخه دا پوره ده چې له ځمکې څخه فصل واخلي، ناګهانه په شپه يا ورځ کې په دې ځمکه زموږ پرېکړه وشي- هغه له منځه ولاړ شی- نوهغه کښت داسې شي لکه چې ريبل شوی وي او داسې ښکاري لکه په دې ځمکه باندې چې پرون دغه کښت هېڅ شتون نه درلود .

***

## د ټينګې رضامندۍ مېوې

﴿ الله له هغوی اوهغوی له الله څخه راضي شوي دي﴾. المآئده ٥ :١١٩

د الله پر پرېکړوخوښېدل ډېرې ايماني مېوې لري، چې دغه راضي انسان لوړو پوړيوته پرې رسيږي، نورهم باوري کيږي، عقيده يې کلکيږي، خپلوخبرو، کارونو اوحالاتو کې ډېر رېښتينی کيږي . يوانسان هغه وخت د بشپړعبادت خاوند شي، چې کله الٰـهي پرېکړو او پېښنو ته غاړه کيږدي، هغه پيښې چې په ښکاره ډول ورته ناخوښه برېښي اوپرهغوشيانو چې دې انسان ته خوښ وي راضي اوچې کوم ورته ناخوښ وي ناراضه شي، نو دا شخص د الله تعالٰی له عبادت څخه ډېرلرې دی، هغه په صبر، توکل، رضا، عاجزۍ اومات ورمېږعبادت نه دی پوره کړی.

بشرته په دې اړه اختيار نشته، بلکې د وېش ټول واک له الله تعالٰی سره دی، يواځې الله تعالٰی دعلم څښتن، اوچت او د حمکت خاوند دی، ځکه چې هماغه ذات په غيبي اوپټوشيانوخبراود پايلوپوهه يې هم له الله تعالٰی سره ده .

***

## د الله تعالٰی رضا د انسان په رضاپورې تړلې ده

انسان بايد په دې پوه شي، چې الله تعالٰی ورڅخه هغه وخت راضي کيږي، کله چې دی له الله تعالٰی څخه په ټولوحالاتوکې خوښ اوسي، که د الله پاک په لږرزق راضي شو الله تعالٰی به ورڅخه په لږعمل راضي شي، انسان چې په ټولوحالاتوکې له الله(ﷻ) څخه خوښ وي، نوډېرژربه ووينې چې د الله پاک رضا يې ترلاسه کړې ده، مخلصوخلکوته وګورئ چې له لږعمل سره سره ورنه الله پاک خوښ اودوی هم له الله(ﷻ) څخه راضي وي، بل طرف منافقينوته وګورئ، چې الله پاک يې لږ او ډېرعمل قبول نه کړ، ځکه چې هغوی الله تعالی او د هغه احکام يې بد وګڼل، نو الله(ﷻ) يې کړنې تباه کړی .

***

## څوک چې ناراضه شوهغه د الله په قهر ککړشو

ناخوښي، د غم، اندېښنې، خفګان، د زړه د ناقرارۍ، د فکر د خړوالي، د ژوند د خرابۍ اوپرالله (ﷻ) باندې د بدګومانۍ دروازه ده، خود الله تعالیٰ په پرېکړو او کړنوخوښي څرګندول له پورتنیو ټولو بدمرغیو څخه د ژغورنې مهمه لار ده، او د دې لامل ګرځي چې انسان ته د آخرت له جنت څخه مخکې د دنیا د جنت دروازه پرانیستل شي . د نفس خوښي له برخلیک اوپرېکړه لیک سره په جنګ کې نه، بلکې الله ته په غاړه اېښودلوکې ده، ځکه چې هغه کارسموونکی او د حکمت څښتن دی، هغه ذات په پرېکړه او وېش کې په بې حکمتۍ سره نه شي تورن کېدلای . په دې اړه تل زما د فیلسوف "ابن راوندي" قېصه رایادېږي چې له نېستۍ سره سره ملحد - بې دینه - انسان و، یوه ورځ یې یو نالوستی اوناپوه کس ولیده چې د ماڼیو، کورونواومالونوڅښتن و، نوهغه پورته اسمان ته وکتل بیا یې وویل : زه چې د نړۍ فیلسوف یم غریب یم، دا بل چې جاهل انسان دی ښه ژوندلري، دا خو یو ظالمانه وېش دی!! نو الله تعالیٰ ورته لا پسې ذلت، تنګي، هلاکت ورپه برخه کړل . ﴿ د آخرت عذاب ډېر رسوا کوونکی دی ځکه چې هلته به هېڅ کومك ورسره نه شي کېدای ﴾. فصّلت ۱۶:۴۱

په الٰـهي پرېکړو د خوښۍ ګټې: په الٰهي پرېکړوباندې خوښي څرګندول زړه یخ او ډاډه ساتي، له همدې امله کله چې راضي انسان ته کومه شك پیدا شي، نو سمدلاسه زړه یې د الله اود هغه د پیغمبر د ژمنو لورته پام وکړي، قدم یې ټینګ شي، بیا د حال په ژبه وایي: ﴿ دا هماغه څه دي چې الله اوپیغمبر یې له موږ سره ژمنه کړې وه او د الله او د هغه د رسول خبره په بشپړه توګه رېښتیا ده،نو دغې پېښې دهغوی ایمان اوالله ته ځان سپارل لا پیاوړي کړل﴾.الاحزاب ۲۲:۳۳خود ناراضه انسان زړه بیا دستونزو اوغمیزوپه وخت کې د سختې ناقرارۍ، شك، زړه نازړه توب، لړزې، اندېښنې، ناروغۍ او ګډوډۍ ښکارشي، چې بیا د حال په ژبه داسې وایي : ﴿ الله اوپیغمبریې له تېرویستلوپرته موږ سره بله ژمنه نه ده کړې﴾. الاحزاب ۳۳: ۱۲

د دغه زړونود څښتنانویوعادت دا هم وي، چې کله ورته ځانونه د یوڅه شي وړ وبرېښي، نو د هغه په اړه سخت تلوارکوي، خوکله چې له دوی څخه حق وغوښتل شي بیا بې پروایي کوي، که خیر ورته ورسیږي، نوخوشحاله او ډاډمن شي، که له سختۍ اوستونزې سره مخ شي، نوناراضه کیږي، له اسلام څخه وتل غوره وګڼي، چې په دغه عمل سره په دنیا او آخرت کې زیانمن کیږي.﴿او همدغه څرګند تاوان دی ﴾. الزّمر ۳۹: ۱۵

رضامندي بنده په دې ډاډه کوي چې له دې پرته ورته بل ګټور کارنشته اوکله چې انسان ته ډاډ ورپه برخه شي، نوټول کارونه اوحالات یې سم، فکریې برابرشي، اوناخوښي انسان له دې ګټوڅخه دخپل کمښت اودېرښت په اندازه لرې کوي، خوکله چې له انسان څخه ډاډ ولاړشي، نوپه حقیقت کې ورڅخه خوشحالي، امن، راحت اوښه ژوند له منځه ولاړشي، لنډه دا چې دالله تعالی له لویو پېرزوینو څخه یوه دا ده، چې انسان ته قراراو ارامتیا ورپه برخه شي . د دې سکون لوی لامل په هرحالت کې له الله(ﷻ) څخه خوښېدل دي .

یوشاعروایي : موږستاسوپه خاطرد مینې لارکې ډېرترخه څښلي دي، موږد بېلتون غم زغمو،خو له خپلوخفګانونوڅخه سرنه ټکوو، ستاسویاد موږ ته تل خوشحالي رابخښي او زموږ د زړه همېشه هیله دا ده چې تاسوزموږ لیدنه اوکتنه وکړئ .

له خپل رب سره دې جګړه مه کوه !

د الله پر پرېکړه او وېش باندې خوښي څرګندول بنده د الله له دښمنۍ څخه خوندي ساتي، په داسې حال کې چې له الله (ﷻ) څخه ناراضه کېدل له الله سره د دښمنۍ په معنا ده، ځکه چې دا بنده د الله(ﷻ) په پرېکړه خوښ نه دی، د شیطان د دښمنۍ اصلي لامل همدا و، چې د الله په دیني او دنیایي پرېکړو راضي نه و، نو چا چې بې دیني غوره کړه کافرشو اوچاچې له پوهې سره سره انکاروکړ، نوپه حقیقت کې یې له الله(ﷻ) سره دهغه په لویۍ کې جګړه وکړه او لویي دالله تعالی ځادردی، نود الله(ﷻ) مقام ته یې ونه کتل، لنډه دا چې دا بنده د الله حکمونه وروسته کوي اوناروا ته ځان ورننباسي، په تقدیرناراضه اوپه قضاء یې ایمان نه راوړي .

د الله حکم پلی کېدونکی اوپرېکړه یې عادلانه ده :

د الله فیصله پرانسان عملي کیږي اوهره فیصله یې عادلانه ده، لکه په حدیث کې چې یادونه شوې ده : (( زما په اړه ستاعادلانه پرېکړه شوې ده)). څوك چې دالله تعالی په عدل راضي نه شو، نوهغه سترظالم اوتېری کوونکی دی، الله (ﷻ) د حاکمانوحاکم دی، پرخپل ځان یې ظلم حرام کړی، پرخپلو بندګانوظلم نه کوي، الله(ﷻ) له ظلم څخه پاك دی، خوبنده ګان دي چې پرخپلو نفسونوظلم کوي .
د پیغمبر(ﷺ) په دې وینا کې، چې ((زما په اړه ستاعادلانه پرېکړه شوې ده )). د ګناه اودعذاب دواړه ډوله قضاء رانغاړي، الله(ﷻ) چې کله دګناه کولویا د سزا

ورکولو پرېکړه کوي، نوپه عدل یې کوي ځکه چې هغه خود عادلانوعادل ذات دی، د ځینورازونوپه سبب د بنده په اړه دګناه کولوفیصله کوي، چې په خپله وربانديٰ ښه پوهيږي اود بنده له پاره په کې داسې ګټې پرتې وي، چې له الله(جل جلاله) پرته بل هېڅوك پرې نه پوهيږي .

په ناخوښۍ کې هېڅ نشته : بنده هلته ناراضه شي چې دخوښې شیان ورته ورنه کړل شي او یا ورته کوم زیان ورسيږي، که انسان په دې عقیده شي، چې کوم شی ورته نه وي مقررشوی هېڅکله به ورته ونه رسيږي اوچې څه ورته مقرر- ټاکل شوي- وي په هېڅ حالت کې به ترې ایسارنه شي، نو بیا ورته ناخوښي ګټه نه لري، خو دومره خبره به وي چې خوښ شیان به یې نه وي ترلاسه کړي، یا به یې بد شیان له ځان څخه نه وي ایسارکړي . په بل حدیث کی داسې ویل شوي دي: (( ای ابوهریره !ته چې په راتلونکي کې له کوم شي سره مخامخېدونکی یې قلم پرې نورلیکل نه کوي ځکه چې الـهي پرېکړه سرته رسېدلی ده، د هرشي برخلیک لیکل شوی، قلمونه لیکل نه کوي اوعملپاڼې ترل شوي دي)) .

سلامتیا په رضامندۍ کې پرته ده : د سلامتۍ دروازه رضامندي ده چې بنده ته روغ زړه ورپه برخه کوي، له هرډول خیانت، بدۍ اوناپاکۍ څخه زړه ژغوري، دالله له عذاب څخه هغه څوك ژغورل کيږي چې په روغ زړه له الله پاك سره مخامخ شي، داسې زړه وي چې د شک، ګومان،شرک، د شیطان اودهغه د لښکرو له هرډول وسوسو، دوکې، دروغجنوژمنواو وېرولوڅخه پاك او ساتلی وي، خو دا چې په دې زړه کې له الله پرته بل هېڅ شی نه ځایيږي .

﴿ ای پیغمبره ورته وایه الله نازل کړي وو، بیا دوی پرېږده چې خپلو اوتو بوتو سره لوبې وکړي﴾. الانعام ۶:۹۱

همدا راز دا لرې خبره د ه چې یو زړه دې له ناروغۍ څخه ترهغې روغ پاتې شي، ترهغې چې هغه راضي نه وي اوڅومره چې بنده ډېرراضي وي، نو هماغومره یې زړه روغ وي، ناپاکي، خیانت او بې دیني، دا ټول له ناخوښۍ سره ترلي دي او د زړه روغ والی اوتقوی له رضا سره ترل شوي دي . همدا رازد ناخوښۍ بله مېوه کینه او د رضا مېوه له کینې څخه د زړه پاکوالی دی . رضامندی هغه ونه ده چې د توحید په بڼ کې د اخلاص په اوبوخړوبيږي، ښېخ یې ایمان دی او نېک عملونه یې ښاخونه دي، چې مېوه یې ډېره خوندوره وي ،حدیث شریف دی چې (( د ایمان مزه هغه چا وڅکله، چې الله پاک ته په ربّانیت،

اسلام ته په شریعت او محمد (ﷺ) ته په پیغمبرۍ باندې راضي شو)).

نا خوښي د شك دروازه ده :

پرالٰهي پرېکړو ناراضه کېدل، دالله په پرېکړه، وېش، حکمت اوعلم باندې شك پیدا کوي، ناخوښ انسان ډېرکم وخت د زړه له شك څخه په امان وي، په زړه کې يې تل شک داسې خوټېږي، چې دی ورباندې نه پوهیږي، که خپل نفس ته ښه ځیرشي، نو وبه ګوري چې یقین اوایمان يې ناروغه دی، شیطان په کې ننوتی دی، لکه څرنګه چې شك او ناخوښي دوه نه بېلېدونکي ملګري دي دارنګه یقین اورضا دوه نه بېلېدونکي ورونه دي . دا د هغه حدیث معنا ده چې امام ترمذي رانقل کړی دی . (( که ته کولای شې په یقین او رضا دواړوعمل وکړې، نو دا کاروکړه، که له توان څخه دې پوره نه وه، نوپه ستونزوباندې صبرکولوکې ډېرخیرونه شته)) .

پرالٰهي پرېکړوباندې ناراضه خلك ان که په خوله هېڅ نه وايي، خوهمېشه دننه په کړاو اخته وي، هغوی تل ډېرې زیاتې پوښتنې کوي، وايي به چې دا کارولې داسې شو، دابه څرنګه شي او دا ولې پېښ شول ؟

پر الهی پرېکړو خوښېدل شتمني او سوکالي ده :

څوک چې پرالٰـهي وېش باندې خپل زړه له خوښۍ څخه ډك کړي، نوالله تعالیٰ به يې سینه د نفس په شتمنۍ، ډاډ او قناعت هلته وردکه کړي، چې خپل زړه د الله تعالیٰ په مینه، هغه ته په ورګرځېدو او ورباندې یقین کولوته په ځانګړي ډول خالي اوتوکل پرې وکړي اوڅوك چې له رضامندۍ څخه بې برخې شو، نو زړه به يې د پورتنیوصفاتو پرضد صفاتوڅخه ډك او له نېکمرغۍ او بریالیتوب څخه به يې پام واوړي . د الله پرپرېکړوچې بنده رضا شي، نو زړه يې د الله (ﷻ) په مینه ډک شي اوکله چې پرې ناخوښي منځته راغله، نو زړه د الله پاک له محبت څخه تش شي . ناراضه انسان ژوند او ناشکره انسان قرار نه لري، تل به په ناقراره حالت کې وي، خپله روزي کمه اوبرخه بې ارزښته ګڼي، خپلې غمیزې ورته غټې ښکاري، ځان ورته د ډېرشي وړاو يا د لوړمقام حقدارښکاري، آن تردې داسې انګیری، چې ګواکې الله (ﷻ) يې برخه کمه کړې ده، نو دا ډول انسان به څرنګه خوښ او ډاډمن شي اوڅرنګه به نېکمرغه ژوند تېرکړي؟. ﴿ د سزا لامل يې دا وچې دهغه کارپسې روان شوچې هغه کارد الله د قهرلامل وګرځېده، او د الله رضا ورته بده ښکاره شوه، نوالله يې هم ټولې کړنې

له منځه یوړې﴾. محمد ۴۷:۹

پر الٰـهي پرېکړو د خوښۍ مېوه شکردی :

خوښي یا رضامندي د شُکرمېوه منځته راوړي، چې په حقیقت کې دا کار د ایمان له لوړو پوړیو څخه شمېرل کیږي، بلکې په اصل کې د ایمان حقیقت همدا دی ځکه د ایمان د وروستي پاټکي موخه همدا وي، چې دخپل پالونکي رب شکر ترسره شي اوهغه څوك چې د الله تعالیٰ په حکمونو، کارونو، حکمت، ورکړه باندې نه خوښیږي، نوهغه شخص په حقیقت کې د الله (ﷻ) شکرنه پرځای کوي، لنډه دا چې شکر ویستونکي خلك ترټولو زیات د ښه حالت او غوره عقل څښتنان وي .

د الله پرفیصلو باندې د ناخوښۍ مېوه کفر وي :

په پېرزوینوشکرکول چې دخوښۍ نتیجه وي، نوڅرګنده خبره ده چې د ناخوښۍ مېوه به د نعمتونو ناشکري وي، چې هغه بیا د دې لامل هم ګرځېدای شي، چې بنده له خپل لوروونکي (ﷻ) څخه منکرکړي، کله چې بنده له خپل رب څخه په خپلوټولوحالاتوکې خوشحاله شو، نو د خپل رب شکریې ترسره کړ، د راضي شوو او شکر ویستونکوله ډلې څخه به وګڼل شي، اوچا چې ناخوښي څرګنده کړه، نو په حیقت کې یې د کفارو لار نیولې او د خپل رب پر پرېکړو خفه او په قهر دی . په عقیده او دین کې یې نیمګړتیاهم له دې ځایه منځته راځي، چې په بنده ګانوکې ډېر داسې خلك شته چې غواړي خپل ځانونه د نورو بنده ګانوخدایان وګرځوي، دا لا څه چې پرالله باندې هم نیوکې کوي، دا بې ادبي هم کوي چې پر الله تعالیٰ باندې د ځان له پاره دهغوشیانو روا کول غواړي، چې د دوی مزاج او طبیعت یې غواړي.

﴿ای مؤمنانو! د الله اودهغه له پیغمبره مخکې پرېکړې مه کوئ﴾. الحجرات۴۹:۱

ناخوښي د شیطاني چلونوسترجال دی :

ډېری وختونه شیطان پرانسان باندې د ناخوښۍ اوشهوت په حالت کې برلاسه کیږي اوپه ځانګړي ډول کله چې انسان ډېرناراضه اوپه قهرشي، نوشیطان یې بیاپه اسانۍ سره ښکارکړي، بیا داسې څه کوي او وایي چې هغه د الله تعالیٰ د خفګان لامل کیږي . له همدې امله رسول الله (ﷺ) د خپل زوی "ابراهیم" د مړینې پرمهال وویل : (( سترګې اوښکې تویوي، زړه خوږیږي،

خوموږهغه څه نه وایو، چې زموږ رب ناراضه کوي)).

د زامنو مړینه یوه داسې پېښنه ده، چې له امله یې ډېرخلك پرالٰـهي پرېکړه ناراضه کوي، خپله ناخوښي اوقهرڅرګندوي، نو رسول الله(ﷺ) خبر ورکړ، چې په دې ځای کې به هغه څه نه وایي، چې نور زیات خلك یې وایي، چې خپل رب په ناوړوڅرګندونو اوکړنوناراضه کوي، بلکې یواځې هغه څه به وایي چې الله تعالىٰ پرې خوښېږي . که انسان د الله(ﷻ) پرهغوفیصلوباندې چې په ښکاره ښه ورته ببرې برېښي پر درېو خبرو غور وکړي، نو هرومرو به یې ستونزې اوغمیزې ورته اسانه شي .

لومړی : بنده باید په دې ښه پوه وي، چې الله په خپله پرېکړه او وېش کې د حکمت څښتن دی او الله(ﷻ) د بنده په ګټه اومصلحت ښه پوهېږي .

دویم : هغه لوی اجر او ډېر ثواب ته نظر وکړي، چې الله(ﷻ) یې له غمځپلوسره ژمنه کړې ده .

درېیم: الله(ﷻ) د پرېکړې واکداراوبنده یواځې ورته دغاړې اېښودلواو منډې وهلواختیار لري . ﴿ ایاهغوی ستاد رب رحمت ویشي﴾. الزخرف۴۳:۳۲

پر الٰـهي پریکړو خوښېدل نفسي غوښتني له منځه وړي:

د الله پاک پر پرېکړو خوښي څرګندول، نفسي غوښتني او له زړه څخه هوا وباسي، له همدې امله خوښ او راضي بنده دخپل رب په تولوامرونو پسې روان وي، چې وروسته بیا دهمدغه بنده دخوشحالی لامل هم وګرځي، نچوړ دا شو، چې په زړه کې په یو وخت کې دوه شیان یعنې په الٰـهي پرېکړو خوښېدل او د نفس په لاره تلل نه ځایږي اوکه دچا په زړه کې له دواړو برخو څخه څه اندازه پرته وه، نوپه دې صورت کې بیا اعتبارهغه زورورحالت دی . شاعروایي : که زماپه بې خوبی کې ستاسوخوښي وي، نوبیا دې په خوب باندې د الله سلام وي .

﴿موسىٰ ووبل، ماځکه تلوار وکړ، چې ته راڅخه راضي شې﴾. طٰه۲۰:۸۴

شاعروایی : که ستاسوپټ رازهغه وي چې زموږغماز ښکاره کړی وي، نوبیاخو زما زخم په هغه صورت کې چې زه تاسو راضي کړم هېڅ درد نه لري .

***

## لنډه دمه

پيغمبر(ﷺ) وايي: (( الله تعالی په هوسا اوسوکاله حالت کې وپېژنه، نو هغه به تا د ستونزې پرمهال وپېژني )).

ته د پراخۍ، سوکالۍ، نعمتونو، دعمرد اوږدوالي، د بدن د روغتياپه حالت کې خپل رب ته په بندګۍ، عبادت، د نعمتونوپه شکرويستلو، په غميزوکې په صبراو زغم، د غمونو د پېښېدوترمخه الله ته په رېښتيني ډول زارۍ کولوسره ځان ورنژدې اوخوږکړه، د ښوکارونولارغوره اوپه ښېګڼوکې مال ولګوه، نوته به په دغه صورت کې دالله په وړاندې په سختيوکې وپېژندل شې، هره ستونزه به درڅخه لرې او اسانه کړي، اندېښنې به دې لرې کړي اود دغوټولوحسانونولامل هغه پېژندګلوي ده، چې تا له الله سره په خوښۍ کې لرله.

بنده ته ښايي چې له خپل پالونکي ذات سره په زړه کې ځانګړې پېژندګلوي ولري،په هرحالت کې يې ځان ته نژدې او کافي وګڼي، نوپايله به يې دا وي چې په ګوښيتوب کې به د رب محبت ورسره وي اوهمدارنګه به يې يادونه، بلنه، زاري اوبنده ګي ورته يوځانګړی خوند ورکوي، هرډول دنيايي ستونزې به پرې اسانه تېرېږي، د عالم برزخ- دقبرپړاو- دحشرپه ميدان کې د الله تعالی په وړاندې ودرېدل او دې ته ورته نورستونزمن اوسخت حالتونه ورته اسانېږي . که د بنده اورب ترمنځ ښه پېژندګلوي او اړيکې وي، نوهمدا د ټولوځای نيسي .

***

## د مسلمانو ورونو پر وړو تېروتنو بايد سترګې پټې شي

﴿اې پيغمبره! د بخښنې لاره خپله کړه، د نېکيوپه لوربلنه کوه او له ناپوهانوڅخه څنګ ته شه﴾ . الاعراف۷:۱۹۹

چاته نه ښايي چې له مسلمان وروړڅخه له دې امله بې پروا او خفه شي چې هغه د يو يا دوه داسې خويونوڅښتن وي چې په خپله يې بد ګڼي، په داسې حال کې چې نورپاتې ټول يا ډېرخويونه اواخلاق يې په زړه پورې وي، ځکه چې لږه نيمګړتيا خوپه هرچا کې د بخښنې وړده، سل په سلوکې بشپړتيا خوپه بشريت کې ناشونې ده .

"کندي" وايي : ته له ملګري څخه څنګه د يوه خوی غوښتنه لرې، په

داسې حال کې چې هغه د ځلوروطبعیتونوښښتن دی . سره له دې چې د انسان خپل نفس ځښتن او واکمن دی، په خپله خوښه چلیږي اوانسان ته نفس ترټولوځانګړی مقام لري، خوهېڅکله دا نفس خپل خاوند ته پوره اختیارنه ورکوي اونه یې هر مهال خبره مني، نو د بل چا د نفس په اړه به څرنګه وتوانیږي !؟ ﴿ لکه د پخوا په څېربیاهم الله پرتاسوپېرزوینه وکړه﴾. النّسآء ۴:۹۴

﴿ نوتاسودخپلوځانونود سپېڅلتیا دعوه مه کوئ، الله هغه څوک ډېرښه پېژني چې ورځنې وېرېږي﴾. النّجم۵۲:۳۲

په دې برخه کې تاته همدومره بس دی، چې ستا د یوه مسلمان ورور ډېر خویونه خوښیږي . ابودرداء (رضي الله عنه) وایي، د مسلمان ورور د نشتوالي نه به تاته داغوره وي، چې ملامتیا ومنې، ځکه چې پوره ورور به چیرې وموميې!؟ شاعرانو بیا د ابوالدرداء(رضي الله عنه) دا وېناپه خپلواشعاروکې رانغاړلې ده، "ابوالعتاهیه" وایي، وروره! د دنیاپه خلکوکې به ته کوم داسې ورورپیدا کړې، چې هغه به په بشپړه توګه پوره وي !؟

"ابوتمام طائي" وایي : انسان ته هېڅ شي دومره تاوان نه دی رسولی، لکه څومره یې چې عقل وررسولی دی، ته به په معنا پوره ورورکله وموميې!؟ یوعالم وایي : له نوروڅخه د پوره انصاف غوښتنه په خپله بې انصافي ده .

یو بل وایي : موږ لا د خپلوځانونوڅخه په پوره توګه خوشحاله نه یو، نو له نوروڅخه به څرنګه خوښ شو!! یولیکوال وایي: داسې انسان چې خوی او اخلاق یې تاته د منلووړ وي، درنښت، پوهه او هوښیاري یې هم تاته روښانه وي، نو که کوم پټ وړوکی عیب یا کومه کوچنۍ تېروتنه یې تا ته جوته شوه، په داسې حال کې چې هغه نوربې شماره ښه اړخونه هم لري، نوتاته په کارنه ده، چې د دغسې ورور په اړه ته له بې پروایۍ څخه کار واخلې، ځکه چې ته به دخپل ژوند ترپایه هېڅ داسې شخص ونه مومې، چې هغه دې د خوی او اخلاقوله اړخه داسې پوره وي، چې هېڅ نیمګړتیا به په کې نه وي، خیردی په دې اړه لومړی ته په خپل نفس کې فکر وکړه، خوشحالي اوغوښتنې یې یو اړخ ته پرېږده، بیاپرې له پوره باورنه وروسته هغه وازمایه، نوهلته به پوره تسل اوحیقیت درته څرګندشي، بیابه کله هم خپل مسلمان ورورپه تېروتنه نه ملامتوې .

یوشاعر وایي: هغه به څوک وي چې ټول خویونه یې خلکوته ومنل شي، د انسان د درنښت همدا نښه ده چې عیبونه یې شمېرل کېږي .( خلک

ورپسې ګوتې لګوي ) . ژباړن .

نابغه شاعر"ذبياني" وايي: څوک به له عيب څخه خالي وي؟ که ته خپل ورور په يوې نيمګړتيا پرېږدې، نوهېڅ ورور يا ملګرى به درته پاتې نه شي .

اودا خبره هغه څه نه ردوي د کومې ازموينې بيان، چې موږ وکړيعنې د خويونو له پلوه بشپړوالى ناشونى دى، ځکه چې انسان دخپل نفس او د نورو څلورو خويونوپه ازمېښت کې پروت دى، دا خوڅرګند حقيقت دى چې انسان په ناشوني کاربانديې ملامت نه وي، بلکې بخښل کيږي، له دې امله تاته نه ښايي چې مسلمان ورور د يوې نيمګړتيا له امله نا اشنا وګڼې او يا وربانديې د يوې کمزورۍ پرمهال بدګوماني وکړې، که تاته په رېښتياسره دهغه بدلون اوبدې څرګنده شوې وي، نو نيمګړتياوې بايد د نفسونو اومزاجونو پرکمزورۍ وتپل شي، سره له دې چې انسان ته خپل نفس غوره وي، خوکله کله داسې نيمګړتياوې پيښيږي چې بيا د خپل ځان لحاظ هم نه کوي او دا به په دې معنا نه وي چې له خپل ځان سره د انسان دا ډول چلند د دښمنۍ او يا سترړيا له امله دى.

د يوهانو له نثرونو څخه يو دا دى : په داسې حال کى چې تاخپل ملګرى د يقين په بنسټ سره غوره کړى وي، نو پام کوه چې تش ګومان يې درڅخه خفه نه کړي. "جعفربن محمد" خپل زوى ته داسې وايي، اى بچوړيه! که له مسلمانانو ورونوڅخه کوم يوپرتابانديې درې ځله په قهرشو اوبيا يې ستاپه اړه له حق پرته نورڅه ونه ويل، نوته دغه شخص خپل ځانګړى دوست ونيسه . "حسن بن وهب" وايي : د دوستۍ له حقونوڅخه يودا دى، چې له ملګرو سره له بخښنې نه کار واخيستل شي اوکه نيمګړتيا ولري ورڅخه سترګې پټې شي .

له علي(رضي الله عنه) څخه د دې آيت د معنا پوښتنه وشوه: ﴿ په ښه ډول له ـ مشرکانوـ څخه مخ وګرځوه﴾. الحجر ۱۵:۹۴

نو، علي(رضي الله عنه) وويل : له ګيلې اوملامتولوپرته رضامندي او خوښي يې مطلب دى . شاعر"ابن رومي" وايي : دا دنيا او دا يې خلك دي، دا خبره هرومرو ده، چې کله به خس په سترګه کې پرېوځي اويا به اوبه خرې وي، او د بې انصافۍ خبره خو داده، چې ته په دنيا کې له اخلاقوڅخه پوره انسان لټوى، حال دا چې ته په خپله له تهذيب نه نيمګړى يې . يو شاعروايي : زموږ پيوستون به د ورځو له تېرېدو سره سره هم پاتې وي، زموږبېلتون د پسرلي

**باران ته ورته دی، داسې چې د وربېدلو پيل يې تا ويروي، خو ودربېدل يې ډېر نژدې او ژر وي . دا چې ته له خپل يوه قهرجن ملګري سره مخامخېږې، نوداسې وانګېره چې ګواکې دا يوکشر ته د مشر لاربنوونه ده او بس . ﴿ که پرتاسود الله فضل نه وی شوی، نوهېڅکله به مو يوکس هم له ګناه څخه پاك شوی نه وای ﴾.**
**النّور ٢٣: ٢١**

**بل شاعر وايي : يعنې ته په بشپړه معنا داسې انسان غواړې، چې هېڅ اخلاقي نيمګړتيا ونه لري، نو ايا د عنبرلرګی له دود پرته بنه بوی خوروي ؟**

*******

## دالله په طاعت کې د وخت اوصحت له نعمتونوڅخه ګټه اخيستل

**تاته په کاردي چې د خپل صحت او وخت له نعمت څخه د الله(ﷻ) په طاعت کې استفاده وکړې، خپل زيارد صحت له پاره او کارد وخت له پاره يو غنيمت وګڼې، په داسې حال کې چې پرخپلو شوو کارونو به باورهم لرې، ځکه چې تل د کارله پاره وخت نه برابرېږي، اوشوي کارونه بيانه شي راګرځېدلای، د وزګاروخت تېرولوپايله بدي يا پښېماني ده، اوګوښېتوب له سمې لارې څخه د کږېدواو يا د خفګان غوندې پايلې لري . عمر(رضي الله عنه) وايي : د نارينه له پاره راحت غفلت اود ښځو له پاره ښايست دی . "بزرجمه" وايي : که بوختيا ستوماني وي، نو وزګارتيا خرابي ده . بل عالم وايی : له ګوښېتوب څخه ځانونه وژغورئ، ځکه چې هغه عقلونه خرابوي اوجوړ کار ورانوي .**

**يوبليغ عالم وايی : خپله ورځ په بې ګټې کارکې مه تېروه اوخپل مال له ښېګڼې پرته په بل کارکې مه لګوه، ځکه چې عمرله دې څخه ډېرلنډدی، چې په بې ګټو کارونو کې تېرشي او مال له دې نه ډېرکم دی، چې هغه دې دخير اوښېګڼو له کارونوڅخه پرته په بل ځای کې ولګېږي . هوښيارسړی له دې څخه ډېراوچت دی چې خپلې ورځې په داسې کارکې تېرې کړي، چې هغه ورته هېڅ ګټه اوخيرنه رسوي، يا دې خپل مال په داسې ځای کې لګوي، چې نه يې اجر او نه يې ثواب په لاس ورځي .... له دغو ټولو نه غوره او رسېدلې وينا د عيسٰی(عليه السلام) ده چې وايي، درې شيان نېکي ګڼل کېږي : خبرې، ليدل او چوپتيا. نو د هرچا خبره چې د الله تعالٰی له ذکرڅخه نه وه، ببشکه چې باطله او بېځايه خبره يې وکړه، دچا نظر يا ليد چې له پند اخيستلو پرته بل څه و، نو بېشکه چې کتونکی تېروتی دی، او د چا چوپتيا چې له فکر پرته بل شی وه،**

نوبېشکه چې بې ګټې کار يې کړی دی .

***

## الله د مؤمنانو دوست دی

بنده يوداسې ذات ته اړتيالري، چې هغه دعبادت وړ وي او همدا راز يوه پالونکي دوست ته محتاج دی . د عبادت وړ ذات بايد د قدرت، مرستې، پرېکړې، ګټې رسولو، بې پروايۍ، زور او په ټلپاتې صفتونوباندې ستايل شوی وي اوپه دغو صفاتوباندې ستايل شوی ذات يواځې هغه رب دی،چې هغه واحد، يواځې، ټولواك او برلاسی ذات دی . له الله پرته په مخلوقاتو کې داسې هېڅوك نشته، چې بنده دې پرهغه ډاډه وي، يا ورته په مخ ورګرځولوخوند واخلي . همدغه الله تعالی دی چې بنده ورسره قرارېږي، يواځې همدا الله دی چې د وېرېدونکو او پنا غوښتونکولپاره پناځای دی، د مرسته غوښتونکومرستندوی او د پناه غوښتونکي ښه ګاونډ دی .

﴿هغه وخت ياد کړه چې تاسو له خپل رب نه په ډېرې عاجزۍ مرسته غوښتله اوستاسودعاء يې ومنله﴾. الانفال ۸:۹

﴿هغه پناه ورکوي خود هغه پرضدڅوك پناه نه شي ورکولای﴾. المؤمنون ۲۳:۸۸

﴿ له الله پرته به يې بل هېڅ دوست اوشفاعت کوونکی نه وي﴾. الانعام ۶:۵۱

اوچا چې له الله تعالیٰ پرته دبل چا عبادت وکړ، که دغه شخص ته په دنيا کې دهغه دروغجن معبود له اړخه څه اندازه محبت دوستي اوخوند هم ورته ورسيږي خودا ګټې په حقيقت کې زيانمنې دي او دغه کس ته د زهر لرونکو خوړو مثال لري . ﴿ که په ځمکه او اسمان کې له الله پرته نور خدايان وای، نو د ځمکې او اسمان نظام به ګډوډ شوی و، خود عرش څښتن له هغوخبروڅخه پاک دی چې مشرکان يې وايي﴾. الانبياء ۲۱:۲۲

د ځمکې اواسمان سمون په دې کې دی چې يواځې د الله تعالیٰ عبادت په کې وشي اوکه په دې دواړوکې له الله تعالیٰ پرته نورومعبودانو شتون درلودلای، نو بياخوبه الله تعالیٰ حق نه وی، ځکه چې الله پاک هېڅ انډول اومانند نه لري، نو حتمي خبره ده چې بيا به ځمکه اواسمان د ګډوډۍ له فساد سره مخ شوي وو، ځکه چې دواړه به له هغه شي څخه بې برخې وای، په کوم شي چې دهغوی

دواړو سمون او جوړېدل منځته راتلل، نوپه يقيني ډول ځرګنده شوه چې بنده خپل معبود، مولا، کافي او مرستندوی ذات ته اړدی، چې په اصل کې د فاني اړيکي له باقي، د کمزوري له قوي اونېستمن له شتمن ذات سره نښتی وي . هرچا چې الله(ﷻ) په الهيت او ربوبيت ونه منه، نوهرومرو به له الله پرته نورشيان، لکه عکسونه، زړه وړونکي او راښکونکي شيان خپل خدای ګڼي، او ځان به ورته مريی کوي . ﴿ ايا تاهغه څوك ليدلی، چې د خپلې هوا اوهوس عبادت کوي﴾. الجاثيه ۴۵:۲۳

﴿ هغوی له الله پرته نورخدآيان نيولي دي﴾. مريم ۱۹:۸۱

(( رسول الله (ﷺ) حُصين ته وويل : ای حصينه! ته د څوخدايانوعبادت کوې؟ هغه ځواب ورکړ د اوو خدايانوعبادت کوم، چې شپږېپه ځمکه او يوپه اسمان کې دی، پيغمبر(ﷺ) ورته وويل: ستا د خوښئ او وېرې خدای کوم يودی؟ هغه ورته وويل هغه چې په اسمان کې دی، نو رسول الله(ﷺ) ورته وويل : ته هغه پرېږده چې په ځمکه کې دي، د هماغه ذات عبادت وکړه چې هغه پاس په اسمان کې دی)). پوه شه ـ ای لوستونکيه ـ! چې بنده الله تعالی ته په دې کې اړدی، چې يواځې د همدغه(ﷻ)عبادت وکړې، شريک ورسره پيدا نه کړي، الله تعالی هېڅ داسې اندول اومانند نه لري چې الله(ﷻ) ورسره پرتله شي، د بنده حاجت الله ته داسې دی، لکه بدن چې خوراك اوڅښاك ته اړتيا لري، خوبيا هم ترمنځه يې ډېر توپيرونه شته، ځکه چې د بنده حقيقت اوبنسټ د هغه زړه او روح دی او د دغو دواړو سمون له بېڅوکه الله پرته په بل هرشي سره ناشونی دی، لنډه دا چې زړه او روح په دنياکې د الله تعالیٰ له يادڅخه پرته په بل هېڅ شی نه شي ډاډه کېدلای، د الله(ﷻ) په لورزيار ويستونکي او په پای کې ورسره هرومرومخ کېدونکي دي .

شاعروايي : څوک چې د الله تعالی ليدلو ته لېواله وي، نو الله پاک به د هغه ليدلو ته ډېرخوښ وی، اوڅوک چې د الله (ﷻ) ليدلوته لېواله نه وي، نو الله هم د هغه ليدل نه خوښوي، نو ته له الله تعالی څخه د رحمت او فضل غوښتنه کوه او مه ستومانه کيږه . که چاته پرته له الله تعالی څخه څه خوندونه اوخوښي ورپه برخه کيږي، نوهغه به همېشه نه وي، بلکې کله کله به ورپه برخه شي، همدارنګه دا خوښي له يو ډول نه بل ډول او له يوشخص څخه بل ته نقل کيږي، اوکله داسې وشي چې بيا همدا خوند ورشي، خو نه ګټه لري او نه مزه، بلکې زيانمن شي، لکه څومره چې د دغه بنده پالونکی رب رېښتونی دی، نو په هرمهال ورسره موجود وي . يو زاهد په شعر کې وايي : چې ته راڅخه خوښ

شي، نور خلك دې په غصه وي، خوکله چې ته راضي شې، نوهمدا زما ستر او وروستنی ارمان دی .

پيغمبر(ﷺ) وايي : ((چا چې دخلکوپه خفګان سره الله تعالٰی خوشحاله کړ، نوالله (ﷻ) به ورځخه راضي شي اونورخلك به هم ورځخه راضي کړي او چاچې د خلکو دخوښې له پاره الله تعالٰی ناراضه کړ، نوالله تعالٰی به هم له ده ځخه ناراضه شي او نورخلك به هم ورځخه خفه کړي)). په دې اړه ماته تل د شاعر"عکوك" هغه قېصه راپه زړه کيږي چې، د وخت د يوه سترچارواکي "ابو دلف" ستاينه يې کړې وه او داسې يې ويلي وو: ته هېځکله د مرستې اوښېګڼې غوښتلوله پاره لاس نه اوږدوې، مګرته د خلکود روزۍ او اجلونوپرېکړه کوې، نو الله تعالٰی وربانديې مامون مسلط کړ اوهغه يې د دغه شعرويلو له امله وواژه . (ځکه چې په ځرګنده توګه يې د دين خلاف خبره کړې وه ).

﴿ همدارنګه موږظالمان د خپلوکړنوله امله يوپربل برلاسي کوو﴾. الانعام ۶:۱۲۹

***

## ځېرونکو ته په لاره کې ځو اشارې

نېکمرغي اوبرياليتوب روښانه نښې لري چې له ورايه ښکاري او د خپل ځښتن په لويوالي، برياليتوب او لوړوالي دلالت کوي . د نېکمرغۍ له نښوځخه داهم يوه نښه ده، چې ځومره د نېکمرغه بنده علم زياتيږي په هماغه اندازه يې عاجزي اومهرباني هم ډېريږي، چې دا د يوه قيمتي کاڼي په ځېر وي، هرځومره چې د کاڼي وزن اوسوچه والی ډېريږي په هماغه اندازه د سمندرببخ ته کوزيږي، نچوړ دا چې دا شخص په دې پوهيږي چې علم يوه قوي الٰهي ورکړه ده، الله تعالٰی پرې ځينې بندګان ازمايي، که دغه بنده د دې نعمت شکرپه ښه ډول پرځای کړ، د قبلېدو له پاره يې ښه لاره غوره کړه، نوالله (ﷻ) به يې درجې لوړې کړي .
﴿ الله پاک په تاسوکې دايمان اودعلم د خاوندانومرتبه لوړوي﴾. المجادله ۵۸ : ۱۱

د نېکمرغه انسان بله نښه داده چې هرځومره يې علم زياتيږي په هماغه کچه يې تقوا ډېريږي، چې هېځکله له پېښه ښويېدنې، بد ژبی او د زړه له اوښتلو ځخه ځان خوندي نه ګڼي، هغه تل خپل نفس ځاري اوحساب ورسره کوي، لکه يو ځيرك مرغه چې له يوې ونې ځخه بلې او له بلې ځخه بلې ته د ښکاري له ښکار او د کارتوس د ويشتلوله ويرې اوړي راوړي . بله نښه يې دا ده چې دعمرله ډېرېدو سره سره يې حرص کميږي او دا باور يې پيدا کيږي، چې نور نو د ژوند

وروستي پړاو ته نژدې شوی دی، خپله ټاکلې موده یې پوره کړې او د مرګ په خنده ولاړ دی. بله نښه یې داده چې د شتمنۍ له ډېرېدوسره یې سخاوت هم زیاتیږي، ځکه هغه پوهیږي چې مال یوامانت دی او مال ورکوونکی یې ازمایي، د لګښت ځای پېژندل یې یوفرصت وي ،اومرګ انسان لره هروخت په کمین کې ناست وي . بله نښه یې داده، چې د دغه انسان مقام او درجه چې هرڅومره لوړیږي په هماغه اندازه خلکوته نژدې کیږي، اړتیا یې پوره کوي او له هغوی سره عاجزي کوي، ځکه انسانان په حقیقت کې د الله تعالی دودۍ خواره دي، اوالله پاک ته په ټولو انسانانو کې هغه شخص زیات ګران وي، څوك چې د الله(ﷻ) دودۍ خورو ته ګټه رسوي .

د بد مرغۍ نښې :

د بدمرغه انسان چې څومره علم زیاتیږي په هماغه اندازه یې کبراو غرورلوړیږي، چې له دې امله بیا د هغه علم بې ګټې، زړه یې مړ، طبعیت یې سخت، خوی یې تند او تریو وي، څومره یې چې عمل زیاتیږي په هماغه اندازه یې ویاړډېریږي اوخلکوته په سپکه سترګه ګوري، ځان ورته ښه ښکاري، داسې انګیري چې ګواکې یواځې همدی بریالی او پاتې نورخلك تباه دي. څومره یې چې عمر اوږدیږي په هماغه کچه یې حرص زیاتیږي، تل به د مال په راټولولوبوخت او ډېربخیل وي، پېښې اوغمیزې پرې هېڅ اغېزنه کوي، ستونزې او ناخوالې یې نه شی راویښولای، څومره یې چې مال ډېریږي هماغومره یې بخیلي زیاتیږي، زړه یې تل له نېکواو لوړوخویونوڅخه تش وي، ورغوی یې موټی اوراټول وي، په مخ کې یې د ښواخلاقونشتوالی ښکاري، څومره یې چې مقام او شان لوړیږي په هماغه کچه یې غرور ډېریږي، ویاړمن اومغرور وي، په پرسېدلې غاړه به غټې غټې خبرې کوي، کوږ ووږ به کیږي، ځان ته به یوڅوک وایي، خوپه پای کې دا انسان هېڅ شی نه وي . پیغمبر(ﷺ) وایي : (( کبرجن خلك به د آخرت په ورځ د وړو ذرو په شکل کې د حشرمیدان ته ټولیږي اوخلك به یې تر پښولاندې کوي دا ټول کارونه د الله(ﷻ) له خوا یو ازمېښت دی، چې خپل بنده ګان پرې ازمایي، د چا پایله نېکمرغه او دچا بدمرغه شي .

***

## کرامت ازمېښت دی

کرامت د پادشاهۍ، قدرت اومال په څېريو ازمېښت دی، الله(ﷻ) د سليمان (عليه الّسلام) وينا د"بلقيس" د تخت دليدلوپرمهال داسې بيانوي:﴿ دا زما د رب مهرباني ده ترڅوچې ما وازمايي، ايا زه شكر وباسم، كه نه؟

الله تعالیٰ پېرزوينه كوي چې وګوري چاپه ښه شان قبوله كړه، شكريې پر ځای كړ اوحق يې وساته بيا يې وروزله، چې په خپله اونورخلك يې هم له ګټې څخه برخمن شي، او ځيني خلک ورته د پام په سترګه نه ګوري، برباد يې كړي، د نعمت ناشكري وكړي اوبيا له همدغه نعمت څخه د وركوونكي رب سره په دښمنۍ كې ترېنه كاراخلي، نعمتونه د الله(ﷻ) يو ازمېښت دی، چې الله پاک پرې دشاكر شكراو د كافركفرڅرګندوی، لكه څرنګه چې تكليفونه د الله(ﷻ) ازمېښت دی، الله تعالٰی د نعمتونوله لارې انسانان داسې ازمايي لكه څرنګه يې چې په مصيبتونوكې ازمايي . ﴿ كله چې الله انسان په ازمېښت وازمايي، درنښت ورپه برخه كړي او نعمت وركړي، نو دغه انسان بيا داسې وايي : زما رب ماته عزت راكړ او كه الله (ﷻ) د رزق په كموالي وازمايلو، نوبيا وايي، زه خپل رب سپك كړم، هېڅكله داسې نه ده ﴾. الفجر ۸۹:۱۵-۱۶

(يعني داسې نه ده، هرچاته چې روزي اونعمتونه پراخه كړم، نوما به دهغه كس درنښت او وربانديې به مې پېرزو كړي وي، ياڅوک د روزۍ په تنګوالي وازمايم نومابه يې سپكاوی كړی وي ).

***

## تلپاتې خزانې

ببښكه چې د الله له خوا پرېمانه ذهني شتمني اوغوره وركړی په خپل ذات كې د دغو برخو د خاوندانوتلپاتې خزانې او د آخرت د سفرملګري دي، لكه : اسلام، ايمان، نېكي، ښېګڼه، پرهېزګاري، هجرت، جهاد، توبه ويستل او الله ته ورګرځېدل . الله (ﷻ) وايي : ﴿ نېكي يواځې دا نه ده چې تاسو خپل مخونه ختيځ او لوېديځ لورته واړوئ، بلكې نېكي د هغه چا ده چې پرالله، د آخرت په ورځ، پر پرېښتو، كتابونو او پيغمبرانوباندې يې ايمان راوړی وي او د زړه خوږ مال يې خپلوانو، پلارمړو، نېستمنو، لارويو، سوالګرو او د مريانوپه ازادولو كې وركړی وي، لمونځونه يې ټينګ كړي، زكاتونه يې وركړي د خپلو ژمنو پوره كوونكي او

د سختيو، کړاونو او جګړې پرمهال صبرکوونکي وي، هو! همدوی رېښتيني او همدوی له الله څخه وېرېدونکي خلك دي﴾. البقره ۲: ۱۷۷

***

## هغه همت چې له ثريا ستوروسره ډغرې وهي

کله چې بنده ته لوی همت ورپه برخه شي، نوهمدغه همت خپل خاوند په غوره لارو بيايي اولوړو پوړيوته يې خېژوي . دا هم د اسلام له غورو ټکلاروڅخه دي، چې په لوړهمت، شانداره مقصد، اوچت هدف اولوی مرام باندې ځان سينګارول دي . همت ستا په وجود کې د مثبت اومنفي مرکزحيثيت لري، چې په شتون يې ستا شخصيت مثبت اوپه نشتوالي يې منفي ګڼل کيږي، همت ستا د اندامونوڅارندوی دی، همت د اورلګيت او لمبې طاقت دی، هغه شی دی چې انسان پرې اوچتو منزلونو او درجوته ختلی شي، لوړهمت تاته د الله(ﷻ) په امر داسې خيردرپه برخه کوي، چې هېڅکله نه تمامېږي، چې ته پرې د کمال لوړو پوړيو ته وخېژې، همت ستاپه رګونوکې دشهامت-مېړانې- وينه په خوځښت راولي، د علم اوعمل په ډګر کې تا ودروي، دهمت په شتون کې به خلك تاهمېشه د خيرپه دروازو کې ګوري، ستا لاسونه به له ضروري کارونوپرته نورچاته نه اوږدېږي، له مشرانو او چارواکوسره د خيرپه کارونوکې له ځغاستي څخه کاراخله، له مشرانو اومخورو خلکوسره به د پام وړچارو کې ځغلې . په بې ارزښته کاربه هېڅکله نه قانع کيږې، د قطارپه پای کې به نه ودرېږې، لږڅه به نه قبلوې، نوپه همت سينګارېدل به له تاڅخه بې ارزښته هيلې اوکارونه له منځه يوسي، د سرتيټۍ، سپکاوي، چاپلوسۍ، غوړمالۍ ونه به درڅخه له بېخه وباسي . پردغوټولوسربېره همتناکه انسان د قوي زړه څښتن وي، ستونزمنې پېښې يې هېڅکله نه شي وېرولی، خوڅوک چې همت نه لري، هغه يوبې زړه او وېرېدونکی انسان وي چې خوله يې...... تړلې وي .

خوپام کوه چې د همت اوکبرپه منځ کې د وروونکي اسمان او زرغونې ځمکې په څېرڅرګند توپيرشته، ځکه چې د همت لوړوالی په اصل کې د انسان د زړه پرسرد ازادۍ غوښتنې يوښکلی تاج دی، چې تل به خپل څښتن د پاکۍ، سپېڅلتيا، پرمختګ اوښېګڼې خواته هڅوي، همتناکه انسان به همېشه دهغه ښېګڼو له امله چې ورڅخه تېرې شوې او يا يې له سرته رسولوڅخه بې برخې شوی وي لاس مروړي، د همت خاوند خپلې سپېڅلې موخې ته د رسېدلوپه هڅه اوهاند کې وي . سترهمت د پيغمبرانود وارثانو- علماوو- ګاڼه ده، خوکبرد

بدمرغۍ اوبې رحمۍ پر رنځ د ککړو انسانانوناروغي ده . نو لوړهمت تل خپل ځښتن لوړو پړاوونوته خېژوي اوکبرهمېشه خپل ځښتن دځمکي تل ته ښکته کوي . نوای د پوهې اوعلم غوښتونکیه! ته خپل ځان ته د لوړهمتۍ تګلاره وټاکه او له همت څخه په شا نه شي، ځکه چې شریعت په خپلو ډېرو احکاموکي د همت لورته اشاره کړې ده، ترڅو ستا ژوند په همت کې پټ ونغاړي او تا د تل له پاره ویښ او ځارن وساتي، د همت لور ته د اشاره کوونکو احکامولـه جملې څخه : د اوبود نشتوالي په حالت کي شريعت په احكامو ماموږشخص ته تيمم روا كړی، خو پردې يې ورته امر نه دې کړی چې له بل چاڅخه دې مالي مرسته د دې له پاره وغواړي چې د اودس له پاره پرې اوبه واخلي، مجبورځکه نه دی چې د بل چا ترمنت لاندې راځي، چې د غوښتونکي همت ته زيان رسوي او پردې مسئلې باندې د نورو احكامو قياس كوه .

یوشاعروایي : داسې همتونه چې لمر يې مينه غواړي او سپوږمۍ يې په خپله رڼا کې ټکي انځوروي . نو د الله په خاطرچې همت ته ځانګړې پاملرنه وکړه او د ژوند په ټولو چارو کې د همت توره وپرقوه . بل شاعروایي : همت ښه زيارډی چې کله کله يوه چينه په بلې چينې او ورځ په بلې ورځ باندې غوره کوي .

***

## د عقلونو لوست

هغه څه چې فكر پراخوي اونفس خوشحالوي هغه دهوښيارانواو ځيركو خلكوپه عقلونوكې فكركول او له علمي زېرموڅخه يې ګټه اخيستل دي، ځکه چې دا د هغه چا له پاره د تسلیت لامل ګرځي، څوك چې د هغو عقلمندو په ښکلواوځلاندو پلوشوکې لوستنه کوي، چې په هغه ډګرکې پيغمبر(ﷺ) چې د ټولوپوهانو او مخلوق سردار دی په دې اړه ورسره څوک نه شي پرتله كېدای، ځکه چې هغه د وحې پر اساس تاييد شوی، معجزې اوخارق العاده کارونه يې ربښتينولي څرګندوي، چې هغه له ښکاره نښو او ايتونوسره يوځای رالیږل شوی دی، نوښکاره ده چې دا د ټولوهوښيارانو د هوښياری او د اديبانو له پوهې څخه لوړاوسترډی .

***

## کله چې ناروغ شم، الله مې روغوي

"ابقراط" وايي : د زيان رسوونکي شي لږکارول د ګټورشي له ډېرو کارولو څخه غوره دی، همدارنګه زياتوی، چې د تنبلۍ په پرېښودو دايمي روغتيا خپله ملګرې کړئ او ګېډه موپه خوراك اوڅښاك مه ډکوئ .

ځينو پوهانوويلي دي : څوك چې روغتياغواړي، نوهغوی دې ډوډۍ ښه وژوي، په پاك شان اوځای دې خوراك کوي، هغه مهال دې اوبه څښي چې تږی شي، ډېرې اوبه دې نه څښي، د ماسختن له ډوډۍ نه وروسته دې لږ په پښو وګرځي، دشپې دې ترهغه مهاله نه ويده کيږی، ترڅوچې بيت الخلاء ته تللی نه وي، په مړه ګېډه دې غسل نه کوي، په اوړي کې يوځل حمام په ژمي کې له لسو ځلو ځان وينځلوڅخه غوره دی .

د "حارث" په نوم يوعالم وايي : د چا چې همېشه ژوند خوښ وي - حال دا چې دهېڅ چا له پاره تلپاتې ژوند نشته - نوهغه دې غرمه ناری او ماښام ناری وختي کوي، نرم لباس دې اغوندي او له مېرمنوسره دې کوروالی کم کوي .

"افلاطون" وايي : پنځه شيان بدن ويلي کوي، بلکې له منځه يې وړي : تنګلاسي، د دوستانوبېلتون، د غصې زغمل، د نصيحت نه منل ،هوښيارانو پسې د ناپوهانوخندا او ملنډې .

د "ابقراط" له هراړخيزو ويناووڅخه داهم ده، چې هرزيات شی د طبيعت دښمن دی .

له "جالينوس" څخه وپوښتل شول چې ته ولې نه ناروغيږې ؟ هغه وويل ځکه چې ماکله هم دوه بېکاره خواړه په معده کې نه دي يوځای کړي، نه مې يو خوراك د بل خوراك له پاسه ورننويستی دی او نه مې په خپله ګېډه کې داسې خواړه ايسارکړي چې زه يې په تکليف کړی يم .

څلورشيان چې بدن کمزوری کوي : ډېرې خبرې، ډېرخوب، زيات خوراك، ډېرکوروالی .

ډېرې خبرې ماغزه کمزوري کوي او انسان ژر زړوي، ډېر خوب مخ زيړوي، زړه ړندوی، د سترګو اوبه وچوي، انسان له کاره وباسي او نورې

سختې ناروغۍ زېږوي . له ښځې سره ډېرکوروالی بدن لړزوي، قوت کمزوری کوي، د بدن مایعات ـ اوبه ـ کموي، رګونه سستوي، د "سدد" ناروغي پیدا کوي او زیان یې ټول بدن اوپه ځانګړې توګه دماغ ته رسیږي .

څلورشیان چې بدن لړزوي : اندېښنه، خفګان، ولږه، بې خوبي .

څلورشیان چې زړه خوشحالوي: شنو بوټو، روانواوبو، زړه ته محبوب او مېوو ته کتل .

یوشاعر وایي : ماسختن مومخونوته وکتل، نوزموږ روحونه دهغو د ښکلا له امله چې موږ ولیدل روښانه شول .

څلورشیان چې سترګې کمزورې کوي : لوڅې پښې ګرځېدل، ډېرژړېدل، د نري لیك لوستل، سهار او ماښام د بړوس اوتروش انسان لیدل .

څلور شیان چې جسم قوي کوي : نرم لباس اغوستل، په هغه ځای کې ځان وینځل چې ټرمه هوا ولري ، د خوږو او غوړخوراك خوړل، ښه عطرکارول .

څلورشیان چې مخ وچوي، ښکلا او اوبه یې له منځه وړي : دروغ ویل، بې حیایي، د ناپوهۍ په حالت کې بې فایدې پوښتنې کول، ډېره بد اخلاقي .

څلورشیان چې د مخ اوبه اوښکلا زیاتوي : مېړانه، وفاء، درنښت او پرهېزګاري .

څلورشیان چې بغض او کرکه زېږوي : کبر، کینه، دروغ، دوه کسان په جنګ اچول .

څلور شیان چې روزي ډېروي : د شپې نفلي لمونځ کول، استغفرالله ویل خیرات کول، ګهیځ اوماښام ذکرکول .

شاعر وایي : شپې ته مي وویل، ای د پټو خبرو او رازونو څښتنې! ایا ستا په سینه کې کوم راز شته ؟ هغې وویل : په خپل ژوند کې مې د پېښنمي په وخت کې د دوستانود مرکې په څېربل پټ راز نه دی لیدلی .

څلور شیان چې د روزۍ مخه نیسي : له سهارلمانځه نه وروسته ویده کېدل، لږلمونځ کول، تنمبلي اوخیانت .

ځلورشیان چې پوهه اوذهن خرابوي:د میوو اوتروشو شیانو ډېر خوړل ، پېرمخ ویده کېدل، اندېښنه اوخفګان کول .

ځلورشیان حافظه اوپوهه قوي کوي : له دنیایي میني اوغم څخه زړه خالي کول، په خوراک څښاک باندې معده نه ډکول، په ښه ډول د خوړو اوښه خوراک تیارول، له بدن څخه د درنو او بېکاره موادو ویستل .

***

## پام کوئ !

هوښیارانسان چې کله د یوکارهوډ کوي، نو ورته په کاردي چې لومړی ځیرشي او ښه وګوري، څارنه، انتظاراو فکر دې وکړي، ځوځله دې خپل کاربیا بیا وګوري، د کارپایلې دې وسنجوي، له احتیاط او وېرې سره سره دې ټینګ فکر وکړي چې پښېمانه نه شي، کله چې یې له دغو پړاوونوڅخه وروسته کارته هوډ وکړ، نوکه کارهماغسې ترسره شولکه څرنګه یې چې خوښه وه، بیا دې د الله تعالٰی ستاینه وکړي، خپل نظر دې وستایي اوکه پایله یې منفي وه نوبیا دې ووایي، چې د الله تعالٰی همداسې پرېکړه وه او څرنګه یې چې خوښه وي هماغسې کار کوي، بیا دې راضي شي اوخفګان دې نه کوي .

***

## پوره څېړنه وکړئ

هوښیارانسان د ټینګ قدم او سم نظرڅښتن وي، کله چې ناوړه خبرونه پرې یرغل وکړي او کارونه ورته ستونزمن شي، نوله بیړې څخه کار نه اخلي، په ظاهري خبرو باور اوسمدلاسه پرېکړه نه کوي، کومه خبره یې چې اورېدلې وي د هغې ښه سپیناوی کوي، په مسئله کې له ځیرکتیا اوفکري نوخت څخه کاراخلي، له هوښیارانوسره پرې مشوره کوي، ځکه چې خمیره ـ پوخ ـ نظر له فطیرـخام- نظرڅخه غوره دی . پوهانوویلي چې : په عفوه ـ بخښنه ـ کې تېروتل د سزا ورکولوله تېروتنې څخه غوره دي . ﴿ ـ که خبره مو ونه څېړله ـ تاسوبه په خپلوکړنوپښېمانه شئ ﴾. الحجرات ۴۹:۶

***

## له ټینګ هوډ نه وروسته کارپیل کړه!

په دې کتاب کې چې زه کوم ایتونه، حدیثونه، شعرونه، دعبرت قېصې، د پوهانو ویناوې اودحکمت کومې خبرې لیکم دا ټول تاته بلنه درکوي، چې ته یونوی ژوند پیل کړې، داسې ژوند چې له ښوپایلو، نېکوهیلو، ښکلې خاتمې اوپایلوڅخه ډک وي، خو دا هم باید په پام کې ولرې چې ته دا ډول ژوندون ترهغې پورې نه شې ترلاسه کولای ترڅوته ریښتینی همت اوکلك هوډ ونه لرې، له غمونو، اندېښنو ستومانۍ او کړاوونوڅخه د ژغورنې له پاره درسره ټینګ شوق نه وي . یوعالم ته وویل شول چې، بنده باید څرنګه توبه وباسي؟ هغه ورته وویل ترهرڅه د مخه بایدکلك عزم ـ هوډـ ولري . له دې امله الله (ﷻ) اولوالعزم ـ د لوړو همتونو ـ پیغمبران دخپلوهمتونوپه بنسټ سره جلا اوځانګړي کړي دي .

﴿اى پیغمبره! ته هم دهغه پیغمبرانوپه څېرصبروکړه چې د لویو هوډونو خاوندان وو﴾. الاحقاف۴۶:۳۵

آدم (علیه السلام) په هغه ډله پغمبرانوکې نه دی، چې د کلک عزم خاوندان وو، ځکه چې هغه تېروتلی و، الله تعالٰی دهغه په اړه وایي : ﴿ خوخبره یې له یاد څخه وتلې وه اوموږپه کې کلك هوډ ونه موند، یعنې په قصد او کلکه اراده یې زموږ خبره نه وه ماته کړې﴾. طٰه ۲۰:۱۱۵

همدارنګه دهغه اولاده ده، لکه عربي شاعرچې وایی : د دوی هماغه طبیعت اوجوړښت دی، چې زه یې د دوی له پلار"اخزم" څخه پېژنم .

څوك چې له خپل پلارسره ورته والی ولري، نوله خپل پلارسره یې تېری نه دی کړی، خوکه په توبه ویستلوکې په پلارپسې نه ځي نوپه ګناه کولوکې هم د پلارپه لاره مه ځئ .

***

## موږ د دنیا له ژوند پرته بل ژوندون هم لرو

د آخرت نېکمرغي د دنیا په نېکمرغۍ پورې تړلی ده، اوعاقل انسان باید په دې پوه شي چې د دنیا ژوندون د آخرت په ژوندون پورې تړلی دی، او دواړه ژوندونونه په حقیقت کې یوژوند دی چې دوه نومونه لري، غیبي اوښکاره ژوند،

دنيا اوآخرت، نن اوسبا.. ځینې داسې انګیري چې یواځې د همدې دنیا ژوندون دی او بس، نو مال یې ټول کړی وي، هغه یې ساتلی وي، ژوندون ته لېواله اوځان یې په فاني ژوند پورې نښلولی وي، خوبیا په داسې حال کې مړشي چې غوښتنې، هیلې او کارونه یې همداسې په سینه کې پاتې شي .

شاعروايي : موږ شپه او ورځ د خپلو اړتیاوو د لاسته راوړلو له پاره تېروو، څوك چې ژوندی وي د هغه اړتیاوې نه ختمیږي، د انسان له مرګ سره د هغه غوښتنې هم مړې شي، خوترڅوچې ژوندی وي، نوحاجتونه به یې هم ورسره ژوندي وي، د سهار راتګ او دشپې تګ، کوچنی هلک یې ځوان او زوړ یې فنا کړ، کله چې شپې خپله ورځ زړه کړه، ورځخه وروسته بله ځوانه ورځ راشي .

زه خوخپل ځان اوهغوخلکوته چې زما شا اوخوا اوسیږي سخت هک پک یم، موږ څومره لرې ارزوګانې اوږده خوبونه اوخیالات، ستراميدونه، د پاتې کېدو حیرانوونکي هیلې او نیتونه لرو، حال دا چې که زموږ له ډلې څخه کوم یو مړ کیږي، نو له هغه سره په دې اړه څه سلا مشوره نه کیږي، نه خبرورکول کیږي او نه څه واک لري . ﴿ هېڅ نفس په دې نه پوهیږي چې سبا ته به څه کوي اوهېڅ نفس په دې نه پوهیږي چې په کومه ځمکه به مړ کیږي﴾. لقمان ۳۱:۳۴

زه غواړم تاته درې حقیقتونه مخې ته کېږدم : لومړی : ایا ستا په ګومان ته به ارام، هوسا او ډاډه شې، که ته دخپل رب پر پرېکړو، کړنو او برخلیکونو راضي نه شې او پرخپلې روزۍ، الٰهي ورکړواو هغوشیانو باندې چې ته یې لرې خوښ نه شې !؟

دویم : ایا تا د هغو نعمتونو، ښېګڼو او احسانونو شکر پرځای کړی، چې ستا په لاس کې شته، چې بیا ته د نوروغوښتنه وکړې !؟ ببشکه څوك چې د لږو شیانو له شکرڅخه ناتوانه شو، نوله ډېروڅخه خو په لومړی درجه پاتې کیږي .

دریېم : ولې موږ له هغو ذهني شتمنیو چې الله (ﷻ) موږ ته راکړي دي ګټه نه اخلو!؟ موږ بایدهغه شتمنۍ وروزو، په ښه توګه یې په کار واچوو، له هر ډول عیبونو او خرابیوڅخه یې پاك کړو، په خپل ژوند کې ترې د نورو د ګټې، ورکړې او اغېز له پاره کار واخلو .

زموږ په عقلونواوځانونو کې ډېرښکلي صفتونه اوښې الٰهي ورکړې شته خو زموږ په ډېروخلکو کې داسې پټ پراته دي، لکه قیمتي کانونه چې

ترخاورو لاندي پټ، ښخ او پوښل شوي دي . دغو کانونولا داسې غښتلی کان پېژندونکی نه دی موندلی، چې له خاوروڅخه یې راوباسي، هغه ووینځي اوپاک یې کړي، چې روښانه وځلیږي اوخپل ځای ته یې ورسوي .

***

## د خلاصون ترمهاله له ظلم څخه پټېدل یوبېړنی حل دی

ما د "المتوارين" په نوم کتاب چې"عبدالغني الازدي" ليکلی دی ولوسته، ډېردقيق اوزړه راښکونکی کتاب دی . دا کتاب دهغوخلکوپه اړه قېصه کوي، چې د "حجّاج بن يوسف" له وېرې پټ شوي وو، د کتاب له لوستلو وروسته ماته څرګنده شوه، چې په ژوند کې پراخي شته اوکله په شرکې هم دانسان له پاره د حل لاره پرته وي . ماته په دې اړوند د "ابيوردي" دوه بيتونه چې دخپلي پناه اخېستنې په اړه يی ويلي دي را په ياد شول چې وايي : زه له خپل ژوندڅخه دهغه د وزرونو ترسوري لاندې پټ شوم، په داسې حال کې چې ما وخت ليده او وخت زه نه ليدلم، که له ورځو نه زماپوښتنه وکړې، نوهغه نه پوهيږي اوکه پلټنه وکړې چې استوګنځی مې چېرته دی، نو وبه يې پېژني .

نامتوفصيح او رېښتينی ليکوال "ابوعمروبن العلاء" د خپلوکړاوونواو ستونزو په اړه چې د پټېدوپه وخت کې يې ګاللي دي وايي : زه "حجّاج بن يوسف" ووېرولم، نوبيا يمن ته وتښتېدم او په "صنعاء" کې مې يوکورته پناه يوړه . د شپې به د هغه کور بام ته ختلم او د ورځې به په کورکې دننه پټېدم، وايي چې يوه شپه د هغه کور د بام پر سرناست وم، ناڅاپه مې د يوه سړي له خولې څخه واورېدل، چې د شعرپه ژبه يې ويل، ډېرځله نفسونه له يوې ستونزې څخه وېريږي، په داسې حال کې چې دغوتې د پرانيستلوپه څېر له ستونزې څخه د خلاصون لار هم شته.

"ابوالعلاء" وايي : نوما وويل، خلاصون! سخت خوښ شوم، په دې وخت کې يوبل چا وويل ، حجّاج مړشوی دی،"ابوالعلاء" وايي، پرالله (ﷻ) مې دې قسم وي زه په دې وخت کې نه پوهېدم چې په دغو دوه خبروکې پرکومه يوه خوښي څرګنده کړم، د لومړي کس په خبره چې خلاصون راورسېد او که د دويم په خبرچې ويل يې، "حجّاج" مړشو! يواځينی هغه پرېکړه چې هرومروبه سرته رسيږي، هغه د اسمانونو اوځمکو له واکمن ذات سره ده چې : ﴿ الله هر وخت په بېل بېل شان د کارونوپه تدبيرکې دی﴾. الرّحمن ۲۹:۵۵

حسن بصري (رحمه الله) له حجّاج څخه ځان پټ کړی و، چې بیا د"حجاج " دمرگ خبر ورته ورسېده، له خبرسره سمدلاسه پاڅېد او د شکر سجده يې وکړه . سبحان الله ! چې د خپل مخلوق په منځ کې يې دا ډول توپير ابښی، چې د ځينو په مرگ باندې د شکرسجدې کيږي . ﴿ پرفرعونيانوباندې نه اسمان وژړل، نه ځمکې او نه هغوی ته څه وخت ورکړل شو﴾. الدّخان ۲۹:۴۴

حال داچې ځيني نورخلک شته چې دهغوی په مرگ کورونه ماتم کوي، ډېرې سترگې پرې د ژړا له امله ودرديږي او ډېر زړونه پرې خفه کيږي . نامتو تابعي ابراهيم النخعي له "حجّاج بن يوسف" څخه ځان چېرې گوښه اوپټ کړی، چې د"حجّاج "د مرگ خبر ورته ورسېد، نوهغه د زياتې خوشحالۍ له لاسه وژړل اوپه شعرکې وايي چې، پرما باندې خوشحالي راغله، زه د ډېرې خوشحالۍ له امله په ژړاشوم. بېشکه چې د ستر رحيم ذات په خوا کې د هغو خلکو له پاره چې هغوی له نوروڅخه په وېره کې قرارلري، ډاډمن اوخوندي پناځايونه شته، ځکه الله (ﷻ) داسې رب دی، چې گوري او اوري، ظالمان اومظلومان، زورور او کمزوري ټول گوري . ﴿ موږ تاسو يو دبل د ازمېښت له پاره گرځولي ياست، ايا تاسو زغم لرئ، اوستا رب ليدونکی دی﴾. الفرقان ۲۰:۲۵

په دې اړه ماته د "الحمرة " په نوم د يوې مرغۍ قيصه رایاده شوه، چې رسول الله (ﷺ) ته يوه ورځ ورغله اوپرسرمبارك يې ورته خپلې وزرې په داسې حال کې رپولې، چې (ﷺ) له خپلواصحابوسره د ونې لاندې ناست و، داسې ښکارېده چې هغې مرغۍ د حال په ژبه له هغه سري نه سرټکوه، چې له ځالې څخه يې بچي ورته اخيستي وو، نورسول الله (ﷺ) وويل : (( دا مرغۍ چاپه خپلو بچو باندې کړولې ده ؟ بچي يې ورته بېرته ورکړئ )).

په دې اړه شاعر وايي : تاته يوه کوتره د دې له پاره راغله چې ستا د ليدو لېواله وه، په داسې حال کې چې تاته يې په نري او لړزيدونکي زړه شکايت کاوه، دغې کوترې ته چا ويلي وو، چې ستاځای سپېڅلی او ته د وېرېدلي له پاره پناځای يی ؟

سعيد بن جبير(رحمه الله) په الله تعالی قسم يادوی او وايی ، زه له حجّاج څخه تېښتېدلی وم څه وخت پټ وم، تردې چې ماته له الله(ﷻ) څخه حيا اوشرم راغی بېرته حجّاج ته راوستل شوم، کله چې د حجّاج په امرد هغه پرسر توره راپورته شوه، نوسعيد بن جبير موسکی شو، "حجّاج" ورته وويل، ولې موسکی شوې؟ سعيد (رحمه الله) ورته وويل، ما چې په الله(ﷻ) باندې ستا جرات وليده او

ستا په اړه مې د الله تعالی زغم اوصبر ولیده نوهک پک  شوم، څکه موسکی شوم. لیکوال وایي دغه ډول سترو نفسونو ته او د الله تعالی پرژمنو باندې د دوی باور، د ښې لارې او پایلې په اړه د دوی ډاډ ته حیرانتیا ده، او ایمان باید همداسې وي .

***

## ستا ورکړه درګړه له لوی مهربان ذات سره ده

که دغه راتلونکي حدیث شریف ستاپام راوګرځوي، نوزما پام خویې رااړولی دی چې امام احمد، ابویعلي، بزّاراوطبراني(رحمهم الله) روایت کړی دی: (( یوبوډا سړی په داسې حال کې چې امسا یې لګوله پیغمبر(ﷺ) ته راغی ویې ویل: ای د الله رسوله ! ما ډېره ورانکاري او ګناهونه کړي، ایا ما ته به بخښنه وشي؟ رسول الله (ﷺ) ورته وویل : ته د دې ګواهي ورکوې چې له الله (ﷻ) څخه پرته بل څوك دعبادت وړنشته اومحمد (ﷺ) د الله استازی دی؟ هغه وویل، ای د الله رسوله!هو، رسول الله (ﷺ) ورته وویل، بېشکه الله تعالی تاته ستا ورانکاري او ګناهونه وبخښل هغه کس داسې روان شو چې دخوشحالی له امله یې : الله اکبر، الله اکبر زمزمه کول)).

له پورتني حدیث شریف څخه څومسئلې څرګندیږي : د سترمهربان ذات (ﷻ) د رحمت پراخوالی، بل دا چې د اسلام د سپېڅلي دین په منلوسره ټول هغه ګناهونه چې د کفرپه حالت کې ترسره شوي له منځه ځي، همدا راز توبه هم مخکیني ګناهونه رژوي او د علّام الغیوب رب د مغفرت ـ بخښنې ـ په مقابل کې د غرونوپه څېرګناهونه هېڅ شی نه دي، نوپه کارده چې ته پرخپل مولا(ﷻ) باندې ښه ګومان ولرې اود هغه ډېرې ورکړې اوپراخ رحمت ته هیله من اوسې .

***

## هغه دلایل چې تا  ښوهیلو ته رابولي

د "حسن الظن بالله" په نوم کتاب چې لیکوال یې"ابوالدنیا" دی، په شمار شمېرلي یوسل اویو پنځوس د قرآنکریم آیتونه اونبوي حدیثونه په کې دي، چې هغه ټول تاته د ښوهیلو درلودلو او د نااميدۍ پرېښودلو په لوربلنه درکوي اودرڅخه غواړي چې حُسن ظن ـ ښه ګومان ـ او نېک عمل ته دوام ورکړې . د کتاب له لوسلتو به درته روښانه شي، چې د وعد ـ د اجر، ثواب په اړه د الله

تعالٰی د ژمنو دلایل ـ د ـ وعید ـ د الله تعالٰی له عذاب څخه د وېرې په اړه ـ له دلایلوڅخه خورا زیات دي، یا دا چې د الله(ﷻ) د رحمت دلایل د هغه د تهدید- وېروني- له دلایلو څخه ډېردي، بېشکه الله(ﷻ) هرڅه ته ځانګړې اندازه ټاکلې ده .

***

## ټول ژوندون ستوماني ده

د دنیا خړپړتیا ته مه خفه کېږه ځکه چې دنیا همداسې پیداشوې ده . د دې ژوند بنسټ ستوماني اوکړاوونه دي، خوشحالي په کې یولنډ مهالی کاردی، اساني په کې یونادر- کم پیدا- شی دی، ستا دا ژوند خوښ دی او الله تعالٰی خپلو دوستانوته دا دنیا د قرارځای نه دی ګرځولی . که دنیا دابتلاء ـ ازمېښت ـ ځای نه وای، نو ناروغي، ستونزې او د پیغمبرانو اونېکوبنده ګانو ژوند به ستونزمن اوتنګ نه و، د بېلګي په توګه : آدم(علیه السّلام) له دنیا څخه د تللوتروخت پورې ستونزې وګاللې، نوح (علیه السّلام) باندې خپل قوم دروغ وویل، ملنډې یې هم پرې ووهلې، ابراهیم (علیه السّلام) اورته وغورځول شو،د خپل زوی مرۍ پرېکولوته یې غاړه کېښوده، یعقوب(علیه السّلام) دومره زیات وژړل چې په پای کې یې سترګې ړندې شوې، موسٰی(علیه السّلام) د فرعون له لاسه ډول ډول تېري وزغمل، د خپل قوم له خوا له زیاتو کړاوونوسره مخ شو اوعیسی(علیه السّلام) د بې کسۍ او بېوزلۍ ژوند تېرکړ. زموږ پیغمبرمحمد (ﷺ) له نېستۍ سره په صبرمقابله وکړه، دشهیدانوسردارحمزه(رضي الله عنه)چې دپیغمبر(ﷺ) تره اوپه ټولوخپلوانو کې ورته ګران و شهید شو، همدارنګه د پیغمبرۍ په لومړي پړاوکې قوم یې ورسره د کرکې او دښمنۍ لارونیوله، سربېره پر دوی نورو پیغمبرانواو د الله پاک دوستانو دا ډول ستونزې ګاللې، چې د ټولو یادونه ډېروخت ته اړتیا لري، که د دنیا د پیدایښت موخه خوندونه وي بیاخوبه مسلمانانوته هېڅ ډول تکلیفونه او ستونزې نه رسېدلې. رسول الله (ﷺ) وایي : (( دنیا مسلمان ته زندان اوکافر ته باغ دی)).

په دنیا کې ډېرنېك خلك په زندانونوکې اچول شوي او داسې دینپوهان چې دین یې پرځان عملي کړی وهغوی هم په ازمېښتونوازمایل شوي اود ډېرو سترو اولیآؤو اونېکانوژوند تریخ اوخړپړشوی دی .

***

## لـنـډه دمه

**زيد بن ثابت (رضي الله عنه) وابي چې رسول الله (ﷺ) فرمايی:**

((د چا ټوله اندېښنه چې د دنيا له پاره وي، الله (ﷻ) به يې کارګډوډ کړي نېستي به يې سترګوسترګوته کيږي، اوپه ازل کې چې ورته کومه برخه ليکل شوې وي هماغه به وررسيږي، اود چا فکر او اندېښنه چې يوائې د آخرت په اړه وي، نوالله تعالٰی به يې کارراټول کړي، زړه به يې غني او موړ کړي، او دنيا به ورته په ټيټ سر راروانه وي . عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) وايي چې له رسول الله (ﷺ) څخه مې اورېدلي دي : (( چا چې خپل ټول دنيايي فکرونه د آخرت په فکر بدل کړي، نوالله تعالٰی به يې دنيايي اندېښنو ته کافي شي، ستونزې به يې اسانه کړي، او پرچا باندې چې دنيايي اندېښنو وزرې وغوړولې، نو الله(ﷻ) يې هيڅ پروا نه کوي چې ددنيا په کومه کنده کې تباه کيږي )).

يوليکوال چې په "بغاء" مشهوردی وايي : د بې نظمو خلکو لار پرېږده او په صبرباندې پناه وغواړه، نو ته به خوشحاله شې، ځکه چې د ورځوتياري پرته له کوم دليله ملامتې وي، ورځې له موړ سره پرته له منلنې نېکي کوي، همدارنګه له کومې ستونزې پرته موږه ايساروي، د الله تعالٰی د فضل په راتلوکې له هرډول تيارو څخه ژغورنه اوبرياليتوب شته، په دې ډول چې له تنګلاسی نه وروسته پراخي او له غم نه وروسته خوشحالي وي .

***

## منځلاريتوب له تباهی څخه د ژغورنې لارده

پوره نېکمرغي په دريووشيانوټينګه ده : په غصه، شهوت اوعلم کې منځلاريتوب، يعنې انسان محتاج دی چې شهواني قوه يې معتدله او له خپلې اندازې څخه ډېره نه شي، که نه نو د سرکشی لارې ته به يې وباسي، چې پايله يې هلاکت ته رسيږي . د قهر اندازه يې هم بايد لوړه نه شي که نه نود نفس پرستی يا سرکشی ښکار به شي، چې همدا کار يې د هلاکت لامل ګرځي . پيغمبر(عليه السّلام) وايي (( غوره کارونه هغه دي چې په منځني حالت کې قرارولري )) .

نوکله چې دا دوه قوتونه شهوت اوغصه دعلم د لارښوونې په زور منځني حالت کې پيښ شي، نوبيا د هدايت نښه ده . همدارنګه غصه چې کله له

منځني حالت څخه واوړي، نوبیا دغه قهرجن انسان ته وهل او وژل اسانیږي، او که له منځني حالت څخه غصه کمه شي، نوبیا له دغه انسان څخه په دین او دنیا دواړو کي غیرت اومېړانه له منځه لاړه شي، خوکه په منځني حالت کې و، نو دا ډول قهر بیا د صبر، مېړانې او رازپوهنې په معنا دی . همدارنګه که شهوت ډېرشي بد اخلاقي ورڅخه جوړیږي اوکه له اندازې - منځني - حالت څخه لږشي، نوبیا د کمزورۍ او ناتوانۍ معنا لري، خو که په منځني حال کې وي د حیا، قناعت اودې ته ورته د نورو غورو کارونو معنا به ولري : (( تاسو بایدپه حج کې د قربانۍ له پاره برابر څاروی غوره کړئ )). الله(ﷻ) وایي : ﴿ په همدې توګه موږ تاسو یو منځلاری اُمت ګرځولی یاست﴾. البقره ۲:۱۴۳

***

## انسان د خپلوخویونو په ډېره برخه تلل کیږي

هغه وخت به نېکمرغه شې چې ښه صفتونه دې په بدوصفتونوډېرشي، چې په دې صورت کې به ته ستایل کیږې ان تردې چې په یوه داسې شي به ستایل کیږې، چې هغه به بیخي ستا په ځان کې نه وي اوخلك به ستا په شان کې یومنفي اړخ هم نه مني اګرکه هغه په تا کې وي هم، ځکه چې اوبه دوه قلو- چاتیو- ته ورسیږي نوهغه بیا نه پلیتیږي اوغرپه یوه تیږه نه غځیږی اونه کوچنی کیږي . ما د عربو د نامتوحلیـم "قیس بن عاصم" د برمکیانو دسخاوت او د اسلام د نامتو سپه سالار"قتیبه بن مسلم" په اړه هم لیکنې ولوستې، چې ډېرې بدې نیوکې پرې شوي دي، حال دا چې دهغوی په اړه دا ډول غندنې اوبدې ډنډورې په اسلامي تاریخ کې نه لیکل شوي، نه رانقل شوي او نه چا رېښتیا ګڼلي دي، ځکه چې دا ډول غندنې دهغوی د ښوکارونو په دریاب کې ډوبې شوي دي .

خو د پورتنیوستاینو پرضد مې د ځینونورو لکه "حجاج بن یوسف" ابومسلم خراساني اوحاکم بأمرالله العبیدي" په څېرخلکوستاینې لوستې دي، په داسې حال کې چې نه په تاریخ کې لیکل شوي، نه نقل شوي اونه یې څوك مني، ځکه چې دغه لږې ستاینې د هغوی د تېري، زور او غرور په غونډیو کې ورکې شوي دي، نو پاکي ده هغه رب ته چې د خپل مخلوق په منځ کې له عدل څخه کار اخلي .

***

## ته په خپله بڼه همداسې پیدا شوی یې !

**حدیث شریف دی چې: (( هر یود هغه کارله پاره اماده وي د کوم کار له پاره چې پیداشوی دی )) .**

**نود څه له پاره ددې کوښښ کیږي، چې استعدادونه ـ ذهني قوتونه او شتمني- له خپل اصلي محورڅخه وګرځي او ولې پرقابیلیتونواوځانګړتیاوو باندې تېرى وشي؟ بېشکه الله(ﷻ) چې کله د یوه شي اراده وکړي، نوبیا یې لارې هم برابروي اوپه دنیا کې به له هغه چاڅخه ډېربد زړه او د پرېوتي نفس خاوند بل څوك نه وي څوک چې خپل ځان بدلول غواړي، اود خپل طبیعت اوجوړښت پر ضد وي، خوهوښیاراو زیرك انسان هغه دی چې دخپل ځان څېړنه په خپله کوي، بیاخپلې هغه نیمګړتیاوي پوره کوي د کوموقابلیت چې لري، د بېلګې په توګه: که لښکري مهارت لري نوپه لښکرکې به کارکوي، اوکه د حراست -څارنې- قابلیت لري، نوبیابه په هماغه برخه کې کارکوي، لکه نامتونحوي عالم "سیبویه" چې د نحوې مشر اواستاذ ورته ویل کیږي، په لومړي پړاوکې یې د حدیثو د زده کړې هڅې وکړې، خوپه هغه ډګرکې ستومانه شو، ذهن اوقابلیت یې پاتې راغی، بیا یې د نحوې علم ته مخه کړه چې په دې برخه کې یې ډېرمهارت پیدا کړ او یو حیرانونکې پړاو ته په کې ورسېده .**

**یوعالم وایي : که یوڅوك داسې کارسرته رسول غواړي، چې د تخصص او وړتیاووڅخه یې نه وي، نو دا هغه چاته ته ورته دی چې غواړي په دمشق کې د خورما ونې نهال کړي یا د حجازپه ځمکه کې د ترنج بوټی وکري . حسّان بن ثابت (رضي الله عنه) چې د رسول الله(ﷺ) شاعر ورته ویل کېده په اذان کې تکړه نه و، ځکه چې هغه خو بلال(رضي الله عنه) نه و، خالد بن الولید(رضي الله عنه) میراث کې ماهر نه و، ځکه چې هغه خو زید بن ثابت(رضي الله عنه) نه و، د روزنې پوهان وایي : ته خپل ځان ته وړځای وټاکه! شاعر وایي : دجګړو- غزاګانو- له پاره خپل اتلان شته چې هغوی د همدې کارله پاره پیدا شوي دي، لکه څرنګه چې د کتابونود لیکنې له پاره ځانګړي مرزایان او شمېرونکي شته .**

***

## له پوهې سره تربیه اوپرهېزګاري ترلې ده

د لندن له راډیوڅخه مې د مصري لیکوال "نجیب محفوظ" د تېښتولو د هڅې خبر واورېد، دی هغه څوك دی چې د ادب په څانګه کې یې د نوبل جایزه ګټلې ده . د دې خبر له اورېدو سره سم زما ذهن ته دهغه ټول هغه کتابونه راغلل، چې ماپخوا لوستلي وو، نو زه دې پوه انسان ته حیران شوم چې ولې له پوهې سره سره له دې څخه ناخبره و، چې حقیقت له خیال څخه لوی اوتلپاتې ژوند له فاني ژوند څخه اوالٰـهي اسماني قانون له بشري قانون څخه ډېرلوړ دی. ﴿ اياهغه څوك چې د حق لاربښوونه کوي ډېر وړدی چې خبریې ومنل شي اوکه هغه څوك چې لاربښوونه نه شي منلی﴾. یونس۱۰:۳۵

نچوړدا، چې هغه خپل خیالونه په تارونو اوبدلي اولیکلي دي، په انځوریزه او ننداریې ته د وړاندې کولوپه برخه کې یې خپله قوي وړتیاپه کاراچولې خو د دغو تولوپایله بیاهم یوه راوځي اوهغه داچې د هغه لاسته راوړنې تشې خبرې اوپه حقانیت نه دي ولاړې . ما دهغه ژوند ولوست اوله هغه څخه مې یوه ستره مسئله لاس ته راوړه، هغه داچې نېکمرغي دې ته نه وایي چې ته دخپل راحت اونېمکرغئ په قیمت نورو ته نېکمرغي وروبخښې، دا به سمه نه وي چې ستاپه لاس دې نورخلك خوشحاله شي اوپه خپله په غمونو اواندېښنوکې اخته اوسې، د مثال په ډول ځینې لیکوالان ګوروچې د یوه نوښتګرستاینه به کوي اوپه دې به یې ستایي چې هغه خپل ځان سوزوي او نورو ته ژوند رڼا کوي، حال دا چې صحیح منل شوی تګلاره داده چې نوښتګر لکه څرنګه چې د نورو له پاره رڼاکوي، باید دخپل ځان له پاره هم رڼا وکړي، هغه باید خپل ځان په خیر، هدایت او پوهه ودان کړي، چې بیا د نورو خلکوزړونه هم ودان کړي . زه په ټینګارسره دا وایم چې ماخو آخرت او نوره غیبي نړۍ- لکه جنت او دوزخ- د نجیب محفوظ په کتابونوکې نه ده موندلې هو! ماچې دهغه په کتابونوکې موندلي،هغه یواځې خیال، انځور، زړه راښکل، دنیا اوشهرت دی، خو له دې څخه زیات مهم لکه حق، هدف، فکر او له الله تعالٰی سره د ایمان ژمنه دا چېرې دي!؟ ( دا ډول خبرې به یې په کتابونوکې ونه مومې ). زه په دې اند یم چې "نجیب محفوظ" هغه څه ته رسېدلی دی، چې دهغه غوښتنه اوهیله درلوده . ﴿ موږله هرې ډلې - دنیا پالواو آخرت خوښوونکو- سره مرسته کوواو ستا د رب ورکړه له هېڅ چا څخه نه ده ایساره شوې﴾. الاسرآء ۱۷:۲۰

خوانسان ته دا خبره ضروري نه ده هغه هدف ته ځان ورسوي، چې په

زړه کې یې وي، بلکې دا ورته په کاردي کومه غوښتنه چې الله ورڅخه لري هغې ته ځان ورسوي .

﴿ الله پاك غواړي تاسوته د پخوانیوقومونو تګلارې روښانه اود هغوی کړنې وښیي اوستاسوتوبه به قبوله کړي، الله پاك په هرڅه پوه اود حکمت څښتن دی، الله غواړي ستاسوتوبه قبوله کړي اوشهوت پالونکي غواړي چې تاسوهم په لویه کچه شهوت پرستۍ ته ورمات شئ ﴾. النّسآء ۴:۲۷

زه خو د هیڅ چا په اړه د جنت او دوزخ ګواهي نه ورکوم، خو دهغه چا په اړه چې شریعت په خپله دهغه په اړه ګواهي ورکړې وي، یا نورښکاره شرعي دلایل موجود وي، بیا نو البته. زه ـ لیکوال- وایم : زه په خپله د خلکوخبرو، کړنو او نښو ته ګورم : ﴿هرومرو به یې په خبرو اړولو راړلو کې وپېژنې﴾. محمد ۳۱:۴۷

کاشکې چې ټول خلك د اسلام سمه لار ومومي او د الله تعالٰی هغه جنت ته ننوځي چې دځمکواو اسمانونو په اندازه پلنوالی لري . وروسته له هغې به انسان ته دا څه ګټه ورسوي که هغه د کسرئ ټولواکي ترلاسه کړي او زړه یې باطل مات کړی وي، یا یې د قیصر واکمني ترلاسه کړې وي، په داسې حال کې چې هغه د خیرهیلې نه لري !؟ استعداد ـ ذهني قابلیت ـ چې کله د انسان د خلاصون لامل نه شي، نوګټه اومبوه به یې څه وي ؟

***

## ښکلی شه، چې چاپېریال درته ښایسته ښکاره شي

داهم زموږبشپړه نېکمرغي ده چې باید دسپېڅلي شریعت په چوکاټ کې د ژوند له ښکلاووڅخه خوند واخلو، نوځکه الله پاک ښکلي، ښکلي باغونه پیداکړي دي . ښېشکه چې الله(ﷻ) ښکلی دی اوښکلا خوښوي، نو تاته په کار دي چې د الله تعالٰی په دې ښایسته جوړښت کې د وحدانیت دلایل او نښې ووینې . ﴿ الله هغه ذات دی چې د ځمکې ټول شیان یې تاسوته پیدا کړي دي﴾. البقره ۲۹:۲

له ښکلی بوی، خوندورخوراک اوښایسته منظرسره سینه پراخیږي، او روح خوشحالیږي . ﴿ ای خلکو په ځمکه کې له پاکواو حلالوشیانوڅخه خوراک وکړئ﴾. البقره ۲۶۸:۲

پیغمبر(ﷺ) وایي :(( ستاسوله دنیا څخه عطر، ښځې اوپه لمانځه باندې دسترګویخوالی راته خوښ دی)). هغه تک تور اوتیاره زهد -وچه شیخي- چې پر موږباندې دځمکنیوډلو اوځانګړو طریقو له لوري را تپل شوی او زموږ د ډېرو خلکو د ژوند ښکلا يې خرابه کړې ده، دا ډول خلك خپل ټول ژوند د غم، خفګان، ولړې، بې خوبی او له خلکو څخه په ګوښیتوب کې تېروي . رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وایي : (( زه خو روژه هم نیسم او هم بوزه کېږم ، تهجد - د نیمې شپې لمونځ - هم کوم او نکاح هم کوم اوغوښه هم خورم، چا چې زما له تګلارې څخه مخ وګرځوه، نوهغه زما له ډلې څخه نه دی)).

که ته حیرانیږې نود حیرانتیا وړکارخوهغه دی، چې ځینې ډلې يې- د عبادت په ګومان کوي- څوك تازه خورما نه خوري، ځینې نور نه خاندي اوځینې داسې هم شته چې هغوی یخې اوبه نه څښي، دوی لکه چې په دې نه پوهیږي چې دغه ډول کړنې نفس ځورونه ده، اود نفس رڼا له منځه وړي ؟ ﴿ ای پیغمبره ووایه هغه الٰهي ښکلا چې الله خپلو بنده ګانوته پیدا کړې ده، نوچا دغه ښکلا او پاك رزق ناروا ګرځولی دی﴾. الاعراف ۷:۳۲

زموږ پیغمبر(ﷺ)عسل هم خوړل حال دا چې په دنیا کې ترټولوخلکوستر انسان همدا(ﷺ) و، ځکه چې الله تعالٰی عسل همدې له پاره پیداکړي دي چې وخوړل شي . ﴿ د شهدو د مچیو له ګېډوڅخه رنګارنګ شربت راوځي چې په هغې کې دخلکو له پاره درملنه ده﴾. النّحل۱۶: ۶۹

دارنګه پیغمبر(ﷺ) کونډې اوپېغلې مېرمنې هم په نکاح کړي دي : ﴿ تاسود خپلې خوښې دوه، دوه، درې، درې اوڅلور، څلورښځې په نکاح کړئ﴾.النّسآء ۴:۳

پیغمبر(ﷺ) په اخترونو او نورو مراسموکې ښایسته جامې هم اغوستې دي. ﴿خپله ښکلا او زینت هرلمانځه ته برابرکړئ ﴾. الاعراف۳۱:۷

لنډه دا چې رسول الله (ﷺ) به د روح اوجسد دواړوحقونه پرځای کول، د دنیا اوآخرت نېکمرغۍ ته به يې کارکوه، ځکه چې(ﷺ) په فطرتي دین او نظام سره رالیږل شوی و، په کوم فطرت سره چې الله(ﷻ) خپل ټول مخلوق پیدا کړی دی .

***

## زېرى دربانديږ چې خلاصون راروان دى!

زموږ د اوسنى زماني ځيني ليکوالان وايي چې : ستونزي که هرڅومره ستري اوغزېدلې وي، خوبيا هم د تل له پاره نه پاتې کيږي، بلکې څومره چې سختيږي، اوږديږي اوتوريږي، نوهمدومره د اسانى اوخلاصون لورته ورنژدې کيږي اوپراخ، روښانه، اسانه اوځلېدونکى ژوند ورڅخه راوځي، لکه څرنگه چې د هرې تورى شپې پايله سپين سهاروي، نو د الله تعالٰی مرسته اواحسان د سختی او ازمېښت په وروستي پړاو کې انغښتی وي .

ستونزه يوساعت وي وروسته بيابېخي له منځه ځي اوکله کله سفرکول هغه څوك خوښوي چې هغه په خپله مزل کوي ( له سفرسره اشنا وي ).

***

## له حسد کولوڅخه ستا شان لوړدى

ترټولونېکمرغه اوخوښ انسان هغه دى چې د آخرت هيله ولري، له خلکو سره په شتمنيو او نورو شيانو کينه نه کوي، بلکې د خير، نېکی اوښېگنی سترپيغام او لوړمثالونه ورسره وي، غواړي چې گټه يې نورو ته ورسيږي اوکه دا کاريې له توانه پوره نه وي نو لږ ترلږه خلکوته خو زيان نه رسوي .

ابن عباس (رضي الله عنهما) ته وگوره چې دعلم سمندر او د قرآنکريم په حقيقي معنا پوه و، په لوړواخلاقو، د نفس په سخا او د دينپوهنې په لاروکې د پراخومعلوماتوپه درلودلوسره وتوانېده، چې د بني اُميه او بني مروان قبيلو دښمنان د ځان دوستان کړي، همدارنگه خلکود هغه له پوهې څخه گټه پورته کړه، ټولنې او ټولنځيونه يې پخلپه فقه، ذکر، تفسيراوخيرسره ډك کړل، د"جمل" او"صفين" د جنگونو ورځې اوهغه پېښې چې له دغودوه پېښوڅخه مخکې يا وروسته وې هېرې کړى، او د اصلاح له پاره مخ په وړاندې ولاړ، په پرهارونو يې پټى ولگولې، نو پرهمدغه بنسټ خلکو ورسره زياته مينه کوله اوپه رېښتيا سره د محمدي اُمت لوى عالم شو .

بل صحابي عبدالله بن الزبير(رضي الله عنه)چې د قدر ورنسب، مېړانې، عبادت او لوړشان ښښتن و، په پورتنيوپېښوکې يې د جگړې لارغوره کړه اوله خپلې غوښتنې څخه تېرنه شو، پايله يې دا شوه چې له دين خيرونې څخه بوخت پاتې شو، نوزيات شمېرمسلمانان يې له لاسه ورکړل، بيا داسې جگړه پېښه شوه

چې د عبدالله بن الزبیر(رضي الله عنه) د کعبې ترخوا د اوسېدلو له امله کعبه په کې وویشل شوه او د ډېروخلکوسرونه غوځ شول، چې پای کې په خپله هم ووژل شو، بیا په دار وځړول شو . ﴿ د الله تعالی پرېکړه شوې ده ﴾. الاحزاب ۳۸:۳۳

له تېرې یادونې څخه مې د کومې ډلې د رتبې د ټیټېدو یا سپکاوی هدف نه و، بلکې دا یوه تاریخي څېړنه ده چې پندونه اوعبرتونه لري، نوځرګنده شوه چې نرمښت، مهرباني اوبخښنه داسې صفتونه دي چې ډېرلږشمېرخلک یې خپلولای شي، ځکه چې دا صفتونه انسان دې خبرې ته اړباسي چې خپل نفس وځپي اوخپلې ولولې اوغوښتنې قابوکړي .

***

**لنډه دمه**

رسول الله (ﷺ) وایي : (( د نعمت په حال کې الله (ﷻ) وپېژنه، چې تا د مصیبت یا غمیزې پرمهال وپېژني )) .

لیکوال وایي : (مطلب دا چې بنده کله د پراخۍ په حالت کې دالله (ﷻ) کرښې ترپښولاندې کړي نه وي ورڅخه وېرېده اود الله(ﷻ) حقوقوته یې پاملرنه کوله، نوپه ریښتیا سره یې الله(عزوجل) وپېژنده، دغه وخت کې د الله پاک اود همدغه بنده ترمنځ یوه ځانګړې پېژندګلوي ټینګه شي، چې له همدې امله یې الله تعالی بیا په ستونزه کې پېژني، اوهغه د سوکالۍ د وخت اړیکې ورسره پالي، له هرډول سختیوڅخه به یې ژغوري، دغه ځانګړې پېژندګلوي د دې لامل شي چې بنده د خپل رب محبت او نزدېوالی ترلاسه کړي اودعاء یې ومنل شي ).

لکه څرنګه چې ښایي بنده بایدهماغسې له صبراو زغم څخه کار واخلي، چې بیا ورته غمیزه یوه ورکړه، ازمېښت ورته بخشش او د الله له لوري ټاکل شوی ناخوښ کار ورته خوښ برېښي، په دې پوهېږي چې الله تعالی په ازمېښت او ستونزوکې په دې خاطر نه دی اچولی، چې هلاك یې کړي، بلکې په دې خاطریې اخته کړی چې صبر، زغم اوبنده ګي یې وتلي، ځکه چې الله پاک پرخپلوبنده ګانو باندې د سختیوپه وخت کې د داسې بنده ګۍ حق لري، لکه څرنګه یې چې د سوکالۍ پرمهال ورباندې لري، همدارنګه پربنده ګانوباندې په هغه وخت کې چې د هغوی خوښ نه وي د داسې عبادت حق لري، لکه څرنګه چې یې هغوی ته په خوښ اوګران وخت کې لري . ډېرخلك د الله تعالی بنده ګي یواځې د

خپلو خوښیو پرمهال لازمه ګڼي، حال دا چې په سختوحالتونوکې د الله عبادت ځانګړی شان لري، په دې ډول عبادت کې یو له بل سره د بنده ګانوتوپیرڅرګندیږي او د الله تعالیٰ په وړاندې د هغوی درجې په همدې بنسټ ټاکل کیږي .

***

## علم د هوساینې کیلي ده

علم او اساني دواړه یود بل ملګري دي، بلکې دوه سکه وروڼه دي، که غواړې چې په دې اړه پوره ډاډه شې، نوته کولی شې د شریعت د لویواوثابت قدموعلماوو ژوند ته ځیرشې، دهغوی ژوند ځومره ساده اوچلند ورسره څومره اسانه و، هغوی په اصلي هدف پوه او د دین تل ته ښکته شوي وو، په داسې حال کې چې ترټولود سخت اوستونزمن ژوند څښتنان به زاهدان او شیخان وي، د چا چې دعلم برخه کمه ده، د دوی مصیبت دا دی چې تشې جملې یې اورېدلي، خوپه معنا یې نه دي پوه شوي، مسئلې یې اورېدلي دي خوپه حقیقت یې نه دي پوه شوي د مثال په توګه د خوارجو ستونزه هم دا وه چې دهغوی علمي کچه ټیټه وه، له فهم اوپوهې څخه بې برخې، له حقیقتونوڅخه ناخبره او بنسټي موخو ته یې لاره نه وه موندلې، نو له همدې امله هغوی په دین کې سرسري شیان وساتل، خولوړې موخې یې له لاسه ورکړې اوځانونه یې په شکمن اولړزېدلي کارکې اخته کړل .

***

## اوښان خو داسې نه اوبه کیږي!

ما دوه نامتوکتابونه ولوستل، زما په اند په دغوکتابونو کې پرنېکمرغۍ او اسانۍ باندې سخت ګوزارشوی، حال داچې نېکمرغي اواساني داسې شیان دي چې د شریعت خاوند راللېږلي دي.

یو د امام غزالي کتاب"احیاءعلوم الدین"دی چې انسان لوږې، بربنډېدو زولنواودرندو بارونوته رابولي، حال داچې داهغه کارونه دي چې زموږ پیغمبر (ﷺ) له خلکوڅخه د دغو بارونود لرې کولو له پاره راغلی دی . دې کتاب داسې حدیثونه راټول کړي، چې هغه هغوڅارویوته ورته دي چې پاس له لوړې څخه لاندې ژورې ته د پرېوتو له امله مړه شوي وي، یا بل څاروي په ښکرڅیرلی

وي، يا نورو ځناورو ورڅخه د بدن څه برخه خوړلي وي . لنډه دا چې د دغوحديثونو ډېره برخه کمزوری يا موضوعي ده، په دروغوپه رسول الله (صلی الله عليه وسلم) پورې تړل شوي دي . له دې سره چې ليکوال په دغه ډول حديثونوداسي بنستونه جوړکړي دي، چې دهغه په ګومان بنده خپل رب ته درسپدلو له پاره ترتېولوسترې لارې ګڼي. ما "احياء علوم الدين" له صحيح البخاري اوصحيح مسلم سره پرتله کړ، نوڅرګند توپيرپه کې راڅرګند شو، ځکه چې "احياء علوم الدين" ټول د مخې سختي، تکليف او ځان ځورونه ده، اوبخاري اومسلم په اسانتيا اوبخښنې باندې جوړ او ولاړ دي، نوما ته د الله تعالی دا وينا را په زړه شوه چې وايي : ﴿ موږ به تاته د شريعت د اسانی توفيق درکړو﴾. الاعلیٰ ۸:۸۷

دويم کتاب "قوت القلوب" د ابوطالب المکي دی چې د دنيا د ژوند پرېښودلو، ورڅخه د مخ اړونې، دهڅو، زياراو دکسب مخ نيونه، تنګ ژوندون او د سختی په لارو روانېدو ته بلنه کوي . دواړو ليکوالانو: "ابوحامد الغزالي او ابوطالب المکي" د خيرپه موخه دا ليکنې کړي دي، خوپه خواشينی سره چې د حديثو اوسنتو په برخه کې دهغوی دواړو ونډه اوپانګه ډېره کمه ده، چې نيمګړتيا يې هم په همدې کې ده، نوځکه لاربنوونکي ته په کاردي، چې هغه په خپله اشنا لاره ښه بلد وي، اوپه بېلابېلولارو کوڅو کې بايد ښه اشنا وي .

﴿ نو (ورته ووايه) چې ښه رب پالوونکي شئ، ځکه چې تاسو نورو ته کتاب ورښيئ او په خپله يې هم لولئ﴾. آل عمران ۷۹:۳

***

## په خلکو کې د پراخې او سړې سينې خاوند

د خيرښوونکي محمد (ﷺ) ښکاره نښه دا وه، چې هغه د سړې سينې، خوښی اونېك فال خښتن و، ځکه چې هغه (ﷺ) زېری ورکوونکی و، له سختی او کرکې څخه يې خلك ايسارول، پيغمبر(ﷺ) هېڅ نا اميدي نه پېژنده، تل به يې په مخ باندې موسکا اوپه زړه به يې خوښي وه، په شريعت کې يې اساني اوپه سنتوکې يې اعتدال ـ منځلاري ـ اوپه دين کې يې نېکمرغي پرته وه، دهغه ستره دنده د الله تعالی له اړخه همدا وه، چې له خلکوڅخه هغه زولنې، طوقونه او درانده بارونه ښکته کړي، چې پرخلکوله پخوانيومنسوخو دينونوله وخته پراته وو .

***

## ګام په ګام

که څوك غواړي چې نوروته د دين د بلنې او وينا له لارې نېکمرغي ورسوي، نوهغه شخص ته په کاردي چې په مسئلوکې ګام په ګام اوپاټکی پرپاټکی پرمخ ولاړ شي، لومړی باید ډېرمهم، بیا ورپسې مهم اوپه همدغه ډول پړاو پر پړاو ګام واخلي . د دې خبرې ثبوت د رسول الله (ﷺ) هغه وصيت دی، چې معاذ بن جبل(رضي الله عنه) ته يې د استازيتوب په دنده يمن ته د لېږلوپرمهال کړی و.

(( تر ټولود مخه به هغه خلک دې ته راوبولې، چې د الله تعالی پر يووالي او زما پرپيغمبرۍ باندې ګواهي ورکړي)). څرګنده شوه چې په ټولو کارونو کې لومړی، دويم او درېيم ... پړاو شته، نو ولې موږخبرې په خبروکې ننباسواو ولې ټول موضوعات په يوځلي خلکوته وړاندې کوو! ﴿ کافران وايي ولې ورباندې دا قرآن ټول يوځل نازل نه شو؟ هو! موږ لږ لږ نازل کړچې ستا زړه پرې ښه کلك اوپوه کړو﴾. الفرقان ۲۵:۳۲

مسلمانان به په اسلام باندې هله نېکمرغه شي،چې کله هغوی د دين د لارښوونوپه اړه په زړه کې بشپړراحت پيدا کړي، او په روا او ناروا شيانوباندې پرپوهېدو اولاسته راوړنه کې د پوره اسانۍ شعور ولري، ځکه چې د اسلام دين په حقيقت کې د دې له پاره راغلی، چې خلك له نفسي لړزان، ذهني ګډوډۍ او هم له ټولنيزو بدو ناڅاپي ناخوالوڅخه وژغوري . په شريعت کې په ستونزمن او له توان څخه پورته کارباندې د انسان ګومارنه په غوڅه توګه سره منعه شوې ده . ﴿الله هېڅ نفس له خپل توان نه پورته په يوکارنه مجبورويي﴾. البقره ۲:۲۸۶

ځکه چې دا کارپه حقيقت کې سختي ده او شريعت د ستونزو او سختيو له پاره نه دی راغلی، بلکې د ستونزو د له منځه وړلو له پاره راغلی دی . که د رسول الله(ﷺ) کارنامو ته په ځېرسره وګورو، نوتګلاره يې دا وه چې کله به يوه صحابي ورڅخه لارښوونه وغوښته، نو(ﷺ) به ورته داسې لنډ حديث بيان کړچې هغه به د ښاراو باندو ټولوخلکو يادولی شو، او د هغو ارزښتناکو پندونو څرګنده ځانګړتيا دا وه، چې واقعيت او اسانۍ ته به په کې پام شوی و. دا به زموږ ستره تېروتنه وي که موږ اورېدونکو ته خپل ټول نصيحتونه، غوښتنې، لارښوونې ښه خويونه او اداب په يوځل وردالی کړو. ﴿ موږ قرآن تاته پړک په پړک رالېږلی، چې ته يې ښه په درنګ سره خلکوته واوروې اودا قرآن موږ رانازل کړی په نازلېدوسره﴾.الاسراء۱۷:۱۰۶

شاعر وايی : سعد اوښان د اوبوکولو له پاره يوړل او د اوبو ځای ته يې په يوځل کوزکړل، نوما ورته وويل ، ای سعده ! اوښان خو داسې نه اوبه کيږي .

***

## چې پر لږو باندې شکر نه کوي، نوپه ډېرو به يې څه وکړې؟

چا چې په يخوخوږو اوبو د الله(ﷻ) شکرپرځای نه کړ، نو په قيمتي ماڼيو، ښکلو موټرو، ګڼو او زړه راښکونکو باغونو به هم شکر ونه باسي، او څوك چې په ګرمه ډوډۍ د الله(ﷻ) شکرپرځای نه کړي، نو په ډکو د سترخوانونو، خوندورو خوراکونو باندې به هم شکر اداء نه کړي، ځکه چې د نا شکره او احسان هېروونکي انسان عادت وي، چې لږ او زيات يو برابرګڼي، په داسې حال کې چې ډېرو ناشکره انسانانو له خپل رب سره کلکې او ټينګې ژمنې کړي وي، که هغه پرې مهربانه شو احسان او لورېينه يې پرې وکړه، ډېرمال يې ورکړ، نو هرومرو به يې شکرپرځای کوي او خيرات به کوي .

﴿ اوځينې منافقانو له الله سره ژمنه کړې وه - ويل به يې- که الله پاك له خپل فضل څخه څه موږ ته څه راکړي نوهرومرو به ورڅخه خيراتونه کوو اود نېکوخلکوپه څېربه ځان جوړوو، خوکله چې الله پاك پرې پېرزو وکړه، نوبخيلان شول او له خپلو ژمنو څخه يې په بشپړډول مخ وګرځاوه ﴾. التّوبه ۹:۷۵-۷۶

موږ په خپل ورځني ژوندکې دا ډول خلك ډېروينوچې فکريې خراب، ذهن يې ګډوډ او ضمير يې مړاوی وي، پرخپل رب باندې له دې امله په قهر وي (العياذ بالله) چې ډېرمال او پراخه روزي يې نه ده ورکړې، حال دا چې هغه به د روغتيا، سلامتيا اوڅه ناڅه رزق په شتون کې ژوند کوي، وخت او ازادي دواړه يې په برخه دي، دی چې دخپل رب شکرپه داسې وخت کې پرځای نه کړې، که په ماڼيو، خزانو او کورونو کې بوخت شي نوبيا به کله د الله شکر پرځای کړي!؟ بلکې په هغه حالت کې به لا زيات له خپل پالونکي رب څخه سرکښه او باغي شي او له خپل بادار(ﷻ) څخه به نوره هم سرغړونه اوږده کړي .

شاعر وايي : د يارله کلي څخه د بېلتون له امله زړېږوي کوم، حال دا چې دا کلی لا زموږ له سترګوڅخه نه دی پناه شوی، که موږ له خپلودوستانوسره د يوې مياشتې په موده وړاندې مزل وکړوبيابه زموږڅه حال وي ؟

پښتې لوڅي خلک وايي که الله (ﷻ) بوټان راکړل، نوشکربه يې وباسم او ځوک چې بوټان لري هغه ترهغې شکرنه وباسي، چې موټرېې په برخه شوی نه وي، موږنعمتونه لاس په لاس غواړو،خوشکريې بيا په قرض ورکوو، زموږ غوښتنې له الله څخه په بيره وي او د الله(ﷻ) امرونه بيا په سړه سينه او دمه په دمه پرځای کوو .

***

## درې لوحې

يو هوښيارکس پرخپل دفترکې درې ارزښتناکه لوحې- تختې - ځړولې وې پرلومړۍ تخته ليکل شوي وو،چې همدا نن ورځ ستا ورځ ده، يعنې د همدې نن ورځ په چوکاټ کې ژوند وکړه! پردويمه لوحه باندې ليکل شوي وو،چې فکر کوه اوشکر وباسه! يعنې د الله تعالٰی په نعمتونوکې فکر وکړه او شکر د الله(ﷻ) په دربارکې پرځای کړه. پردرېيمه تخته ليکل شوي وو،چې غصه مه کوه! دا درې داسې ارزښتناك او سترنصيحتونه دي چې تاته د نېکمرغۍ تر ټولونژدې او اسانه لار درښايي، نو تاته په کاردي چې ته يې هم په خپله حافظه کې وليکې اوهره ورځ يې ولولې !

***

## لنډه دمه

کله چې خلاصون اوکړاو، اساني اوسختي يوله بل سره تړلي ياديږي ، نو په دې کې داسې نازک رازونه شته چې ستونزه کله ترينګلې اوغټه شي خپل ورستني پړاو ته ورسيږي اود مخلوق له اړخه د دې ستونزې له حل څخه بنده ناهيلی شي په دې وخت کې يې زړه الله(ﷻ) پورې ونښلي، چې په اصل کې الله (ﷻ) باندې د توکل حقيقت همدا دی . همدارنګه مؤمن بنده ته چې کله د ستونزې حل ځنډنی ښکاره شي، نودغه مهال بيا له نااميدۍ سره په داسې حالت کې مخامخ شي، چې الله(ﷻ) ته يې ډېرې دعاګانې او زارۍ کړي وي، خو د دعاء د قبلېدو هېڅ نښه ورته نه ښکاري، په دې حالت کې بياخپل ځان ملامتوي او ورته وايي چې ماته دا ستونزه له تاڅخه راپېښه شوې ده، که تا کې څه خيروی، نودعاء به مې هرومرو منل شوې وی، نودغه ډول ځان ملامتول الله تعالٰی ته له ډېروعبادتونو څخه غوره دی، ځکه چې دا کارپه انسان کې عاجزي پيداکوي

اودې ته يې اړباسي چې په دې خبره اقرار وکړي چې په دې ستونزه کې د پرېوتو وړتيا يې درلودله او د دعاء دقبلېدلو وړنه و، نوله دې امله بيا يې دعاء د قبلېدو اومشکل يې د پای پېراو ته نژدې شي .

نامتوزاهد "ابراهيم بن ادهم" وايي : موږ داسې ښه ژوندون لرو، که پادشاهان راباندې خبرشول نوهغوی به يې راڅخه د تورو په زور واخلي . ابن تيميه(رحمه الله) وايي : زما په زړه باندې د خوشحالی ځيني داسې شېبې هم تېرېږي، چې زه په خپل زړه کې وايم که جنتيان هم په دې حالت کې وي بياخود ډېرښه ژوندون څښتنان دي .

***

## ای خلکو ډاډه اوسئ !!

د "الفرج بعد الشدة" په نوم کتاب چې له ډېرشو ټوکونوڅخه هم ډېردی، په ټولو برخو کې يې موږ ته په دې خبره ټينګارشوی، چې همېشه له سختوتيارو څخه وروسته رڼا راځي، د ستونزو په وروستي پړاو کې هرومرو اسانې شته او انسان چې څومره غمجنېږي اوپه ناخوالوکې ډوبېږي په هماغه کچه د اسانۍ او بري لورته نژدې کيږي ." تنوخي" په خپل دغه اوږد او زړه راښکوونکي کتاب کې موږ ته دهغو خلکوپه اړه له دوه سووڅخه ډېرې د داسې خلکو قېصې کړي، چې په غميزوکې اخته شوي، بنديان شوي، يا له دندوڅخه ګوښه شوي، يا له کورونو اوهېوادونو څخه شړل شوي، يا ځورول شوي، يا په دورو وهل شوي، يا له نېستۍ سره مخ شوي دي او دې ته ورته نورکسان . په پای کې يې ددې يادونه کړې، چې له دغو ټولو ستونزوسره سره چې هغه خلك ورسره مخ شوي ووڅو ورځې لا تېرې نه وې چې د مرستې کاروانونه او د نېکمرغۍ ټولګي دهغوی ملاتړ ته په داسې وخت کې راورسېدل، چې هغوی نورناهيلي شوي وو."تنوخي" دغوغمځپلوته په يوه وينا کې وايي : تاسو ډاډه اوسئ چې د ستونزو په دې لار کې نورزيات خلك هم له تاسوڅخه وړاندې تللي دي . د شعر په ژبه وايي : له موږڅخه مخکې هم خلك په دې زمانه کې اوسېدلي اوهغوی هم د دنيا له اړخه هغه څه څکلي، چې موږڅکلي دي، کله کله يې شپې ورځې نېکي کوي، خوبياکله يې احسان خرپيرکړي . نوځرګنده شوه چې دا له تېرو زمانوڅخه راپاتې لار ده . ﴿ موږ تاسو په يوه شي سره ازمايو﴾. البقره ۲:۱۵۵

﴿موږازمايلي دي هغه خلك چې له دوی څخه مخکې تېرشوي دي﴾.القصص ۳:۲۸

دا یوه عادلانه قضیه ده چې الله تعالٰی خپل بندګان په ستونزوپه دې خاطر اخته کوي، چې له ګناهونوڅخه یې پاك کړي اود سختۍ له لارې ورڅخه هغه ډول بندګي غواړي، چې د پراخۍ په وخت کې یې ورڅخه غواړي، او پردوی باندې په ژوند کی حالات داسې بدلوي رابدلوي، لکه ورځ او شپه یې چې پرې جلا کړې ده نو، چې داسې ده بیا داقهر،غصه اونیوکه څه ګڼه رسوي؟

﴿ که موږپرې دا پرېکړه لازمه کړې وی، چې ځانونه ووژنئ یا له خپلوکورونو څخه ووځئ نو له لږوخلکو پرته به هېڅ چاهم دا کار نه وی کړی ﴾. النّسآء ۴:۶۶

شاعر وایي : که ته ماته ووایې چې د اور له لمبوڅخه چاپېره وګرځه، نو زه به ستا امرته هرکلی ووایم، ځکه چې ستاد سترګو په خاطرماته د اورسکروټې هم سره زرښکاري .

***

## ښېګڼه د بدو مخه نیسي

له ښایسته خبروڅخه یوه هم د ابوبکرالصدیق(رضي الله عنه) دا خبره ده چې: ( نېك کارونه انسان له بدمرغۍ څخه ژغوري). او دا یوه داسې خبره ده چې شریعت اوعقل دواړه پرې اقرارکوي . الله(ﷻ) وایي : ﴿که یونس علیه السلام له ستایونکوڅخه نه وی، نود قیامت تر ورځې پورې به دکب په خېټه کې پاتې شوی و ﴾. الصّآفات ۳۷:۱۴۳

خدیجه (رضي الله عنها) رسول الله (ﷺ) ته د نبوت په پیل کې داسې تسلي ورکوي : هېڅکله داسې نه ده! قسم پرالله تعالٰی چې هغه ذات به تا هېڅکله ونه شرموي، ځکه چې ته خپلوي پالې، له بېوزله او نېستمن سره مرسته کوی او د وخت په ناخوالو د اخته ووخلکو مرسته کوی .

نوته وګوره څرنګه هغې(رضي الله عنها) نېك اوښه اعمال د ښه پیل او پایلې له پاره دلیل وګرځاوه . دربو کتابونو"الوزراء" د صبابي، "المنتظم" د ابن الجوزي او"الفرج بعد الشدة" د تنوخي یوه قېصه را نقل کړې، چې "ابن الفرات" یو وزیر و، تل به یې نامتوزاهد "ابوجعفرابن بسطام" ځورولو اوهغه ته به یې کړاونه پیدا کول، یعنې ابوجعفر له ابن فرات څخه ډېرې ربړونې ولېدلې، خو د ابو جعفر مورهغه له کوچنیتوب څخه په یوخوی اموخته کړی و، چې د شپې له خوا د بالښت لاندې به یې یوه دانه وچه ډوډۍ کېښنوده، چې سهاربه شو

هغه به يې د زوی د سرخيرات کړه، وروسته له هغه چې ابوجعفرد "ابن الفرات" وزيرله اړخه ډېره موده تکليفونه وګالل، نو يوه ورځ د ضروري کارله پاره "ابن الفرات" ته ورغی، هغه ورته وويل، ايا ستا موراوس هم د وچې ډوډۍ هغه خيرات ورکوي، چې ستاپه خاطربه يې ورکوله؟ ابوجعفروويل، نه! وزير ورته وويل، ماته به رېښتيا وايې، نوابوجعفرارشوقېصه يې ورته وکړه او ويې ويل، چې دا هسې د ښځو د زړه غوښتنه اود ثواب په نيت يوکاردی."ابن الفرات" ورته وويل نه داسې مه کوه، زه چې پرون شپه ويده کېدم نوما تاته يوه دسيسه جوړه کړې وه، که هغه ترسره شوې وای، نوته به مې له منځه وړی وی، خوکله چې زه ويده شوم په خوب کې مې وليدل چې له ما سره په لاس کې له تيکي څخه راوتې توره وي، چې تا پرې ووهم، خوستامور زما مخې ته په داسې شکل سره ودرېده، چې په لاس کې يې يوه وچه ډوډۍ د ډال په توګه نيولې اوکوښښ يې کاوه، چې په هغې سره تا له ماڅخه وژغوري، نوله دې امله ما ونشوکړای تاته دروررسېږم، په همدې حالت کې وم، چې له خوبه راويښ شوم . نوابوجعفر د روغې جوړې په موخه وزيرابن الفرات ته دهغه د تېروکړنوګيله وکړه، چې د دوی ترمنځ پېښې شوې وې، نو پرهمدې بنسټ يې ورسره صلحه وکړه او وزير ته يې له خپل اړخه د اطاعت اومنلو ډاډ ورکړ، ان پردې هم بريالی شو، چې وزير يې راضي او بيا دواړه وروسته ملګري او دوستان شول، ابن الفرات هم ورته لوړه وکړه چې له دې څخه وروسته به ورته هېڅ ډول ستونزه نه رسوي .

***

## روڼ تندی د کار په پرمختيا کې مرسته کوي

په شريعت کې د دې له پاره پوره پراخي او اساني شته چې بنده وکړای شي خپل عبادت اونېك عمل ته دوام ورکړی، پيغمبر(ﷺ) به هم خندېده! ﴿ بېشکه هماغه الله دی چې خندول او ژړول کوي﴾ النّجم۵۳:۴۳

رسول(ﷺ) به داسې توکې کولې چې حق اورېښتيا به وې، له عائشه (رضي الله عنها) سره يې ځغاسته کړې اوخپلواصحابوته به يې په دمه دمه وعظ په دې خاطرکاوه، چې ستومانه او ستړي نه شي، له غيرطبيعي حرکتونو، ژورتګ او تېزۍ څخه يې خلک ايسارول، دا يې هم ويلي چې : (( هېڅوك به په دين کې له سختۍ څخه کار وانه اخلي، که يې واخلي نودين به پرې زورور وي )) . بل حديث داسې دی : (( بېشکه دين کلک اوټينګ دی نوتاسو په کې په نرمۍ روان شئ)).

(( بېشکه له بې علمه زاهد او عابد سره تريخوالی اوتېزي ملګرې وي.
په وچوالی او تېزۍ کې اخته کس به هېڅکله ونه شي کړای خپل تکلف-غيرطبيعي خوی - ته دوام ورکړي، هغه بـه مجبورېږي چې تکلف پرېږدي، ځکه چې هغه روان حالت ته کتلي، خو راتلونکی ببېرنی حالت، ناڅاپي پېښې د وخت اوږدوالی او د نفس ستوماني يې له پامه غورځولی وي، که نه نوهوښيارکس خوبايد په هر کارکي د تيتي کچې يوټاکلی حد ولري، چې له هغه څخه به هېڅ وخت خپل کارنه کموي، که تکره و نوکاربه يې ډېرشي اوکه کمزوری شونوهماغه ټاکلی کمه اندازه کارخوبه سرته رسوي او دا د هغه اثرمعنا ده چې له ځينواصحابوڅخه رانقل شوی ده. نفسونه پرمختګ او پرشاتګ لري، نو تاسو يې د پرمختګ پرمهال ګټه پورته کړئ او د شاتګ په وخت کې يې پرېږدئ . کوم خلك چې په عبادت اونفلونوکي له اندازې څخه اوړي، له تينګوالي څخه کار اخلي، نو داسې خلك مانه دي ليدلی چې ترپايه پورې هماغسې پاتې شوي وي، بلکې هرومرو هغه کار په نيمګړي حالت کې پرېښی او له لومړي وخت څخه هم وروسته پاتې شوی دی، د اسلام دين خوپه حقيقت کې د نېکمرغۍ په موخه راغلی دی . ﴿ دا قرآن موږ ددې له پاره پرتا نه دی نازل کړی چې ته بدمرغه شې﴾. طه ۲:۲۰

او الله تعالی هغه خلك غندلي، چاچې پر خپلوځانونوله توانه پورته کارونه لازم ګرځولي، خو وروسته بيا دعمل له ډګرڅخه وتلي اوهغه څه يې مات کړي، چې خپل ځانونه يې پرې مجبور او مکلف ګڼل.

﴿ رهبانيت يې له ځانه نوی جوړکړی و، موږ پرې د الله د خوښې له لټولو پرته بل څه نه وو لازم کړي، خو زموږ - فرضي احکاموته- يې ښه پاملرنه ونه کړه ﴾.الحديد۲۷:۵۷

د نورو دينونو پرتله د اسلامي شريعت ځانګړتيا دا ده، چې دا د فطرت او اعتدال دين دی، يعنې د تېري او کمي په منځ کې دی، د روح اوجسم ، د د نيا او آخرت له پاره دی، بېشکه چې هغه يو اسانه دين دی .

﴿ دا ســـم اونېـــــغ ديـــن دی ﴾. التوبه ۳۶:۹

***

## لنډه دمه

ابوسعید الخدري(رضي الله عنه) روایت کوي، چې یوباندېچي سړی رسول الله(ﷺ) ته راغی ورځخه یې وپوښتل : (( ای د الله رسوله! په خلکوکې ځوک غوره دی ؟ رسول الله (ﷺ) ورته وویل هغه مؤمن چې په خپل ځان اومال باندې د الله په لارکې جهاد کوي، بیاهغه ځوک چې د غرونوپه یوناوکې له خلکو ځخه ګوښه ناست او د خپل رب بنده ګي کوي . په بل روایت کې وایي چې : له الله ځخه وېرېږئ او له خلکو ځخه به په دې خاطر ګوښه شوي وي، چې له شرځخه یې خلک په امان کې وي )). امام بخاري له ابوسعید (رضي الله عنه)ځخه روایت کوي چې ما له پیغمبر(ﷺ) ځخه اورېدلي : (( هغه وخت نژدې دی چې دمسلمان ښه مال به رمه وي، چې د غرونو په ځوکو او باراني سیموکې به یې ځروي، ترځوچې خپل دین له فتنوځخه وژغوري )). عمر(رضي الله عنه) وایي، له ګوښه ناستې ځخه ځان مه بې برخې کوئ ! نامتو زاهد "جنید بغدادي" ځومره ښه وایي، د ګوښه ناستې سختي زغمل په یو ناستي کې له چاپېروسی ځخه اسانه ده . امام خطابي (رحمه الله) وایي، که له خلکوځخه په ګوښه ناسته کې بله هېڅ ګټه نه وي، نو دا به ډېره لویه ګټه وي چې له غیبت اوهغه بد کارځخه چې بندول یې د ده له توانه پوره نه وي خوندي پاتې شي. پورتنیوجملوته ورته هغه حدیث د یادونې وړ دی، چې"حاکم" په خپل کتاب کې له ابوذر(رضي الله عنه) ځخه په مرفوع توګه په حسن سند په دې ډول روایت کړی دی : (( ګوښه ناسته د بدکاره ملګري له ناستې ځخه غوره ده)).

امام خطابي (رحمه الله) په خپل کتاب "العزلة" کې یادونه کړې چې ګوښه ناسته اوله خلکوسره ګډون کول دخپلوحالاتوپربنسټ یوله بل سره توپیرلري، یعنې په شریعت کې چې کوم دلیلونه بنده د ټولنې لورته هڅوي، نو هغه دلیلونه په هغوحالاتوترل کیږي، چې دچارواکو په اطاعت اونورو دیني چاروپورې تړاو لري اوکوم دلایل چې بنده ځانته ناستې ته هڅوي هغه به دپورتنې حالت پرخلاف وي، یعنې که د امامانو- امیرانو- او د دین نوراحکام ترپښولاندې کېدل، نوبیاګوښه ناسته غوره ده . خطابي (رحمه الله) زیاتوي له خلکوسره د یوځای اوسېدو، ناستې ولاړې او یاد ګوښه کېدو تفصیل داسې دی، هرهغه ځوك چې په دې پوهیږي د خپل ژوند او دین چارې خوندي ساتلی شي، نوغوره خبره داده چې ځان د خلکوله ناستې ولاړې ځخه لرې وساتي، په دې شرط چې په جماعت سره لمونځ کول، خلکوته سلام اچول او د سلام ځواب ورکول ، د مسلمانانو نور حقونه لکه د ناروغ پوښتنه، په جنازه کې ګډون او

داسې نورو ته پام کولی شي، په کار دا ده له هغې بې معنا ناستې ولاړې څخه چې فکر اوذهن پرې هسې بوختیږي اود پام وړکارونو له سرته رسولوڅخه وخت هم خرابیږي ځان وژغوري، او له خلکوسره اختلاط ـ ګډون- ته دې په هغه اندازه وخت ورکړي، څومره چې انسان په شپه اوورځ کې خوراك او څښاك ته اړتیا لري، یعنې په هماغه کچه به قناعت کوي چې ورڅخه خلاصون نه وي، نوګوښه ژوند غوره کول د بدن او زړه دواړو له پاره د هوساینې لامل دی . (والله اعلم)

"قُشیري" په خپل کتاب "الرساله" کې وایي، د چا چې له خلکوڅخه ګوښه اوسېدل خوښیږي، نوغوره لار یې دا ده چې له ګوښیتوب څخه به یې موخه دا وي چې نورخلك یې له شرڅخه خوندي شي، نه دا چې د خلکوله شرڅخه په امان کې شي، ځکه چې لومړنی صورت داسې دی چې په هغه کې نفس وړوکی کیږي چې دا د خاکساری صفت دی او په دوهم حالت کې د نفس لویوالی ښکاري، چې پرنورو خلکوځان ورته ښه برېښي چې دا کبرجن اومغرورانه صفت دی . د ځانته ناستې په اړه خلك په درې برخووېشل شوي، چې دوه ډلې یو د بل پرخلاف او درېیمې ډلې منځنۍ لارغوره کړې ده .

لومړۍ ډله هغه خلک دي چې له خلکوڅخه یې ځان ګوښه کړی دی، تر دې پورې چې د جمعې اوپنځه وختو لمانځه، اخترونو اوپه نورو ښو او د خیرپه غونډو کې له ګډون څخه هم ډډه کوي چې دا ډله تېروتلې ده .

دوهمه ډله هغه خلک دي چې په پرېکنده ډول له خلکو سره ناسته ولاړه اوګډون غوره ګڼي ان تردې چې د ساعتېرۍ، مستۍ، بې ګټې کار او تاویلې ما ویلې، د وخت په ـ بېځایه ـ تېرولوکې هم خوښ وي، چې دا ډله هم د پورتنۍ ډلې په څېرتېروتلې ده .

درېیمه ډله، هغه څوک دي چې له خلکو سره په عباداتو اوهغو ټولنیزو کارونوکې ګډون کوي، چې له ګډون پرته نه ترسره کیږي او یا داسې غونډوکې ګډون کوي چې د ښېګڼې، تقوۍ، اجر، ثواب او د مرستې په موخه جوړې شوې وي او له هغوغونډوڅخه چې د دین د مخنیوي او له الله(ﷻ) څخه د مخ اړونې په موخه جوړې شوي وي، ورڅخه ډډه کوي چې همدا منځنۍ اوعادلانه ډله ده .

﴿ همدارنګه موږ تاسو یومنځلاری امت ګرځولی یاست ﴾. البقره ۲:۱۴۳

***

## لنډه دمه

له رسول الله (ﷺ) څخه عبادة بن الصامت (رضي الله عنه) روایت کوی چې، (( د الله په لارکې پرتاسوباندې جهادلازم دی، ځکه چې جهاد د جنت له دروازو څخه یوه دروازه ده، او الله(ﷻ) د جهاد له لارې خفګان او اندېښنه له منځه وړي )).

دا چې دغمونواواندېښنوپه مخنیوي کې جهاد پوره اغېزلري، نو دا د وجدان یوڅرګندحقیقت دی، ځکه چې نفس کله باطل او ناروا په خپل زور سره پرېږدي، نوغم، اندېښنه، پرېشاني او وېره یې زیاته شي، خوکله چې هغه له باطل سره د الله له پاره جهاد وکړي، نوالله (ﷻ) یې بیاغم او پرېشاني په خوښۍ، بېدارۍ او قوت باندې بدلوي .

الله(ﷻ) وایي: ﴿ له کافرانوسره وجنګېږئ چې الله پاك یې ستاسوپه لاسونوورېروي، رسوا یې کړي، تاسو پرې برلاسي او د مؤمنانو زړونهورباندې یخ اوتاو یې پرې وباسي ﴾. التوبه ۹: ۱۴

نو: د زړه د خفګان، پرېشانۍ اوغم د لرې کېدو له پاره له جهاد پرته بله ښه اوغوره لار نشته. یوشاعروایي : ببڅکه زه دخپلوسترګودواړه ګاتې په دردوونکو او بدو شیانوپټوم- تکلیف زغمم-، د صبرسپیني جامې اغوندم، خوکله چې یوکار راته ستونزمن شي، نوالله تعالی ته لاسونه پورته ونیسم لږ وخت لا تېر نه وي چې ستونزه مې هواره شي .

ډېر داسې ځوانان شته چې کله دهغوی پرمخ دخلاصون دروازې بندې شي، نوبیاالله (ﷻ) ته د دعاء له دروازې څخه لاره پیدا کوي .

***

## کائناتو ته په غورسره لیدل

د فکرد خوښۍ او راحت له لاروڅخه یوه دا ده، چې د الله(ﷻ) په حیرانوونکواوسترومخلوقاتو، لکه: ګلانو، ونو، غرونو، رغونو، غونډیو، ځمکه، اسمان، شپه ، ورځ، لمر او سپوږمۍ ته چې د الله (ﷻ) د قدرت اولویوالي نښې دي په ځیرسره وګورې، چې دالله (ﷻ) په مخلوق کې له ښکلا اوتازه ګۍ څخه خوند واخلې، نود لوی رب په وجود باندې به خوند اومحبت ستا ایمان، یقین،

تسليمي او اطاعت نورهم پسې ټينګ اوکلک کړي. ﴿ ای د سترګوخاوندانو- هوښيارانو- پند واخلئ ﴾. الحشر ۲:۵۹

يو فيلسوف چې ايمان يې راوړی دی وايي، زما به چې کله د الٰهی قدرت په اړه شك پيدا شو، نو د الله(ﷻ) د کائناتوکتاب ته به ځيرشوم، چې د هغه د بې مثاله قدرت اوحيرانونکي جوړښت ټکي ولولم، نوله دې سره به بيا زما ايمان نورهم قوي شو .

***

## استوارعقلمن ګامونه

امام شوکاني وايي، ماته يوعالم نصيحت وکړ، چې که په ورځ کې دوه کرښې ليکل کولی شې، نوتاليف يا ليکنه مه پرېږده، ما يې نصحيت ومنه اوپه ليکلو مې پيل وکړ، ما دهغه کارمېوه او ګټه په سترګوولیده او دا د هغه حديث معنا ده چې وايي : (( غوره کارهغه دی چې څوک يې همېشه کوي ان که لږهم وي )). عام خلک وايي، څاڅکي چې له څاڅکو سره يو ځای شي، نوسېلاب ترې جوړشي. شاعروايي : ته نه ګورې يوه رسۍ پريوه کلکه اوستره تيږه باندې د زيات وخت په تېرېدوسره هرومرو نښه جوړوي .

زموږ د تشويش سترلامل دا دی، چې موږ غواړو ټول شيان يو دم ترسره کړو، پرهمدې بنسټ موږ بې مينې اوستومانه شو، چې په نتيجه کې کارنيمګړی پرېږدو، که موږ دا کار لږ لږ ، پړاو پر پړاو سرته ورسوو، نولرې نه ده چې موږ به کاري پړاوونه په قراره توګه سرته ورسوو، چې ښکاره بېلګه يې لمونځ دی . شريعت پرموږباندې په پنځوجلا، جلا وختونوکي لمونځ فرض کړی، چې بنده ورسره په راحت اوخوشحالۍ کې وي اود زړه له کومې يې ترسره کړي، خو که ټول لمونځونه په يوه وخت وای، نوبيا هرومروبنده به په لمونځ کولوکې بې مينې اوستړی و، رسول الله(ﷺ) وايي: (( بېشکه بېړه کوونکی لاروی داسې وي چې نه پرخپلې سورلۍ - اوښ، اسپ - پام کوي اونه به هغه ځای ته ورسيږي چېرته چې روان وي)) . ( يعنې د حد څخه تيری کوونکی هدف ته نه رسيږي، اعتدال په کار دی ان که هغه په عبادت کې هم وي) ژباړن .

تجربوپه ډاګه کړې ده چې څوك خپل کارونه په څو پړاوونوکې ترسره کول وغواړي د هغه چا پرتله به يې ډېرژرخلاص کړي، چې خپل کارپه يوځلي

ټول خلاصول غواړي او بله دا چې د کارپه لور به یې ولوله اوجوش هم پرځای پاتې شي . ما له ځینو علماوو څخه ګټوره موضوع اورېدلې ده چې پنځه وخته لمونځونه د انسان مهالوېش د الله(ﷻ) د دې وینا پراساس برابروي چې: ﴿ بېشکه لمونځ پرمؤمنانوباندې په ټاکلووختونوکې فرض شوی دی ﴾ . النّسآء ۴ :۱۰۳

که انسان خپل دیني اودنیوي کارونه له هرلمانځه څخه وروسته ووېشي، نوهرومروبه په وخت کې پوره پراخي ومومي او زه تاته په دې اړه یومثال وړاندې کوم، که یو زده کوونکی خپل مهالوېش داسې برابرکړي چې له سهار لمانځه څخه وروسته د هر فن د حفظ له پاره ځانګړی کړي، له ماسپښین لمانځه څخه وروسته وخت د اسانه اوټولنیزلوست له پاره وټاکي، د مازدیګرلمانځه نه وروسته وخت د ژورې پوهنیزې څېړنې له پاره برابرکړي، د ماښام لمانځه نه وروسته وخت د دوستانو او ملګرو د لیدلو له پاره او د ماسختن لمانځه څخه وروسته وخت دعصري کتابونولوست، څېړنو، له خپلې کورنۍ او خپلوانوسره د ناستې له پاره ځانګړی کړي، نو د ابه ډېرغوره کار وي، هوښیارانسان ته له خپلې قلبي پوهې څخه مرسته او رڼا ور په برخه کېږي .

الله (ﷻ) وايي چې : ﴿ ای د ایمان خاوندانو! که تاسو له الله څخه ووېرېږئ نو الله به تاسو ته - د حق او باطل ترمنځ - توپیرکوونکې پوهه درپه برخه کړي، ستاسو واړه ګناهونه به ورژوي او تاسو ته به بخښنه وکړي، الله د لوی فضل څښتنن دی ﴾ . الانفال ۸ : ۲۹

***

## هیله کوم! له فکري ګډوډۍ څخه ډډه وکړه

هغه شی چې ذهن خړ او دانه وانه کوي، هغه فکري ګډوډي ده چې ځینې خلك پرې اخته دي، او په دې ګډوډۍ ځکه اخته شوي، چې خپل ذهني اوجسمي قابلیتونه یې نه دي ټاکلي اونه هغه اړخ ته ځیرشوي کوم اړخ یې چې فکر راټولوي پوهه خو ډېرې برخې اوبېلا بېلې لارې لري، نوپه کارده چې د معرفت پوره روښانه نښې او بېلابېلې لارې وټاکل شي او نظر یې په یوښکاره ګودرباندې راوڅرخوي، ځکه چې د معرفت ترلاسه کولو له پاره د یوې ځانګړې څانګې ټاکل لازمي کاردی . پور، مالي زیانونه اود ژوند لګښتونه هغه لاملونه دي، چې فکر دانه وانه کوي،غم او اندېښنه منځته راوړي، د موضوع په اړوند څو بنسټونه شته چې یادونه یې لازم ګڼم .

لومړی :څوك چې په مالي لګښتونوكي له منځلاری څخه كاراخلي، نو هغه به په راتلونكي كې له نېستی څخه خوندي وي ، همدارنګه هغه څوك چې مال په ښه توګه لګوي، له خپلې اړتیا څخه ډېرلګښت نه كوي، مال خوندي ساتي نود الله(ﷻ) مرسته به ورسره وي . ﴿ بېشكه څوک چې بېځایه مال مصرفوي هغوي د شیطانانو ورونه دي ﴾ . الاسراء ١٧: ٢٧

﴿ مؤمنان هغه كسان دي چې د مال په لګښت كې د تېري او بخیلۍ دواړو په منځ كې روان وي ﴾. الاسراء١٧ : ٢۶

دویم : له روا لاروڅخه مال ترلاسه كول او د هرې ناروا دندې پرېښودل په دې خاطر، چې الله تعالیٰ په خپله پاك دی، نوپاک خوښوي ، همداراز له ناروا لاروڅخه لاسه ته راغلي مال كې بركت نه اچوي . ﴿ كه د ناپاكودېروالی تا په تعجب كی پرېباسي ﴾. المآئده ۵ : ١٠٠

درېیم : له روا ځای څخه د حلال مال لاسته راوړلو له پاره هڅې، د بېكارۍ پرېښودل اوپه بېكاره او بې ارزښتو كارونوكې له وخت تېرولوڅخه ډډه كول شامل دي .

نامتو صحابي "عبدالرحمان ابن عوف" د هجرت پرمهال خپل انصاري ورور ته وایي : ماته د ښار لاره وښایه چې كاروكړم. ﴿ كله چې ـ دجمعی ـ لمونځ وشي، تاسوپه ځمكه كې خواره واره شئ، د الله فضل ـ روزي ـ ولټوئ اوالله ډېر یاد كړئ چې بریالي شئ ﴾ . الجمعه ۶٢:٩

***

## ستا ارزښت په ایمان او اخلاقو كې دی

یونېستمن سړی چې زړې اوپیوندي جامې یې پرتن وې ، په ګېډه وږی، پېښې لوڅې، بې نومه اوبې نشانه، بې منزله، بې تبره، بې كوره، بې سازه بې سامانه و تېرشو، د نوروعامو لارویانواوبو څښوونكوپه څېرپې له لویوډنډونوڅخه په لپه اوبه څښلې، په مسجد كې به ویده كېده، خپله څنګل یې بالښت او د خوړځمكه یې بستره وه، خو له دې سره سره هغه یوپرهېزګاره بنده و، خپل رب یې یادوه، قرآنكریم به یې تل لوسته، دلمانځه اوجهاد له لومړۍ كربښې څخه به نه پاتې كېده.

يوه ورځ د رسول الله(ﷺ) ترڅنګ تېرېده، نو(ﷺ) ورته په خپل نوم باندې غږ وکړ ای "جوليبيبه! واده نه کوې؟هغه ځواب ورکړ، ای د الله رسوله! ماته به څوك لورراکړي؟ زه خو نه مال لرم او نه شان ؟ بله ورځ يې بيا ترڅنګ تېرېده (ﷺ) ورته بياهماغه تېره خبره واوروله، جوليبيب هماغه پخوانی ځواب ورکړ، په درېيمه ورځ بياتېرېده چې هماغه لومړنی پوښتنه اوځواب تکرارشول، نو رسول الله (ﷺ) ورته وويل : ای جوليبيبه ! د فلاني انصاري کور ته ورشه او ورته ووايه چې رسول الله (ﷺ) دربانديې سلام وايي اوغواړي چې ته ما جوليبيب ته خپله لورپه نکاح راکړې! هغه انصاري له يوې درندې کورنۍ څخه و، جوليبيب ورغی د کور دروازه يې ورو ټکوله او د پيغمبر(ﷺ) پيغام يې ورته ورسوه، انصاري ورته وويل : په رسول الله (ﷺ) باندې دې سلام وي، خو ای جوليبيبه! زه خپله لورڅرنګه تاته په نکاح درکړم، ته نه مال لرې اونه شهرت. په دې وخت کې د انصاري مېرمن هم دغه خبر اوري حيرانيږي او له ځان سره وايي، جوليبيب ؟؟؟ هغه خونه مال او نه کوم ځانګړی شان لري، په دې وخت کې د انصاري مسلمانه لورد جوليبيب خبره اوري او د رسول الله(ﷺ) له پيغام څخه خبريږي، نو موراوپلارته وايي، ايا د رسول الله(ﷺ) غوښتنه هم ځوابوئ؟ نـــــه ! قسم پرهغه ذات چې زما نــفس د هغه په واك کې دی، هېڅکله نه شي کېدای! د رسول الله (ﷺ) غوښتنه به منل کيږی په پای کې د دواړو ترمنځ مبارکه نکاح وشوه، بيا دواړو ته الله(ﷻ) پاك نسل ورپه برخه کړ، او د داسې کورڅښتنان شول چې هغه د الله تعالٰی په وېره اوخوښئ باندې ودان و، څه وخت لا تېرنه وچې د جهاد له پاره غږوشو، نو"جوليبيب" هم غزا ته ولاړ، په خپل لاس يې په جګړه کې اووه کافران ووژل اوبياپه داسې حال کې شهيد شو، چې دخپل رب او پيغمبراوهغه هدف له پاره چې مرګ يې پرې قبول کړراضي ولاړ .

له غزا څخه وروسته رسول الله(ﷺ) د شهيدانو د نومونوپه اړه له اصحابو څخه پوښتنه کوي، د شهيدانونومونه د اصحابوياد وو، خو جُوليبيب ورڅخه هېر و، ځکه چې هغه شهرت نه درلود، خوپه ګڼه ګوڼه کې د رسول الله (ﷺ) جوليبيب په ياد و، نو ويې وويل جوليبيب لټوم! هماغه و چې جوليبيب يې په داسې حال کې وموند، چې په خاورو کې لت پت پروت و، رسول الله(صلی الله عليه وسلم) د هغه له مخ څخه خاورې وڅنډلې، ورته يې وويل : تا اووه کسان ووژل او بياته شهيد شوې، درې ځله يې داسې وويل، ته زما يې او زه ستايم . نو د جوليبيب (رضي الله عنه) له پاره د دنيا پرتله د رسول الله (ﷺ) له خوا دا ستره رتبه د تحفې اوجايزې په توګه کافي ده . ( نچوړ داچې ) بېشکه د جوليبيب ارزښت دهغه په ايمان، له پيغمبر(ﷺ) سره په مينه اوهغه موخه کې نغښتی و،

چې دهغې له امله شهيد شو، د هغه نېستي، نا اشنايي اود کورنۍ نشتوالی د دې لامل نه شول، چې هغه له داسې ستر وياړاولاس ته راوړنې څخه وروسته بې برخې کړي، بېشکه هغه په دنيا اوآخرت دواړوکې د شهادت، الٰـهي رضا، د الله تعالٰی په دربارکې د اعمالو د قبول اونېکمرغۍ لوړ پړاو ترلاسه کړ .

﴿ شهيدان په هغه څه خوښ دي چې الله پاك پرې پېرزوينه کړې او د هغو کسانوپه اړه زېرې اخلي چې ورڅخه وروسته پاتې او لا ورسره نه دي يوځای شوي، نه به وېرېږي اونه به غمجن شي ﴾. آل عمران ۳: ۱۶۹-۱۷۰

نوستا قيمت هم ستاپه ښوخويونواوښکلوصفتونو کې دی، ستا نېکمرغي د شيانوپه پېژندني، پوهې، پاملرنې اوپرمختګ کې پرته ده، نېستي، بېوزلي، نااشنايي دا يوهم په هېڅ وخت کې د پرمختګ اوموخې ته د رسېدوپه لارکې خنډ نه شي کېدلای، نونېکمرغي دې هغه چا ته دارو شي، چې خپل اصلي ارزښت يې په خپله وپېژنده اوهغه چا ته دې دارو شي چې د جهاد، لارښووني اوخيرکتيا له لارې يې خپل ځان خوشحاله کړ او هغه چاته دې داروشي چې دوه ځله يې ښېګڼه وکړه، په دواړو ژوندونونو کې يې ځان نېکمرغه کړ اوهغه چاته دې دارو وي چې دوه ځله په دنيا او آخرت کې بريالی شو.

***

## دوی څومره نېکمرغه دي !

### د ابوبکرصديق (رضي الله عنه) دنېکمرغۍ نښه دا ايت دی:

﴿ پرهېزګاره خلك به دېر ژر له اورڅخه ځان څنګ ته کړي، داسې څوک دي چې د ځان د پاکوالي له پاره خپل مال د الله په لارکې ورکوي﴾. اللّيل۱۷:۹۲-۱۸ دعمرفاروق (رضي الله عنه) د نېکمرغۍ نښه د رسول الله (ﷺ) دا وينا ده: (( ما په جنت کې يوه سپينه مانۍ وليده، ومې پوښتل دا مانۍ د چاده ؟ راته وويل شول چې دا دعمربن الخطاب ده)). دعثمان (رضي الله عنه) دنېکمرغۍ نښه ده چې ورته يې کړې ده (( يا الله ته عثمان ته مخکيني او وروستني ګناهونه وبخښې)). د علي (رضي الله عنه) د نېکمرغۍ وياړ د رسول الله (ﷺ) دا وينا ده :علي داسې سړی دی چې له الله اود هغه له پيغمبرسره مينه لري او الله او پيغمبريې له ده سره مينه لري)). د سعد بن معاذ(رضي الله عنه) نيکمرغي د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په دې ويناکې ده :درحمان عرش يې په مړينه ولړزېده. عبدالله بن

عمروالانصاري (رضي الله عنه) نېکمرغي د رسول الله (ﷺ) په دې وينا کې ده : الله تعالٰی ورسره له ژباړونکي پرته مخامخ خبرې کړي دي . د حنظله (رضي الله عنه) سترشرف د رسول الله(ﷺ) په دې وينا کې دی چې د رحمان رب پرېښتو ورته غسل ورکړی دی)) .

***

## دوی څومره بدمرغه دي !

فرعون: ﴿هرسهاراوماښام به دوی اورته وړاندې کېږي﴾. الغافر۴۰:۴۶

قارون : ﴿ له مال سره موهغه په ځمکه کې ننويسته﴾. القصص۸۱:۲۸

وليدبن المغيره:﴿ ژربه يې دعذاب لوړې پوړۍ ته وخېژوم﴾. المدثّر۷۴:۱۷

اُميه بن خلف : ﴿ تباهي ده هر غيبت ګر اوملنډې وهونکی ته﴾.الهمزه ۱۰۴:۱

ابولهب : ﴿ خپله ابولهب او دواړه لاسونه دې هلاك شي ﴾. المسد۱۱۱-۱

عاص بن وائل: ﴿ نه هېڅکله داسې نه ده، موږبه يې دېر ژرخبرې وليکو اوعذاب به لا ورته اوږد کړو﴾. مريم۱۹:۷۹

## لنډه دمه

له الٰهي توفيق څخه د انسان بې برخې کېدل اود فکرخرابي، د حق پټېدل او د زړه بربادي، د نوم ورکېدل اوهسې وخت تېرول، دخلکو له خوا کرکه، د الله تعالٰی او بنده په منځ کې نا اشنايي ، د دعاء نه قبلېدل، د زړه سختوالی، په عمر او روزۍ کې دبرکت نشتوالی، له علم څخه بې برخه کېدل، سپک ژوند، ددښمن له خوا سپکاوی، دسينې تنګوالی، هغه بدملګري چې د بنده زړه او وخت تباه کوي، همېشه انديښنه کول، د ژوندتنګوالی اود فکرخړوالی، دا ټول هغه شيان دي چې د ګناه او د الله (ﷻ) له يادولوڅخه دغفلت له امله منځته راځي ، لکه څرنګه چې کښت په اوبوشين کېږي اوسوزېدل په اورکېږي . خود پورتنيوکارونوپرضد کارونه د الله (ﷻ) د حکمونو په منلو کې منځته راځي . استغفرالله ويل د غم، انديښنې او زړه تنګوالي په لرې کولوکې پوره اغېزلري، خود ټولو پرګنو اود هراُمت د پوهانوپه منځ کې ګډه اومنل شوې خبره دا ده، چې بېشکه ګناهونه

اوفساد د پرېشانۍ، خفګان، خوف، غم، د سينه تنګۍ اود زړه د ناروغيوپه څېرد بدمرغيولامل ګرځي، ان تردې چې ګناهګارخلك كله له ګناه كولوخپل حاجتونه پوره كړي، نو زړونه يې ستړي شي، داسې انګېري چې د ګناه په تكرارولوكې به له خپلوسينوڅخه زړه تنګي، غم او اندېښنه وشړي . د دغه ډول بدكارو يومشرد شعرپه ژبه وايي : ډېرى وختونه داسې كيږي چې يوه پياله شراب د خوند له پاره وڅښم او بله پياله بيا د دې له پاره ښڅم چې له لومړنۍ پيالې څخه پيدا شوې ناروغي پرې درمل كړم . نوكله چې پرزړونو باندې دګناهونو اغېزدا ډول وي، نوبياخود توبې او بخښنې له غوښتلوپرته ناشونې ده .

***

## له مېرمنوسره له نرمۍ كار واخلئ !

﴿ له ښځو سره ښه ژوند وكړئ ﴾. النسآء ۴:۱۹

﴿ ستاسوپه منځ كې الله مينه اوخواخوږي پيدا كړې ده﴾. الرّوم ۳۰:۲۱

(( ښځوسره ښه سلوك كوئ، ځكه چې هغوي ستاسو ترادارې لاندې دي )). بل حديث دى : (( تاسوكې ښه شخص هغه څوک دى چې له خپلې مېرمنې سره ښه چلند كوي اوستاسوپرتله زه خپل اهل ته ښه يم )).

نېكمرغه كورهغه دى چې هغه په پرېمانه مينه باندې ودان وي، له پرهېزګارۍ اوالٰـهي رضا څخه په ډك محبت ولاړ وي . ﴿ ايا هغه څوك ډېرغوره دى چې دخپلې ودانۍ بنسټ يې له الله تعالىٰ څخه په وېره او دهغه دخوښۍ لاسته راوړلو په هيله ايښې وي، اوكه هغه څوك چې دخپلي ودانۍ بنسټ يې د يوې نړېدونكي كندې په څنده ايښى وي، چې په ناڅاپه ډول يې د جهنم اورته وغورځوي او الله پاك ظالم قوم ته لاره نه ښيي ﴾. التّوبه ۹:۱۰۹

***

## د ليدنې پرمهال نرۍ خندا

دا هم د نېكبختۍ نښه ده، چې د ليدنې په وخت كې ښځه اوخاوند يو بل ته موسكي شي، بېشكه دغه نرۍ خندا د روغې جوړې يوه پيلامه ده . رسول الله (ﷺ) وايي : (( د مسلمان په مخ كې ستا موسكا خنداهم يوه صدقه ده)).

رسول الله(ﷺ) خندېدونکی اوموسکی انسان و، او د خبرو پیل باید په سلام سره وشي . ﴿ پرخپلوځانونو د هغو برکتناکو اوپاکیزه تکو سلام ووایاست، چې د الله له لوري رالیږل شوی دی﴾. النّور ۲۴:۶۱

د ملګري سلام ویلوته باید ځواب ورکړل شي : ﴿ کله چې پرتاسو سلام واچول شي، نو تاسوهم له هغه نه ښه او یا ورته په هماغه ډول د سلام ځواب ورکړئ ﴾. النّسآء ۴:۸۶

شاعر"کثیر" وایي : ای اوښه ! مېرمن "عزه" پرتا سلام واچوه اوبیا بېرته وګرځېده، نو ای اوښه ته هم پرهغې باندې هماغسې سلام واچوه، کاشکې دا سلام یې ماته اچولی وی، نومابه یې مننه کړې وی، که هغې مېرمنې سلام د ـ ای اوښه ـ پرځای ماته ویلی وای چې ای سرېه پرتا دې سلام وي !

د ښه ملاقات یوه نښه دا ده چې کله کورته ننوزي، نوباید مسنونه دعاء ووایي : (( ای الله ! زه له تا ښځه دښه ننوتلواو ښو وتلوغوښتنه کوم، د الله په نامه دننه شو او راووتواوخاص په الله موتوکل کړی دی )).

اود کور د نېکمرغۍ بل لامل د مېرمنې اوخاوند ترمنځ نرمه لهجه کارول دي : ﴿ زما بنده ګانوته ای پیغمبره ووایه چې ښې خبرې وکړي ﴾. الاسراء۱۷:۵۳

یوشاعرد ښځې د خبرو د اغېز په اړه وایي، د ښځې خبرې روا کوډې دي، که دهغې خبرو د بېګناه مسلمان د وژنې جنایت نه ترسره کولای، خبرې یې داسې دي که اورېدې شي نوسړی نه ستومانه کوي، خوکه یې خبرې لنډې شي بیا خبرې اورېدونکی دا هیله لري چې کاشکې یې خپلې خبرې نه وی لنډې کړې . کاشکې چې مېره اوښځه دواړه یو د بل د خفګان، جذباتو، ولولو، د زخمي کولو او ځورولو خبرې پرېږدي، کاشکې دوی دواړه یو د بل ښه او ځلانده اړخ په یاد ولري، دوی یود بل کمزوری بشري اړخ هېرکړي، بېشکه چې کله سړی د خپلې مېرمنې ښه اړخونه په یاد کړي او له کمزورو اړخونوڅخه یې ډډه وکړي، نو مېرمن زیاته خوښېږي . په دې هکله پیغمبر(ﷺ) وایي : (( مسلمان سړی دې مسلمانه مېرمن بده نه ګڼي، که یې یوخوی بد ګڼي نوبل به یې خوښ شي .
یوشاعر وایي :هغه څوك دی چې هېڅکله یې بدي نه وي کړې اوهغه څوك دی چې یواځې د نېکۍ څښتن دی .؟ هغه به څوك وي چې د ښوکارونو توره یې نه وي پڅه شوي او یا به یې د ښوکارونو اسپ نه وي پرېوتی؟

﴿ که پرتاسود الله فضل نه وی، نوهېڅکله به له تاسوڅخه هېڅوک هم له ګناه څخه پاك شوی نه و﴾ . النّور۲۴:۲۱

د کورونوډېرې ستونزې کوچنۍ اوبې ارزښته خبرې وي، ماپه خپل ژوند کې په لسګونوداسې پېښې ژوندۍ ليدلي، چې په بېلتون سره پای ته رسېدلي وي او لامل به يې کوچنۍ اوساده کار وي، د بېلګي په ډول، کورپه ترتيب نه و، خواړه په ټاکلي وخت نه دي تيارشوي، ځينې وخت به مېرمن په خپل خاوند دا نيوکه کوي چې زيات مېلمانه راوالي او دې ته ورته نورلاملونه، چې کورونوته ماتم اواولاد ته بې پلارې منځته راوړي . موږته په کاردي چې پرخپل روان رېښتيني حال او کمزورۍ باندې اقرار وکړو، همدا وپېژنو، نه دا چې موږ خيالي اونمونه يي ژوند وکړو، چې د نړۍ د تينګو ارادو له خاوندانو پرته بل چا ته نه پيدا کيږي، موږخو بشر يو، غوسه، تيزي او تېروتنه راڅخه کيږي، کمزوري يو، موږ نورهېڅ توان نه لرو پرته له دې چې څېړنه وکړو، د کورنۍ اړيکې جوړې او د پياوړتيا له پاره يې د حل ښه لارپيدا کړو. که امام احمد بن حنبل (رحمه الله) ته ځيرشونوښايسته اخلاق اوله خپل تېرسره يې دښه سلوك اندازه له هغې وينا څخه ځرګنديږي چې د خپلې مېرمنې "ام عبدالله" له مړينې نه وروسته يې کړې ده، وايي چې ما له خپلې مېرمنې"ام عبدالله" سره څلوېښت کاله ژوند وکړ، خو زه ورسره په دې موده کې په يوه خبره هم نه يم وران شوی . مېړه ته په کاردي په هغه وخت کې چوپتياغوره کړي کله يې چې مېرمن په قهرشي، همدا رنګه مېرمن ته په کار دي چې کله خاوند په قهرشي چوپتيا غوره کړي، چې راپورته شوې جذبه اوغوسه کښېني، ولولې سړې شي او د نفس ټکانونه يې ارام شي . ابن الجوزي (رحمه الله) په "صيد الخاطر" کې وايي : کله چې ته په دې پوه شوې چې ملګری دې په غوسه شو او په ناجوړه خبرو يې پيل وکړ، نو تاته په کاردي چې د هغه په خبروخپل غوږونه کاڼه کړې، ځکه چې په دغه وخت کې يې حالت نېشه شوي کس ته ورته وي، هغه چې نه پوهيږي څه خبره روانه ده تاته په کارده چې د لږ وخت له پاره له صبراو زغم څخه کار واخلې، هېڅ پروا پرې ونه کړې، ځکه چې پرهغه باندې شيطان زورور شوی دی، مزاج يې خراب او عقل يې ورڅخه پټ شوی، که په دغه حالت کې تا ورباندې نيوکه وکړه اويا دې د هغې کړنې ته ورته ځواب ورکړ، نوپه دې وخت کې ته هغه روغ شخص ته ورته يې چې له لېوني سره لاس او ګرېوان وي، يا هغه بيدارکس ته ورته يې چې بې هوښه غندي، نو دلته غلطي ستا ده، بلکې د رحمت په سترګه ورته وګوره او دهغه کړنه الٰهي تقدير- برخليک - وګڼه او داسې يې وګڼه چې طبيعت ورباندې لوبې کوي، اوپه دې پوه شه چې کله دا

شخص بیدار شي، نوهرومرو به پرخپل مخکیني کارپښېمانتیا څرګنده کړي اوستا د صبراو زغم بهتري به وګوري، ستا له پاره ترټولو لنډه لاره دا ده چې په قهرشوی ملګری هغه حالت ته وګرځوې، چې هغه پرې قرارېږي. زوی ته په کاردي چې د پلارد غوسې پرمهال او مېرمن د خاوند د قهرپه وخت کې پورتنی حالت غوره کړي، ته هم هغه پرېږده چې خپل زړه پر خپله خبره یخ کړي، هېڅ پروا پرې مه کوه، ډېرژر به پښېمانه شي او تاته به عذر کوي، خوکه ته ورسره د مقابلې لار خپله کړې هرومرو به یې په زړه کې دښمني ځای ونیسي او له وېښېدو وروسته به درڅخه هغه بدله واخلي، چې تا ورسره د بې هوښۍ پرمهال ترسره کړې وه، ډېرخلك په دې لاره نه روانېږي، کله چې یو قهرجن ووینې نودوی دهغه د خبرو اوکړنوځواب ورکوي، په داسې حال کې چې دا کړنلاره له حکمت سره سمون نه خوري، بلکې حکمت هغه دی چې ما یې مخکې یادونه وکړه اوپه دې خبره یواځې پوهان پوهېږي .

***

## په قهرجنونفسونوکې دغچ اخیستنې مینه وژونکي زهر دي

په "المُصلبون في التاریخ " ( د تاریخ په اوږدو کې په دارځړول شوي خلك) کتاب کې دځینو زورورو اوظالمانوپه اړه حیرانوونکي داستانونه رانقل شوي، چې پرخپلودښمنانو یې سخت تېري کړي، بیا یې چې وژلي دي، نوپه دې کاریې هم زړونه یخ شوي نه دي او تاو یې هم نه دی سوړشوی، بلکې له وژلو وروسته یې په دارځړولي دي . د حیرانتیا وړخو دا ده چې په دارځړول شوی انسان له وژلو وروسته نه دردېږي اونه په زور او تېري پوهېږي، ځکه چې روح یې له بدن څخه جلا شوی وي، خوهغه ژوندی وژونکی انسان له خپلې کړنې څخه خوند اخلي، بېشکه هغه خلك چې خپلودښمنانوته له قهره خوټېږي، دغه ډول کسان به هېڅکله خوشحاله نه شي، ځکه چې غچ اخېستنه یو داسې اور دی چې له دښمنانو څخه د مخه په خپله د همدوی د تباهۍ لامل ګرځي . له دې نه هم زیاته د حیرانتیا وړ داده چې عباسي خلیفه ګان یو هم ونه توانېده چې خپل دښمنان "امویان" ووژني، ځکه چې د دوی دخلافت له دورې څخه ترمخه تېرشوي او مړه شوي وو، نود ځینوهډوکي یې له قبرونوڅخه راوویستل او په دورو یې ووهل، بیا یې په دار وځړول اوڅه وخت وروسته یې په اور وسېزل. غچ د دښمنۍ داسې سخت پاڅون دی چې د نفس ټولې خوښۍ، ښکلاوې او استقرار له منځه وړي، دغچ اخیستنې په هڅواوشوق کې دغچ اخیستونکي له پاره سترزیان وي، ځکه چې له امله یې خپل اعصاب، راحت، قراراو سکون له

لاسه ورکوي . شاعر وايي : دښمنان جاهل انسان ته دومره زيان نشي رسولای، لکه څومره يې چې جاهل انسان خپل ځان ته رسوي .

***

## لنډه دمه

پريوه انسان چې کله تېرى وشي، وځورول شي، غمازان يې پرې برلاسي شي، نوپه دې وخت کې ورته له رېښتينې توبې څخه بل هېڅ شی غوره او ګټورنشته. د دغه انسان د سعادت نښه به دا وي چې په دې وخت کې خپل ټول فکرخپل ځان، خپلوګناهونو، نيمګړتياوو ته متوجه کړي، ځان د هغوپه جوړولو بوخت کړي، توبه وباسي اوپه خپل زړه کې د دې ستونزې په اړه فکرته هېڅ وخت ورنه کړي، نوالله تعالٰی به يې هرومرومرسته، ساتنه اوژغورنه کوي او دا به هرومرو کيږي، ځکه دا څومره نېکمرغه انسان دی، څومره مبارك دی چې غميزه کې اخته شوی اوښه اغېزه يې پرې کړې ده، خوتوفيق اولارښوونه د الله په لاس کې ده، څه چې الله(ﷻ) ورکوي، د مخنيوي يې څوک نشته اوڅه شی چې نه ورکوي، نو د ورکولويې بل څوك نشته، د الله (ﷻ) له ارادې پرته هېڅوك د معرفت ارادې اوقدرت له مخې دا توان نه لري چې توفيق ترلاسه کړي . (( ولا حول ولاقوة الابالله العظيم )).

شاعر وايي : پاکي ده هغه ذات لره چې بخښنه کوي، حال داچې موږ تل تېروځو، الله تعالٰی پرهغه چاپېرزوينه کړې ده چې غلطي کوي، لويوالى او شان يې له دې څخه نه ايساروي چې د سهوې اوخطا له څښتن سره ښېګڼه ونه کړي .

***

## د بل چاپه شخصيت کې ځان مه ويلي کوه

پرانسان باندې درې پړاوونه تېرېږي، د تقليد پړاو، د انتخاب - ټاکنې- پړاو، د ابتکاريا نوښت پړاو .

تقليد: نورو پسې تګ ته تقليد وايي، د خلکوپيښنې کوي، د خلکو په څېر ځان جوړوي، خويونه اوصفتونه يې خپلوي، ځان په کې ويلي کوي او ننباسي، د دغه ډول کړنولامل دا دی، چې ډېروخت د خلکو تر اغېزلاندې راځي، ورته

**حيرانيږي يا سخت وريورې نښلي او ورماتيږي . دغه ډول قيمتي تقليد خولا ځيني خلک دې ته اړکړي، چې د نورو خلکو حرکات، ليدل، ځيرکېدل ځانګړی غږکول او داسې نورو تقليد او نخرې هم وکړي . په حقيقت کې د دغه ډول کړنوسرته رسول په ځمکه کې د خپل شخصيت ژوندي ښخول دي او دا يوه معنوي ځانوژنه ده . د دغو خلکو کړاوونو ته حيرانتيا ده چې دوی يې ګالي، دوی د خپلي تګلارې لوری سرچپه ټاکلی دی، دوی په حقيقت کې شاته روان دي !! له دوی څخه چاخپل اصلي اواز دبل چا دغږ له پاره پرېښی، چا د خپل تګ بڼه د بل چا د تګ د بڼې له پاره پرېښې ده او دې ته ورته نور داسې کارونه. کاشکې د دوی دغه تقليد په داسې ښوخويونوکې وی، چې ژوند ته ځانګړی ارزښت وربخښي، ژوند ته د علم، شرف، زغم او داسې نورو په څېر ښېلابېلې درجې ورپه برخه کوي، خو ددې پرځای چې دوی ګټورتقليد وکړي، ته به ورڅخه دخپلو هيلوسرچپه حالت وګورې، حيران به شې چې د حرفونو او مخرجونو په ادا کولو، د خبرو په طريقه، د لاس په خوځېدو، اشاره او داسې نورو بې ارزښته او وړو خبرو کې بوخت دي او تقليد کوي !! غواړم تاته پرخپله پخوانۍ خبره باندې ټينګاروکړم، دا چې ته ښېښکه يو جلا مخلوق او يوبېل شخصيت يی، ستا د کار لاره بايد د خپلو قابليتونو، صفتونو اوستا له ځانګړوخويونوسره سمه منځته راشي، ځکه له کومې ورځې راهيسې، چې الله (ﷻ) ادم (عليه السلام) پيداکړی دی ترنن ورځې پورې داسې پېښ شوي نه دي اونه به د ا خرت تر ورځې پېښ شي، چې دوه کسان دې يوله بل سره په شکل کې يورنګ وي ، داسې چې د يوه نفرڅېره دې د بل چا په شکل وليدل شي .**

**﴿ ستاسود ژبو او رنګونو جلاوالي اوبېلوالي کې د قدرت نښې شته﴾.** الرّوم ۳۰:۲۲

**موږ ولې غواړوچې پخپلو خويونو، قابليتونو او الٰهي راکړل شويو ځانګړتياوو کې له نورو سره يوشان شو!؟ ستا دغږ ښکلا به په دې کې وي چې هغه له نوروڅخه ځانګړی وي، ستا د وينا ښکلا به په دې کې وي چې هغه له نورو څخه بېله او توپيرولري . ﴿ په غرونوکې هم سپينې سرې اوتکې تورې لارې او ليکې شته، چې رنګونه يې سره جلا جلا دي ﴾.** فاطر ۳۵:۲۷

***

## ځورېدلي خلك د الله تعالیٰ د مهربانۍ په انتظارکې

هغه خطیب چې لوړغږ یې درلود، هغه مهال چې دحق د بیان په میدان کې یې الفاظ او ویناوې ځغلېدې له حق ویلوڅخه نه دی ګرځېدلی، بلکې په دې برخه کې په پوره همت، سرلوړۍ اوغوڅ ډول یې پرمختګ کړی دی، هغه د رسول الله (ﷺ) اود اسلام خطیب و. همدا درنښت یې بس دی، چې د پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) په مخ کې د اسلام د مرستې په موخه یې غږ اوچتوه، هغه "ثابت بن قیس بن شماس" (رضي الله عنه) و. کله چې الله (ﷻ) دا ایت نازل کړ: ﴿ ای مؤمنانو! د پیغمبرله غږ څخه خپل غږ مه لوړوئ ! او له هغه سره په لوړغږ خبرې مه کوئ، لکه څرنګه یې چې تاسو یوله بل سره کوئ، هسې نه چې ستاسو ټولې کړنې خرابې نه شي او تاسو به خبرهم نه یاست ﴾. الحجرات ۲:۴۹

نو ثابت بن قیس (رضي الله عنه) داسې وانګېرله چې ګواکې آیت د ده په هکله نازل شوی، نوله دې امله له خلکوڅخه ګوښه په خپل کورکې کېناست، شپه او ورځ به په ژړا و . یوه ورځ یې رسول الله (ﷺ) د حال پوښتنه وکړه اصحابو ورته حال بیان کړ، نو رسول الله (ﷺ) وویل:((هېڅکله داسې نه ده ـ لکه چې ثابت بن قیس ګومان کوي ـ بلکې هغه د جنتیانوله ډلې څخه دی)).

شاعر وایي : خوشحالۍ هغه پخوانی خفګان له منځه یوړ، غمجن انسان لا فریاد نه و کړی چې بېرته موسکی شو . د عائشه (رضي الله عنها) پوره یوه میاشت شپه او ورځ وژړل، تردې چې زړه چاودون او ان دې ته نژدې وه چې له منځه ولاړه شي، ځکه چې پرپاکه اوسپېڅلې ابرو یې تورلګېدلی و، نو وروسته له سترخفګان او کړاوڅخه ورته خلاصون اوخوښي په برخه شوه :

﴿ بېشکه هغه کسان چې پر ایمانداره، پاك لمنو او له ځانه بې خبره ښځوباندې تور لګوي، په دنیا او آخرت کې په لعنت ککړشوي دي ﴾. النّور ۲۳:۲۴

نو رسول الله(ﷺ) د دې زېرې له امله د الله تعالیٰ شکراوستاینه وکړه، لکه څرنګه چې پخوا وه هماغسې پاکه پاتې شوه اوټول مسلمانان پردی ستربریالیتوب باندې خوشحاله شول، اوهغه درې کسان چې د تبوك له غزا څخه پاتې شوي وو، ځمکه ورباندې له پراخوالي سره تکه سره او راتنګه شوې وه، زړونه یې هم تنګ شوي وو، یقین یې درلود چې له الله (ﷻ) پرته دوی ته بل پناه ځای نشته، نو د خپل څښتن (ﷻ) له اړخه ورته خلاصون په برخه شو اود اورېدونکي اونژدې ذات له خوا ورته مرسته ورسېده .

## هغه کارکوه چې ستا نفس يې مني

ابن تيميه (رحمه الله) وايي : ماته يوه ناروغي پيدا شوه، نوطبيب راته وويل، چې ستا مطالعه، علمي څېړنې اوخبرې ستا ناروغي نوره هم ډېروي، ما ورته وويل زه خوپه دې باره کې صبرنه شم کولی او زه به په دې اړوند تاخپل علم اوفن ته سپارم، نفس چې کله خوښ شي نو ايا طبيعت نه قوي کيږي؟ او په نتيجه کې د ناروغۍ مخنيوی نه کوي ؟ طبيب وويل هو! همداسې ده، نو ماورته وويل زما نفس خوپه علم سره خوشحاليږي چې طبيعت مې ورسره قوي کيږي، طبيب وويل دا نوبيا زموږ له پوهې او درملنې څخه وتلې خبره ده.: ﴿ دغه پېښنه دځان له پاره شر مه ګڼئ، هغه ستاسوله پاره خير دی﴾. النوّر ۲۴:۱۱

شاعر وايي : کېدای شي ستا دملامتئ پايلې ښې راووځي، ځکه ډېرځله داسې هم پېښيږي چې جسمونه په رنځونوسره روغيږي .

***

## موږ دنيا پالو اوعُقبا پالوته د مرستې لاس غزوو

موږځومره زيات اړ يوو، چې د تل له پاره پرکار بوخت شو، له وخت څخه ګټه واخلواوپه نېك او ګټورکارکې يوله بل سره سيالي اوځغاسته وکړو، ژر دی چې موږ به په هغه ورځ هرومرونېمکرغه شو په کومه ورځ چې موږ نورو ته کوم د خير او ګټې کار ورسوو، پوهه، خدمت، فرهنګ اوترقي موسرته ورسوله، موږبه هغه ورځ هم نېکمرغه شو په کومه ورځ چې موږ په دې وپوهيږو چې موږ دې دنيا ته بې موخې نه يو راغلي، بې معنا پيداشوي نه يو اونه موپه دنيا کې شتون هسې لوبې دي . په کومه ورځ چې ما د"خيرالدين زرکلي" ليکنه "الاعلام"ولوسته، ما په هغې کې د ختيځ او لوېديځ پوهانو، سياستوالو، اديبانو اوطبيبانوپېژند ګلوي ولوسته چې وتلې څېرې، اغېزمن اود بشپړوڅېړنوخاوندان وو.

د ټولو په کارناموکې مې د الله (ﷻ) هغه ثابته اونه بدلېدونکي لار، چې د خپل مخلوق په اړه يې لرې اوهغه ژمنه چې له خپلوبندګانوسره يې کړې ده وموندله، هغه دا چې هرچا څه نېکي اوښه کار د دنيا د شهرت، نوم، مال اوڅوکۍ په موخه وکړ، نوهغه ته به دنيايي مقصدپه لاس ورشي اوڅوك چې د آخرت له پاره ښه کاروکړي، هغه ته به په دنيا اوپه آخرت دواړو کې دعمل قبلېدل، الٰهي رضا، اجر او ګټه ورسيږي : ﴿ موږ دنيا پالي اوقيامت پالي دواړه پالو اوستا د رب ورکړه ـ ای پيغمبره ـ نه ايساريږي ﴾ الاسراء ۱۷:۲۰

په نوموړي کتاب کې مې دا هم وموندل، هغو نومياليوخلکو چې بشريت ته ګټې رسولي، خو د آخرت له پاره يې هېڅ کارنه دی کړی په ځانګړي ډول هغه خلك چې پرالله (ﷻ) اود هغه په ليدلوباوري نه دي، نوپه داسې حال کې مې وموندل چې د خپلوځانونوپرتله يې نوروخلکوته ډېره نېکمرغي وراړولې ده، د نورو روحونه يې دخپلو روحونو پرتله ډېرخوشحاله کړي دي، نوهمدا لامل دی چې له دوی څخه ځوک ځانوژني، څوک له خپل روان ژوند څخه ناخوښ او له قهره ډک وي، او ځيني نور د بدمرغی تنګ ژوند تېروي، نوما له خپل ځانه وپوښتل، چې په دې کې به څه ګټه وي چې زما له لاسه دې نورخلك نېکمرغه شي او زه دې په خپله بدمرغه اوسم، نوردې له ما څخه ګټه اخلي، خو زه دې په خپله بې برخې ګرځم !؟ يو شاعر وايي : ډېرخلك دې نېکمرغه کړل ، خو ته په خپله بد مرغه شوې اوډېر خلك دې وخندول، خو ته په خپله ژاړې . ما په دغه کتاب کې دا هم وموندل، چې الله (ﷻ) له دغو نومياليوڅخه هر يوه ته هغه څه ورکړي وو، چې غوښتل يې، ترڅوخپله ژمنه ترسره کړي، له دوی څخه ځينود نوبل جايزې وګټلې، ځکه چې همدا يې غوښتله اوهمدې ته يې هڅه کوله. ځينو نورو په صدارت کې شهرت ترلاسه کړ، ځکه چې همدې ته لېواله وو او څه خلکومال ترلاسه کړ، ځکه چې د مال مينه يې درلوده .

د الله (ﷻ) ځيني نېک بنده ګان شته چې د دنيا او آخرت د دواړو ښې بدلې او ثوابونه يې- انشآء الله - چې ګټلي دي . يواځې د الله (ﷻ) فضل اورضامندي غواړي . له سمو اومنل شوو بنسټونوڅخه يو بنسټ دا هم دی، چې يو د ناڅرګند نوم څښتن اوپه خپله تګلاره کې ډاډه انسان دهغه چاپرتله زيات نېکبخته دی، چې خورا نامتو اوپه همدغه مهال کې دخپلوغلطوبنسټونو او فکرونو له امله بدمرغه وي . دعربوپه ټاپووزمه کې د اوښانوڅروونکی مسلمان د خپل اسلام له امله له مشهورناول ليکونکي "تولوستوي" څخه زيات نېکمرغه اود ښه حال څښتن دی، ځکه چې اوښ څروونکی دخپل سرنوشت اوتلپاتې ژوند له استوګنې څخه پوره خبردی، نوژوند په ډاډ، خوښۍ اوقرار ی تېروي، خودا بل د شهرت لېواله همېش له مذبذبي شلېدلي ارادې او بې نظمه کوښښ سره ژوند تېروي، په داسې حال کې چې هغه نه په خپل مراد ښاد او نه له خپل مستقبل - راتلونکي- څخه خبرشو .

له مسلمانانوسره يوه ستره درملنه شته، چې هغه پرالـهي پرېکړه او برخليک باندې باور درلودل دي چې بشريت پېژندلې او لاس ته يې راوړې ده . ځينوپوهانو ان تردې پورې ويلي، چې هېڅ وخت به هغه کس په خپل ژوند کې نېکمرغه نه شي ،چې له الـهي پرېکړو او برخليکونوڅخه منکر وي، ما دغه د الـهي پرېکړو او وېش خبره باربار ياده او په څودولوعبارتونو کې وړاندې کړه او